اوسه، ځکه چې موږ پرتا باندې له تا څخه ډېر لوموړیتوب لرو . یعنې موږ ستا پرتله پرتا باندې خورا مهربانه یو .

***

## د خلکوکړنو ته زړه مه خوره

بېشکه خلک چا ته د ګټې او زیان رسولو، د مرګ او ژوند یا د بیا راژوندي کولو، یا د ښې او بدې د سزا ورکولو واك نه لري .

شاعروایي : څوک چې له خلکوڅخه ووېرېده، نوپه حقیقت کې هغه په اندېښنو مړشو او د ژوند په خوند هغه څوك بریالی شو، چې زړور اومېړنی وي .

"بشار" وایي : څوك چې له خلکوڅخه ووېرېده، نوهغه په خپله موخه کې ناکام شو، په پاکیزه شیانوهغه څوك بریالی شو، چې زړور او د شوق څښتن وي . "ابن الرومي" وایي : د کور او وطن له بېلتونه وروسته کېدای شي شپې هم موږ د دغه اشنا ځایونو ترسیوري لاندې راټول کړي، هو! بېشکه د ورځو له پاره له خړپړتیا وروسته هم د مهربانیو ډکې ولولې شته . ابراهیم ابن ادهم (رحمه الله) وایي : موږ داسې ښه ژوند لرو که پادشاهان پرموږ خبرشي، نوموږ سره به پرې په تورو وجنګیږي، یعنې دا ژوند به راڅخه واخلي .

شیخ الاسلام "ابن تیمیه" (رحمه الله) وایي : زماپه زړه کې ځینې وختونه داسې حال هم تېریږي، چې زه وایم، که جنتیان په همدغه حالت کې وي، نو بیا خوهغوی د ډېرښکلي ژوند څښتنان دي . هغه زیاتوي، بېشکه چې زړه، کله له داسې وختونو سره هم مخاخېږي، چې له خوښۍ اومستۍ نه ټوپونه وهي، او دا د الله تعالٰی د ذکراو له هغه سره د مینې له امله کیږي . "ابن تیمیه"(رحمه الله) چې کله زندان ته وردننه کړای شو او زندانچي ورپسې در بند کړ، نو (رحمه الله) دا ایت ولوست : ﴿ نوپه منځ کې به یې یو دیوال وي، چې له دروازې څخه دننه به یې رحمت او د باندې به یې عذاب وي ﴾. الحدید ۱۳:۵۷

هغه چې کله په زندان کې و، نو دا یې هم ویل ، د ښمنان به مې څه زیان راورسوي ؟ زما جنت او زما باغ، خو زماپه سینه کې دی، چېرته چې ځم هغه به راسره وي، مړینه مې شهادت، وطن څخه شړل مې سیاحت ـ چکرـ او بندي کېدل مې خلوت ـ ګوښېتوب ـ دی .

دينپوهان وايي : چا چې الله تعالىٰ ورك كړ، نو هېڅ يې ونه موندل او چا چې الله تعالىٰ وموند، نوهېڅ يې نه دي ورک کړي، او دا دواړه سره هېڅكله برابر نه دي، نو چا چې الله وموند په حقيقت كې يې هرڅه وموندل او چا چې الله ورك كړ، نو ببڅكه چې هرڅه يې ورك كړل .

رسول الله (ﷺ) وايي : دا چې زه (( سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله ا كبر)). ووايم، نو دا راته د دنيا پرمخ له هرڅه نه خواږه او غوره دي .

له پخوانيودينپوهانوڅخه يوتن د شتمنو خلكواو د هغوی د ماڼيو، كورونو اومالونو په اړه وايي، هغوي زموږ په شان خوري، څښي اوګوري، خو موږ سره حساب نه كيږي او له هغوی سره به حساب كيږي . شاعر وايي : د قبر لومړۍ شپه له انسان څخه د "خورنق" ماڼۍ او د كِسرى خزانې هېروي . الله (ﷻ) وايـي : ﴿ لكه څرنګه مې چې په لومړۍ ورځ پيدا كړي وئ هماغسې نن ماته بېرته لوڅ لغړ راغلئ ﴾ .الانعام ۶:۹۴

مؤمنان وايي :﴿ الله اوپيغمبر يې رېښتيا ويلي دي ﴾. الاحزاب ۳۳:۲۲

منافقان وايي : ﴿ الله او پيغمبر يې چې موږ سره كومه ژمنه كړې وه له چل پرته نورڅه نه وو ﴾. الاحزاب ۳۳:۱۲

ستا ژوند ستا له فكرونو څخه جوړ دی، نو هغه فكرونه چې ته يې په كار اچوې، په كې ځيركيږې او ژوند كوې، همدا فكرونه ستا پر ژوندون ښكاره اغېزه لري، كه هغه د نېكمرغی په اړه وي او كه د بدمرغی . يو دينپوه وايي : كه ته پېښې لوڅې يې، نوهغه چاته وګوره چې د هغه دواړه پښې پرې شوې دي، بيا له الله پاک څخه د خپلو دواړو پښود نعمت شكر وباسه. يو شـاعروايي : يوه وېروونكې او بده پېښه له پېښېدو نه وړاندې زما زړه نه وېروي، خوكه كله پېښه شي، نوبيا زه ورته خپله حوصله له لاسه نه وركوم .

***

## خلكو سره ښه كوه

د نېكمرغۍ يوه پراخه لار له خلكوسره ښېګڼه ده، صحيح حديث دی : (( الله (ﷻ) به خپل بنده ته د قيامت په ورځ د حساب پرمهال ووايي : ای بني ادمه! زه وږی شوی وم، خوتا ماته خواړه رانه كړل، بنده به ورته ووايي، ته

خود ټولو مخلوقاتو پالونکی یی ما به تاته څرنګه خواړه درکړي وای ؟ الله پاک به ورته ووايي، ایا ته پوه نه وې، چې زما فلانی بنده د فلاني بنده زوی وږی شوی و، خو تا ورته خواړه نه وو ورکړي، که تا هغه ته خوراک ورکړی وای، نو هرومرو به تا له ماسره د هغه اجرموندلی وی . ای د ادم زویه ! زه تږی شوی وم، خوتا ماته اوبه رانه کړې ! بنده به ورته ووايي، څرنګه به مې تاته اوبه درکړې وای، حال دا چې ته خو د ټولومخلوقاتو پالونکی یی؟ الله تعالیٰ به ورته ووايي : ایا ته خبرشوی نه وې، چې زما فلانی بنده د فلاني بنده زوی تږی شوی و، خو تا د څښلو له پاره څه نه وو ورکړي، خبرشه ! که تا هغه ته د څښلو څه ورکړي وای، نوتا به هغه له ما سره موندلي وای، ای د ادم زویه ! زه ناروغه شوی وم، خوتا زما پوښتنه ونه کړه، بنده به ورته ووايي، څرنګه به مې ستا پوښتنه کړې وای حال دا چې ته خو د ټولومخلوقاتوپالونکی یی؟ الله تعالیٰ به ورته ووايي، ایا ته پوه نه وې، چې زما فلانی بنده د فلاني بنده زوی ناروغ شوی و، خو تا یې پوښتنه نه وه کړې، خبرشه! که تا د هغه د ناروغۍ پوښتنه کړې وای، نوهرومروبه تا زه له هغه سره موندلی وای )). د حدیث په پای کې یوه باریکي شته اوهغه دا چې، الله تعالیٰ په دربیم ځل وویل، تا به زه له هغه سره موندلی وای اوپه مخکینیو کلمو کې یې داسې وویل چې تا به هغه اجرله ما سره موندلی وی، دا ځکه چې الله تعالیٰ له هرهغه چاسره وي، چې زړونه یې دردمن وي، لکه ناروغ . په بل حدیث کې ویل شوي : (( په هر ژوندي لړمون لرونکي - ساکښ - کې ثواب شته )). بل صحیح حدیث کې رانقل شوي، چې الله تعالیٰ د بني اسرائیلو یوه بدکاره ښځه جنت ته له دې امله دننه کړه، چې هغې یو تږي سپي ته اوبه ورکړی وې )).

نو د هغه چا به څه حال وي، چې نورو انسانانوته خوراك اوڅښاك ورکوي، د نوروستونزې هواروي او تکليفونه یې لرې کوي !؟ او پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) په دې حدیث کې ویلي، له چا سره چې له - خپلې اړتیا څخه - زیاته توښه وي، نوهغه دې داسې چاته ورکړي، چې هغه د سفرتوښه نه لري، او له چاسره چې له خپلې اړتیا څخه زیاته سپرلۍ وي، نو له هغه چاسره دې مرسته وکړي چې سپرلي نه لري .

"حاتم طایي" وايي : زه د خپلي اوښې قیضه د دې له پاره نه خوشې کوم، چې د نورو ملګرو له اوښو څخه مخکې اوبه ونه څښي اوکه ته یوه ځوانه اوښه لرې، نو ملګری دې مه پرېږ ده، چې ترشایې پیاده روان وي، اوښه دې چو کړه بیا دې ملګری پرې سپورکړه، که تاسو دواړه یې وړلای شوئ، نو دېره

ښه او که نه، نو بيا ورسره په وارسپرېږه . بيا بل ځای کې په خپلوڅوښکلوشعرونوکې خپل خادم ته وايي، چې ولاړ شي اومېلمه ورته پيداکړي، څراغ روښانه کړه، چې شپه ډېره يخه ده، اوکه کوم مېلمه راغی نوپه هغه مهال کې ته آزاد يې، بل ځای کې خپلې مېرمنې ته وايي، چې خواړه دې تيارکړل، نوبيا ورته يوخوړونکی هم پيدا کړه، ځکه چې زه يې يواځې نه خورم . خپلې ښځې ته وايې، ای " ماويه "! مال خو ځي او راځي، څه چې پاتې کيږي هغه ښې خبرې اوښه يادونه دي، نو ای"ماويه " ! مال به يوه ځوان ته په هغه وخت کې څه ګټه ورسوي، چې کله يې ساه ستوني ته راشي اوسينه پرې تنګه شي . بل ځای کې وايي : زموږ شتمنۍ موږ ته پرخپلوانوکوم وياړ نه دی زيات کړی اونه نېستۍ زموږ هډ - هډوکي - ته زيان رسولی دی .

"عروه بن حزام" وايي : ايا ته پرما له دې امله ملنډې وهې، چې ته چاغ شوی يې او زما پر مخ د حق ګونجې ګورې، نوحق خو له ستونزوسره وي، زه مې د خپل جسم خواړه پرنوروجسمونو وېشم او زه يخې اوبه څښم .

" عبدالله ابن المبارك " (رحمه الله) يو يهودی ګاونډی درلود، نو هغه به له خپل اولاد څخه مخکې هغه يهودي ته خوراك اوجامه ورکوله، چا يهودي ته وويل، دا کوردې راوپلوره، هغه ورته وويل، کور مې په دوه زره ديناره دی، زر ديناره يې قيمت او زر يې د " ابن المبارك " ګاونډيتوب دی، نو" ابن المبارك " له دې خبرې خبرشو دعاء يې وکړه، چې ای الله ته يې مسلمان کړې، هماغه و، چې مسلمان شو . همدا " ابن المبارك " يوکال له کاروان سره د حج په نيت روان شو، په لاره کې يې يوه ښځه وليده، چې يو مړکارغه يې له ډېران څخه راواخيست، ابن المبارك په هغې پسې خپل خادم ولېږه، بيا يې له هغې ښځې څخه پوښتنه وکړه چې دا ولې؟ ښځې ورته وويل، له درېيو ورځو راهيسې يواځې له همدغه کارغه پرته چې اچول کيږي موږهېڅ نه لرو، د" ابن المبارك "سترګې له اوښکوڅخه ډکې شوې، امر يې وکړ چې ټول بار کاروان دې په همدې قريه کې ووېشل شي، په خپله ببرته ستون شو اوپه هغه کال له حج څخه پاتې شو، نوخوب يې وليد، چې يو کس ورته وايي، حج دې قبول، د صفا او مروه ترمنځ تګ راتګ دې منل شوې او ګناه دې وبخښل شوه .

الله (ﷻ) وايي: ﴿ مؤمنان پرخپلو ځانونوسختته تېروي، خو نورو ته ورکړه کوي، که څه هم په خپله ورته اړ وي ﴾.الحشر ۹:۵۹

یوشاعروایي : زه که له خپل دوست څخه د ځمکې اواسمان په اندازه لرې یم، خو بیا هم ورسره مرسته کوم، ستونزې یې لرې کوم، د هغه بلنې اوغږ ته په هو سره ځواب وایم اوکله چې هغه یوه ښکلې جامه واغوندي، نو زه دا نه وایم چې کاشکې ما ورڅخه ښه جامه لرلای . د الله له پاره ! دا څومره ښه خویونه او څومره لوړې الٰهي ورکړې دي ! هیڅوك دی هم د نېك کار په کولو نه پښېمانه کیږي، ان که دا نېک کار ډېرلږ هم وي، بېشکه پښېماني د بد کارپه کولو کې وي، ان که هغه لږه هم وي . یوشاعر وایي : که هرڅومره وخت تېرهم شي، نو د خیر کار پاتې کېدونکی دی، او شرهغه بدترینه توښه ده، چې تاساتلې وي .

***

## په بده خبره خفه نه شې ځکه چې کینه پخوانۍ ستونزه ده

شاعروایي : ته په ټولوښېګڼو کې زیار وباسه، او د کینه کښ نیوکې ته پاملرنه مه کوه، یوه شه چې ژوند د قبول شوي اطاعت موسم دی او له مرګ نه وروستـه کینه پای ته رسیږي .

په اوسنیو دینپوهانو کې یو تن وایي : هغوخلکو ته چې له نیوکې سره وران دي، په کاردي چې د بېځایه او ظالمانه نیوکې په مقابل کې پرخپلو مغزو باندې څه اندازه یخې اوبه واچوي . اوځینو نورو ویلې دي، کینه دې خیریوسي، څومره با انصافه ده، له ټولونه مخکې یې پر خپل خاوند پیل وکړ او هغه یې ووژه، ښه یادونه د ځوان دوهم ژوند دی، اړتیایې هغه وه چې له لاسه یې ووته او نور ژوند یې هسې کارونه اوبوختیاوې دي . علي (رضی الله عنه) وایي : د انسان اجل یو خوندي باغ ته ورته دی . یو پوه وایي : ډارن انسان څوځله مړکیږي، خو زړور انسان یوځل مړکیږي، اوکله چې الله تعالٰی پرخپلو بندګانو د سختیو په وخت کې د خیر اراده وکړي، نو پر هغوی د ډاډ اوهوساینې پرکالې ډېره کړي، لکه پر"طلحه" (رضی الله عنه) باندې چې دأُحد په غزا کې الله تعالٰی خوب راوست، ان تر دې چې څو ځله یې توره له لاسه پرېوته، چې دا کار د پوره ډاډ څرګندونکی دی، پر دې سربېره پرهغوکسانوهم چې په دین کې نوې لوبې جوړوي د خوب یوه نرۍ څپه راځي، لکه " شبیب بن یزید " چې پرخپله قچره ناست و، د خوب نرۍ غوټه پرې راغله اوهغه یو زړورانسان و، د هغه مېرمنه "غزاله " هم یوه زړوره ښځه وه، چې د "حجّاج" په څېرانسان یې هم شاتګ ته اړویست، یو شاعرپه دې اړه وایي : زماپه مخ کې زمری یې، خود جنګ په ډګر کې هغه کمزوري فیلمرغ ته ورته یې، چې د شپېلۍ وهونکي له شپېلۍ څخه

هم تبښتي، که په رېښتيا توريالى وى، نود جنګ په ورځ به د " غزاله " مقابلې ته راوتلاى وى، که نه نوستا زړه د مرغۍ د دوه وزرونو په منځ کې و . الله (ﷻ) وايي : ﴿ اى پېغمبره دوى ته ووايه تاسو زموږ په اړه له دوه ښېګڼوڅخه د يوې له ترلاسه کولوپرته بل څه ته سترګې نه غړوئ، او ستاسو په اړه زموږه هيله داده، چې الله به تاسوله خپله اړخه په عذاب اخته کړي او يا به تاسو زموږ په لاسونو وربېروي، نو اوس تاسو سترګې په لار اوسئ موږ هم در سره سترګې په لار يو ﴾. التّوبه ٩:٥٢

الله (ﷻ) وايي :﴿ دا دهېڅ ساه کښ په توان کې نه ده، چې د الله له پرېکړې پرته مړشي، که مړکيږي، نود الله له خوا به پرټاکلى وخت به وي﴾ آل عمران ٣:١۴٥

شاعر وايي : زه خپل نفس ته په داسې حال کې چې له انديښنو او وېرې سره مخ وي د تسل له پاره وايم، ته بايد د جنګ له اتلانوڅخه ونه وېرېږې، که ته له خپل ټاکلي نېټې وروسته د يوې ورځې نور ژوند غوښتنه هم وکړې، نو ستا دا غوښتنه به ونه منل شي، بيا نو ته د مرګ په ځاى کې کلك صبر وکړه، ځکه چې د تلپاتې ژوند لاس ته راوړنه ناشوني ده، اود ژوندي پاتې کېدو جامه خود عزت جامه نه ده، چې له ډارن او ذليل انسان څخه به وويستل شي . پر الله پاک قسم ! همداسې ده کله چې د دوى نېټه راشي نه به يوه شېبه وروسته شي او نه مخکې .

علي (رضى الله عنه) وايي : زه له خپلودوه ورځو څخه په کومه يوه کې له مرګ څخه وتښتم، هغه ورځ چې زما د مرګ له پاره نه ده ټاکل شوې او که هاغه چې زما د مرګ له پاره ټاکل شوې ده ؟ هغه ورځ چې زما د مرګ له پاره نـه وي ټاکل شوې له هغې څخه خو نه وېرېږم، او کومه چې زما د مرګ له پاره ټاکل شوې وي، نوله هغې څخه خو زه نـشم خلاصېدلاى . ابوبکر(رضى الله عنه) وايي : مرګ وغواړئ، تاسو ته به ژوند درپه برخه شي .

***

## لنډه دمه

مه خفه کېږه ! ځکه الله پاک له تا نه دفاع کوي، پرېښتي يې درته بخښنه غواړي او مسلمانان دې له هر لمانځه څخه وروسته په خپلودعاګانوکې يادوي،

محمد (ﷺ) دې شفاعت کوي، قرآنکريم درسره ښه ژمنه کوي او له دې هم پورته د رحم کوونکي رب رحمت درسره مل دی .

مه خفه کېږه ! ځکه چې د الله تعالیٰ په وړاندې د يوې نېکۍ بدله له لس چنده نيولې تر اووه سوه چنده، بلکې کله له دې څخه هم ډېره وي او د بدۍ سزا په دې شرط چې الله تعالیٰ يې درته بخښنه ونه کړي، د هماغې يوې بدۍ په اندازه وي، نو د الله تعالیٰ فضل او کرم څومره زيات دی، چې ساری نه لري او سخا يې څومره ډېره ده چې د بل چا سخا ورته نشي رسېدلای !!

مه خفه کېږه ! ته خو د توحيد له لارويانو، د دين او قبلې له څښتنانو څخه يې، له تاسره خو د الله تعالیٰ او د هغه د پيغمبر د مينې بنسټ شته، ته خوپه ګناه پښېمانېږې، په نېکۍخوشحالېږې او له تاسره خيرشته، خو ته پرې نه پوهېږې .

مه خفه کېږه ! ځکه چې ته په ستونزو اوخوښيو، نېستۍ اوهستۍ، سختيو او اسانيو کې په خيريت کې يې، رسول الله (ﷺ) مبارکه وېناده : د مسلمان کار ته حيرانتيا ده ! بېشکه چې په ټول کارکې يې خيردی، او دا ځانګړتيا له مسلمان پرته بل چاته نشته، که خوښي ورپه برخه شي شکر وباسي، نو دا هم ورته خيردی او که څه سختي پرې راشي، نو صبرکوي دا يې هم په ګټه ده )).

***

## صبرد برياليتوب اونېکمرغۍ راز دی

﴿ صبر وکړه ستا د صبربدله يواځې الله پورې تړلې ده ﴾. النحل ۱۲۷:۱۶

﴿صبرښـکلی خوی دی اوڅه چې تاسو واياست د هغو په اړه يواځې له يوه الله نه مرسته غوښتل کېدای شي ﴾. يوسف ۱۸:۱۲

﴿ صبر وکړه ښکلی صبر! ﴾.المعارج ۵:۷۰ ﴿ غميزې چې در رسيږي، صبر پرې کوه﴾. لقمان ۱۷:۳۱

﴿سلامتي دې وي پرتاسو،ځکه چې تاسو-په دنياکې صبرکړی و﴾.الرّعد ۲۴:۱۳

﴿په طاعت کې ټينګ اوسئ اوله نفسي خواهشاتونفس وساتئ اوپه خپلوجوماتونوکې د لمانځه له پاره انتظاروباسئ﴾. آل عمران۳ :۲۰۰ ( تفسيرابن کثير)

عمر(رضی الله عنه) وايي : د صبر په برکت موږ ښه ژوند حاصل کړ . اهل سنت د غميزو په وخت کې له ډېرو کمالونوڅخه کاراخلي، صبر، دعاء او خلاصون ته سترګې غړول .

شاعروايي : موږ يو بل ته د جنګ په ډ ګر کې درنده مرګ ژوبله واړوله، خو موږ د هغوی پرتله په مرګ باندې ډېرصبر کوونکي وو .

صحيح حديث دی : (( په هغه وينا باندې به له الله تعالی څخه هېڅوک ډېرصبر کوونکی نه وي، لکه مشرکان يې چې وايي او دا ګومان کوي، چې الله پاک زوی اومېرمن لري، په داسې حال کې چې الله تعالی هغوی ته روغتيا او روزي ورکوي )).

محمد (ﷺ) وايي : (( الله دې پر موسی ورحميږي، هغه له دې څخه هم په ډېرو ستونزواخته شوی و، خو صبر يې وکړ)). يعني رسول الله (ﷺ) وايی چې زما څخه هم ډېره سخته پرې تېره شوې وه . بل حديث دی : (( څوک چې د صبر کولوکوښښ کوي الله تعالی به هغه ته صبرورپه برخه کړي )).

شاعر وايي : ته درنښت ته ډېر په قراره روان يې، حال دا چې منډې وهوونکي له ډېرو ستونزوګاللوو روسته وروررسېدل او هغوی په دې لار کې يو له بل سره سيالي وکړه، ډېر يې مانيجن هم شول، خو درنښت ته هغه څوک ورپه غاړه شول، چا چې ژمنه پوره او صبريې وکړ . ته درنښت داسې مه ګڼه چې ګواکې هغه خورماده او ته به يې وخوری، بلکې ته به ورته ترهغې پورې ونه رسيږې، ترڅو ته په دې لار کې ترخه ونه څښې . لوړی پوړی په تشوخيالونو او خوبونولاس ته نه راځي، بلکې بشپړهوډ اوپرېکړې ته اړتيا لري .

***

## د خلکوپه بدو مه خفه کيږه، وګوره چې له خپل خالق سره څه کوې

امام احمد په " کتاب الزهد " کې قدسي حديث روايت کوي : الله تعالی وايي : حيرانتياده تا لره ای بني ادمه ! ته ماپيدا کړی يې، خو له ما پرته د بل چا عبادت کوې، روزي زه درکوم، خوشکرله بل چاڅخه کوې، زه د پېرزوينو له لارې تا ته خپل ځان دروراندې کوم، په داسې حال کې چې هېڅ اړتيا هم درته نه لرم، په ګناهونو راسره دښمني کوې حال دا چې ته ما ته اړ يې، زما له خوا تاته خير درښکته کيږي، خوستا له خوا ماته شر راپورته کيږي )).

دينپوهانو د عيسی (عليه السلام) د ژوند لارې په اړه يادونه کړې، چې د دېرشو ناروغانو درملنه يې وکړه او ډېر ړانده يې بينا کړل، خو وروسته بياهمدغو خلکو ورسره دښمني پيل کړه .

***

## د روزۍ کمښت ته مه خفه کيږه

بېشکه روزي ورکوونکی خوهغه يو ذات دی، له هغه سره د ټول مخلوق روزي شته او د رزق ابدي ذمه واري يې کړې ده، الله (ﷻ) وايي : ﴿ په اسمان کې ستاسو روزي اوهغه څه دي چې له تاسو سره يې ژمنه شوې ده﴾.الذاريات ۵۱:۲۲

چې روزي ورکوونکی الله دی، نو د څه له پاره انسانان غوړه مالي کوي، ولې د روزۍ له پاره د بشر نفس سپکيږي، په ځمکه کې چې څومره ساکښ دي د هغوی د ټولو د روزۍ ذمه پرالله (ﷻ) ده . الله (ﷻ) وايي : ﴿ د کوم رحمت دروازه چې پرخلکو پرانيزي، بيا يې بندونکی نشته او که هغه يې وتړله، نو له هغه پرته يې بل پرانيستونکی نشته ﴾. الفاطر۳۵:۲

***

## مه خفه کېږه! داسې لارې چارې شته چې دغمځپلي کړاوونه اسانوي

ځینې هغه لارې په لاندې ډول دي : ۱: د الله تعالی له لوري اجر او ثواب ته سترګې غړول . الله (ﷻ) وايي : ﴿ بېشکه خبره داده، چې صبرکوونکوته به بې حسابه اجر ورکول کیږي ﴾ الزّمر۳۹:۱۰

۲ : د نورو غمځپلو لیدنه ! خنساء(رضي الله عنها) په خپل شعرکې د خپل ورور" صخر" په مرګ داسې فریاد کوي، که زما شا اوخوا نورو ډېروخلکو پرخپلو ورونو نه ژړلی، نو مابه خپل ځان وژلی وی، ته خپل ښي او کین اړخ ته وګوره! ایا په غمیزو کې له اخته کسانو پرته نورڅوك ګورې ؟ لکه عربان چې وایي : په هرناو کې د سعد ځامن شته .

۳ : پېښنه شوې غمیزه له نورو څخه اسانه ده. ٤: دا مصیبت د بنده له دین سره تړاو نه لري، بلکې دا یوه دنیوي ستونزه ده .

٥ : کله ناکله د ستونزو پرمهال الله تعالی ته د ځان سپارلو عبادت، د خوښیو په وخت کې د ځان سپارښتنې له عبادت څخه غوره وي .

٦ : په دې اړه کوم ځانګړی چل ول نشته .

یوشاعروایي : ته د غمیزې له منځه وړلو له پاره له چل ول څخه کارمه اخله، ځکه په دې ځای کې چل همدا دی چې چل ول پرېښودل شي .

۷ : بېشکه چې د هرکار واک اوټاکل، الله (ﷻ) پورې ځانګړی دی .

﴿ ښایي تاسو یوشې بد ګڼئ اوهغه تاسو له پاره غوره وي ﴾.البقره ۲:۲۱٦

***

## د بل چاشخصیت ته مه ویلې کېږه

الله (ﷻ) وايي : ﴿ د هرچا له پاره یو لوری دی چې هغه لورته مخ اړوي، نوتاسو دښېګڼو په لور یو له بل څخه مخکې وځغلئ ﴾.البقره ۲:۱٤۸

﴿ الله هغه ذات دی، چې تاسو یې د ځمکې خلیفه ګان ټاکلې یاست او په تاسوکې یې ځینې پر ځینونورو باندې په درجوکې لوړ کړي دي﴾. الانعام ۶:۱۶۵

﴿ هرې ډلې خپله ګودروپېژنده ﴾. البقره ۲:۶۰

خلکوته بېلا بېلې الٰهي ورکړې، توانونه او مهارتونه ورکړل شوي دي، د پیغمبر(ﷺ) له لوړ تدبیرڅخه یو دا و، چې خپل ملګري یې دخپلو توانونو اوذهني شتمنیوپه کچه ګومارلي وو، علي(رضي الله عنه) یې د قضاء له پاره، معاذ (رضي الله عنه) یې دعلم له پاره، اُبئ بن کعب (رضي الله عنه) یې د قرآنکریم له پاره، زید (رضي الله عنه) یې د میراث پوهاوې، خالدبن ولید(رضي الله عنه) یې د جهاد له پاره، حسّان بن ثابت (رضي الله عنه) یې د شعر ویلو له پاره او قیس بن ثابت (رضي الله عنه) یې د خطابت ـ تقریر- له پاره ټاکلي وو .

شاعر وایي : د تورې په ځای کې نېکي پر لویوالي دومره بده اغېزه لري، لکه د پېرزو په ځای کې چې څوك توره کاروي .

د خلکو په شخصیت کې خپل شخصیت ویلی کول اودهغوي ځانګړتیاوې ځان ته اغوستل دا په حقیقت کې وژنه او د ځان تباهي ده . د الله تعالٰی د قدرت له نښو څخه یوه دا ده، چې خلك یې په بېلابېلو خویونو،ذهني شتمنیو، ژبو او رنګونوسره پیداکړي دي، لکه ابوبکر(رضي الله عنه) پخپل نرمښت او رحمت ټول اسلامي اُمت ته ګټه رسولې ده، عمر(رضي الله عنه) په خپل کلک خوی اوسخت دریځ د اسلام او مسلمانانومرسته وکړه، نو ستاخوښې په هغې ځانګړتیا اواغېز کې چې ته یې لرې ستا له پاره الٰـهي تحفه ده، تاته په کار دي چې دغې پانګې ته وده ورکړې، نورو ته یې وړاندې کړې او ګټه پرې ورسوې . الله (ﷻ) وایي :﴿ الله پرهر نفس د هغه له توان څخه پورته بارنه ږدي ﴾. البقره۲:۲۸۶

په ربښتیا چې ړوند تقلید- د بل چا پیښې ـ اود نوروپه شخصیتونوکې ځان ویلی کول د هغې الٰـهي ورکړې ژوندۍ خښونه، هوډ وژنه اودانسان د ځانګړتیاوو له منځه وړل دي، چې دهغه د پیدایښت اساسي لامل دی .

***

## پر بنده باندې د ځانته ناستې ښې اغېزې

له ګوښه کېدو څخه زما موخه هغه ځانته ناسته ده، چې له شر او بېځایه ناستوڅخه ځان ژغورنه وي اوځانته ناسته له هغوکارونوڅخه ده، چې فکر پرانیزي اوخفګان له منځه وړي . ابن تیمیه (رحمه الله) وایي : بنده ته په کار دي، چې کله کله ځان له خلکو څخه څنګ ته کړي، چې دځپل رب عبادت، ذکر، د پاک قرآن تلاوت، له خپـل نفس سره حساب، دعاء، بخښنه غوښتل، له شرڅخه ځان ساتنه او داسې نور عبادتونه په ښه شان سرته ورسوي .

ابن الجوزي (رحمه الله) په خپل کتاب "صیدالخاطر" کې په دې اړه درې فصله - څپرکي - جوړکړي، لنډیز یې داسې دی، ما له ځانته ناستې پرته نور داسې څه نه اورېدلي او نه مې لیدلي، چې هغه دې انسان ته هوساینه، عزت او درنښت ورپه برخه کوي . له شر او بدیو څخه یې ژغوري، وخت، مرتبه او عمر یې خوندي ساتي، له کینه کښو، بېکارو او تمبلانو څخه یې لرې ساتي، د آخرت فکر ته یې هڅوي، د الله عزوجل دیدار ته یې چمتوکوي او د الله تعالی د عبادت ښه وخت ورته برابروي . همدارنګه د دې لار ورته پرانیزي، چې په ګټورو شیانو کې فکر وکړي، د علم - پوهې- له خزانو څخه ګټه پورته کړي، له شرعي د لایلو څخه ښه نـچوړونه اوکوچ راوباسي او د ګوښه ناستې په اړه دې ته ورته نورې څرګندونې، چې په لنډ ډول سره وشوې، ماپه تېرفصل کې وویل : ګوښه ناسته یو داسې عزت او درنښت دی، چې له الله تعالی پرته بل څوك پرې نه پوهیږي، د بېلګې په ډول په خلوت - ځانته ناسته - کې د فکر د مېوې ترلاسه کول، دعقل پانګې ته وده ورکول، د زړه هوساینه، د ناموس ساتنه او د الله (ﷻ) له خوا په کې پوره ثواب شته، له بدیوڅخه ځان ساتنه، د الله تعالی په عبادت کې وخت تېرونه، د رحیم ذات یادونه، له بې هدفه کارونو او بوختیاووڅخه ځان ژغورنه، له فتنو څخه څنګ ته کېدنه، له دښمن سره له خبرواترو او کینه کښ څخه ځان ساتنه، له وزګارخېلوڅخه څنګ ته کېدنه، ملامتوونکي ته عذر وړاندې کول، له شخړو او لانجو څخه ځان اړخ ته کول اود احمق- پوخ ناپوه - په خبرو او کړنو باندې ښه صبرکول په کې نغښتي دي .

په ګوښه ناسته کې د ټولو عیبونو له پاره یوه ښه پرده شته، لکه د ژبې غلط حرکتونه، د ذهني تېروتنې، د نفس کم عقلي او سستي خوندي ساتل، نو ګوښه ناسته د ټولو ښوکړنو، غوره کارونو او ښو خویونو له پاره غوره پوښ دی، په ځانګړې توګه له کتاب سره ګوښه ناسته څومره ښه کاردی، چې عمرپرې ښه تېرېږي، د مرګ نېټې ته پرې ښه تیاری کېږي، عبادت په کې ښه

ترسره کيږي، په ګوښه ناسته کې انسان ته د الله تعالٰی په قدرتونوکې د ښه فکر او له الله (ﷻ) څخه د وېرې له پاره ښه وخت شته، همدارنګه په ګوښه ناسته کې د شيانو د اصلي ارزښت پېژندنه، د شيانو باريکی ته ځيرکېدل او په موخو کې ژور فکر ترلاسه کول او عقل پرې ښه وده مومي . روح په ځانته حال کې ډېرخوښ وي، زړه په کې ډېره لويه خوښي کوي اوذهن په کې د ډېروګټو خزانه شي . سربېره پردې ګوښيتوب له ريا- ځان ښودني - څخه پاک وي، ځکه چې په دغه حالت کې له الله (ﷻ) پرته نه تا بل څوك ويني اونه دې خبره اوري، يواځنی اورېدونکی اوليدونکی ذات دی، چې تا ګوري . د نړی ستر پوهان، نوميالي او ګټه رسوونکي خلك، ځليدونکي څېرې، سرداران، د خپل وخت ستنې، نابغه ګان، د تاريخ مخکښان، د زماني سترګي، د مجلسونو ستوري، هغوی ټولوخپلې ځانګړتياوې د همدغه ګوښه ناستي له برکته ترلاسه کړي دي، هغوی ټولو د خپل عقل او پوهې نيالګي د ګوښه ناستې له اوبوڅخه خړوبه کړې دي، ترڅوهغه پر خپلوپېښو ودرېږي اوپه پای کې د هغوی د لويی ونه راشنه شوه او وروسته يې د الله تعالٰی په امر د هر وخت له پاره ګټورخواړه ورکړل .

" علی بن الجرجاني " په شعرکي وايي :

هغوی ماته وايي چې ته د بد خوی اوسخت چلند څښتن يې، داسې نه ده خو دوی داسې کس ليدلی، چې هغه د ذلت له ځايه ځان ګوښه کړی دی کله چې وويل شي دا اوبه دي، زه ورته وايم ماته ښکاري، خو د يو ازاد انسان نفس کله کله تنده هم زغمي، ما به دعلم حق نه وي پرځای کړی که زه د دنيايي طمعې د ليدو په حال کې خپل علم د دنيا د لاسته راوړنې له پاره پوړی وګرځوم، ايا زه به د پوهې د لاسته راوړنې په وخت کې ستونزې ګالم، بيا به د دې په مېوه کې هم ذلت منم؟ په دې صورت کې خوبه بيا د ناپوهی‌لارغوره کول ډېردهوښياری کار وی، که د علم خاوندان علم خوندي وساتي، نوعلم به هغوی وساتي، که هغوی په خپلو زړونو کې د علم درناوی وکړي، نوعلم به لوړشي، خوهغوی د خپل علم سپکاوی وکړ، له دې امله هغوی په خپله سپك شول، اوهغوی د علم مخ په بېځايه طمعو ناپاك کړځکه خو هغه بدرنګه شو .

" احمدابن خليل حنبلي " په شعر کې وايي :که څوك عزت غواړي او له اوږدې انديښنې څخه ځان ژغوري، نو ځان دې په عاموخلکوکې وشمېري اوپه لړ شي دې خوښ اوسي دهغه انسان ژوندبه څنګه ښه شي،چې هغه په سخت ژوندکې پروت وي له يو اړخه د فرېبکارفرېب او له بلې خوا د کمعقله انسان چل

ول د کینه کښ پټه دښمني اود بخیل سختي، افسوس دی د خلکو له دغو بېلابېلولارو پیژندلو څخه.

" قاضي علي بن عبدالعزیزجرجاني" په شعرکې وايې : ترهغې چې زه له کوراوکتاب سره ملګری نه وم ما د ژوند مزه نه وه څکلې له علم څخه پرته بل هېڅ شی دېرعزتمن نشته نو زه هم له علم پرته بل دوست نه لټوم، بېشکه سپکاوی له خلکو سره په ناسته ولاړه کې دی نو ته هغوی پرېږده اود مشرۍ ژوند وکړه . بل شاعر وايي : زه له خپل یوازېتوب سره بلد او اشنا شوی یم اوخپل کورمې ټینګ کړی، نوله دې امله مې راحت راسره پایښت پیداکړاوخوښۍ مې وده وکړه، له خلکوسره مې تګ راتګ بند کړی، نو بې پروا یم چې ایا لښکر روان شوکه سرلښکرسپورشو ؟

سترحدیث پوه حمیدي (رحمه الله) وايي : له خلکوسره لیده کاته پرته له دې، چې قیل وقال دېرشي نوره هېڅ ګټه نه لري . د علم له زده کړی اویا د خلکوپه منځ کې له اصلاح پرته له خلکو سره لیده کاته کم کړه .

"ابن فارس" وايي : هغوی وویل څرنګه یې ؟ ما وویل خیریت دی ځینې اړتیاوې ترسره کیږي او ځینې نورې پاتې کیږي . کله چې د زړه اندېښنې دېرې شي مورږ وایو له ستونزوڅخه د خلاصون ورځ راروانه ده زما د شپې د ناستې ملګرې پیشوده اود نفس اشنا مې کتابونه او مینه مې څراغ دی .

***

## سختو ستونزو ته مه خفه کېږه !

بېشکه چې سختي زړه لا قوي کوي، ګناه له منځه وړي، ناروا ویاړ او کبر له بېخه وباسي، غفلت ویلي کوي، د الله تعالی یاد تازه کوي، د مخلوق مهرباني ځان خواته راکاږي، د نېکو خلکو د دعاء چاره ده او د الله تعالی لویوالي ته سر ټیټول دي، واحد او قهار رب ته ځان تسلیمول دي، د نفس رټنه ده، مخکې له مخکې وېروونکی دی، د الله تعالی د ذکر را ژوندي کول دي، په زغم سره د کمزورۍ ښودل او له الله تعالی څخه د بدلې غوښتنه ده، الله ته د ورتګ له پاره چمتووالی او دنیا ته د ورماتېدو له خوښۍ اوداډ څخه په کې وېره ده، کړېدلي ته چې کومه مهرباني پټه ده هغه دېره غټه ده، پرکومه ګناه باندې چې پرده اچول شوې هغه خورا لویه او کومه تېروتنه چې پرې بخښل شوې هغه دېره ستره ده .

دینپوهانو ویلي دي څومره چې یو کس له بېکارو خلکو څخه ګوښه وي، هماغه یې درنښت دی، په دې اړوند ته د خطّابي کتاب "العزلة" ته سر ورښکاره کړه .

***

## لنډه دمه

مه خــــفــــه کېږه ! ځکه چې خفګان تاپه عبادت کې کمزوری کوي، له جهاد څخه دې ایساروي، ناکامي او کمزوري در په برخه کوي، بدګومانۍ ته دې رابولي او په بدفالۍ کې دې اخته کوي . مه خــــفــــه کېږه ! ځکه چې غم او تشویش د نفسي ناروغیو بنسټ، د عصبي دردونو سرچېنه او د تباهۍ وسوسو،او اوترېدو ماده ده . مه خــفــه کېږه ! ځکه چې له تاسره قرآن، ذکر، دعاء، لمونځ، خېرات، ښېګڼه اونور ګټور کارونه شته . مه خــفــه کېږه! د وزګارتیا له لارې خفګان ته ځان مه سپاره، بلکې لمونځ وکړه، سبحان الله ووایه، لوستل، لیکل او کار کوه، مېلمنو ته هرکلی وایه، خلکو ته ګوره او فکرکوه .

الله (ﷻ) وایي : ﴿ ادْعُونِي اَسْتَجِبْ لَكُمْ : له ما څخه وغواړئ، زه به ستاسو غوښتنه ومنم﴾.الغافر ۴۰:۶۰

﴿ پټ خپل رب ته زارۍ وکړئ، بېشکه هغه له کرښې څخه تېري کوونکي نه خوښوي ﴾. الاعراف ۷:۵۵

﴿ نو له الله څخه غوښتنه وکړئ، په داسې حال کې چې تاسو ددین له پاره مخلصان اوسئ ﴾. الغافر ۴۰:۱۴

﴿پېغمبره ووایه، الله یادوئ یا یې د (الرحمن) نوم یاد کړئ، هرنوم یې چې تاسواخلئ هماغه سم دی، ځکه چې هغه دښکلونومونوڅښتن دی﴾. الاسراء۱۷:۱۱۰

***

## مه خفه کېږه اودنېکمرغۍ په اړه لاندې قواعد ولوله

۱ : که ته د خپلې ننۍ ورځې په چوکاټ کې ژوند ونه کړې، نوستا ذهن او کارونه به درڅخه ګډ وډ شي،غمونه او اندېښنې به دې ډېرې شي او دا د رسول

**الله (ﷺ) ویناده : کله چې ګهیځ شو، ماښام ته انتظارمه کوه اوکله چې درباندې ماښام شي، نوبیا د سهارپه طمعه مه اوسه !**

**۲: له تېرولوستونزو اوغمونو سره سره تېر وخت هېرکړه، ځکه چې په تېرو شوو اوپای ته رسېدلو شیانو باندې غورکول یو ډول کمعقلي او لېونتوب دی .**

**۳: پر راتلونکې وخت باندې ځان مه بوختوه، ځکه چې راتلونکې وخت د غیبي نړۍ یوه برخه ده، ترهغې چې په خپله راغلې نه وي خپل فکرپرې مه بوختوه .**

**٤: د چا پر نیوکه مه غصه کېږه، ټینګ اوسه اوپه دې پوه شه، چې نیوکه ستا له ارزښت سره یو برابرده .**

**٥: پر الله تعالیٰ باندې ایمان او نېك کارونه کول، همدا نېکمرغي اوپاک ژوند دی .**

**٦: څوك چې ډاډ، ارامي اوهوساینه غواړي، نوهرومرو دې الله پاک یادوي .**

**٧: بنده باید په دې پوه شي، چې هرڅه په الٰهي پرېکړو او وېش پورې تړاو لري .**

**٨ : د هېڅ چا منننې ته سترګې مه غړوه .**

**٩: خپل نفس دې ته چمتوکړه، چې له ښېښنوڅخه نورې بدې پېښې هم پېښېږي .**

**١٠: کېدای شي په هغه څه کې دې خیر وي، چې درپېښ شول .**

**١١ : د مسلمان له پاره په هره الٰهي پرېکړه کې خیر وي .**

**١٢: د الله (ﷻ) په پېرزوینوکې غور وکړه او بیا د الله تعالیٰ شکر پرځای کړه .**

**١٣: ته په خپلوموجوده شیانوکې له ډېرو نورو خلکوڅخه لوړ یې .**

۱٤ : له یوه ساعت نه بل ساعت ته اساني وي .

۱۵: په ازمېښت کې دعاء پرته وي .

۱٦ : کړاونه د سترګو مرهم او د زړه قوت دی .

۱۷: له هرې سختۍ سره اسانی یوځای وي .

۱۸: بی ارزښتنه شیان باید پر تا زورور نه شي .

۱۹: ستا رب د پراخې بخښنې خاوند دی .

۲۰: مه په قهرېږه، مه په قهرېږه، مه په قهرېږه !!!

۲۱: ډوډۍ، اوبه او سیوری، همدا ژوندون دی او له دې پرته د نورو غم مه کوه .

۲۲: ﴿په اسمان کې ستاسو روزي اوهغه څه شته، چې له تاسوسره یې ژمنه کیږي ﴾. الذاریات ۵۱:۲۲

۲۳ : هغه څه چې ډېره وېره ورڅخه کیږي، نه پېښیږي .

۲٤ : د نورو غمځپلو په لیدو کې تاته ښه لارښوونه ده .

۲۵: الله تعالی چې کله له کوم قوم څخه خوښ شي، نوپه ستونزو کې یې اخته کړي .

۲٦: د ستونزو د ختمولو مسنونه دعاګانې بار بار وایه.

۲۷: ته باید سخت ګتور کار وکړې او بېکاري پرېږده .

۲۸: د دروغو اوازې پرېږده او پرډنډورو باندې باورمه کوه .

۲۹: کینه او دغچ اخیستنې هیله، د دښمن پرتله ډېرستا روغتیا ته زیان رسوي .

۳۰: هره غمیزه چې درپېښیږي هغه ستا د ګناهونو د رژېدواو بخښنی لامل ګرځي .

***

## ولې خفه کیږې ته خو شپږ شیان ګدوله درمل لرې ؟

د "الفرج بعد الشدة" کتاب لیکوال ذکر کړي، یوتن چې په حکمت پوه و کړېده، نوڅوملګري یې د تسلی له پاره ورغلل، هغوی ته یې وویل : ما د ځان له پاره له شپږوشیانوڅخه یودرمل جوړ کړی، هغوی ورڅخه وپوښتل، دا شپږ شیان څه شی دي ؟ هغه ورته وویل :

لومړی : پرالله (ﷻ) پوره باورلرل . دویم : زمایقین دی، چې څه په برخلیک کې لیکل شوي وي هغه به پېښیږي . دریم : صبرله هغو غورو وسایلو څخه دی، چې پخوانیوخلکوکارولی دی . څلورم : که صبر ونه کړم، نوڅه به وکړم؟ پنځم : کېدای شي چې زه له اوسني حالت څخه په لا بدترحالت اخته شم . شپږم : له یوه ساعته تر بله اساني راځي، نوکه تاته څه زیان در ورسېد، یا وکنځل شوې، یا دې سپکاوی وشو او یا درسره تېرې وشو، نوهېڅ خفه نه شې .

"ابن تیمیه" (رحمه الله) وایي : مسلمان نه د غچ غوښتنه کوي، نه بل ملامتوي او نه له بل سره جګړه کوي .

***

## مه خفه کېږه او خلکوسره په ښېګڼه ځان د ښه یاد اوستاینې وړ وګرځوه

یومهربانه کس له یوه شاعرسره په داسې وخت کې مرسته وکړه، چې هغه ته لویه ستونزه ورپېښه شوې وه، نو شاعردهغه ستاینه وکړه او ویې ویل، دا یو داسې ځوان دی چې الله تعالی ورته په تنکۍ ځوانۍ کې ښایست ورپه برخه کړی دی، د هغه پرمخ باندې دعزت اوشرافت ټولې نښې له ورایه څرګندې دي، ځوان چې ولیدل په ستاینه کې ورته عزت او شرافت غوښتل کیږي، نوهغه خپل ځان په یوه پراخه جامه کې راونغاړه، یعنې : ( زیاتې لورېینې او ښېګڼې یې پیل کړې ). هغه د ښکلا له امله داسې ځلیږي، چې پرتندي باندې یې ثریا ـ د ستورو غنچه- نښتې وي، پرغاړه یې شعري ستوری اوپرمخ یې سپوږمۍ ناسته وي .

## که له ستونزواوخندونوسره مخ شوې نو له زغمه کار واخله

په دې اړه يو شاعر وايي : ای زمانې ! که له تاسره د هغه شيانو له ډلې، چې ته پرې قدرمن خلك سپكوې نور څه پاتې وي، نو هغه هم رامخې ته کړه . دا يوحقيقت دی چې صبرکول د چيغواو بې صبرۍ پرتله د انسان له پاره ډېرګټور دی، او زغم بيا د چيغو پرتله زيات غوره کاردی، او هغه څوك چې د ستونزو پر مهال په خپله خوښه صبرنه کوي، نو داسې وخت به راشي، چې خوښه به يې نه وي، خوصبربه کوي .

"متنبي" په څوبيتونوکې موضوع داسې رانغاړي : زمانې په کړاوونو دومره وويشتم، چې زړه مې د ډېرو غشو له امله بې هوښه شو، کله به چې غشي پرما لګېدل، نو څوکې به يې يوپربل ماتېدې، خو له دې سره سره هم زه د کړاوونو هېڅ پروا نه لرم، ځکه د هرهغه شي چې مايې پروا ساتلې ده، ګټه مې ورڅخه نه ده کړې . "ابوالمظفر ابيوردي" وايي : زمانه راته په بله واوښته، خوهغه په دې نه پوهيږي چې زه ډېرعزتمن يم او د زمانې پېښې اسانه وي، ماته يې خپل تېری راوښود، خو ما ورته خپل زغم وښود، چې صبرڅرنګه وي .

***

## مه خفه کېږه ځکه داسې ورونه اومينه وال لرې چې تا سره د مينې پيوستون راشه درشه کوي

په دې اړه دغه څوبيتونه درته ډالۍ کوم که دې خوښه وي له ځان سره يې زمزمه کړه، خو دا داسې بيتونه دي چې ستا زړه اراموي، د زړونو د نرمښت او د روحونو د نږديوالي په اړه ځينو شاعرانو ويلي : موږ د يوې يمنۍ مېرمنې چې له "قيس" قبيلې څخه وه او درنه ښځه وه مېلمانه شو، هغې په داسې حال کې چې پرده يې راوځړوله له موږه پوښتنه وکړه، تاسود کوم ځای اوڅوك ياست ؟ نو ماهغې ته وويل : دا زما ملګری له تميم قبيلې څخه دی او زما کورنۍ د يمن ده، موږ دوه د بېلابېلو ځايونوملګري يو، چې زمانې سره يوځای کړي يو، او کله نا کله خو دوه ډوله شيان هم له يوځای کېدو وروسته سره اشنا کيږي . ورونه او دوستان د غمونو له پاره ښه تسلي وي، يو دينپوه وايي، که د وسوسې د پېښېدو وېره نه وای، نوزه به له خلکوسره نه اوسېدم .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ په هغه ورځ به پرته له پرهېزګارانو نور ټول دوستان يو د بل دښمنان وي ﴾. الزّخرف ۴۳:۶۷

ځينو نورو د نا اشنا لاروي په اړه په شعر کې داسې ويلي دي : د بېلابېلو هوډونو څښتن دی، چې نه د بل کور، نه خپل کور اونه ګاونډيانوته پناه وړي، له جلا وطنۍ سره داسې اشنادی، چې کله دسفرپه هوډ وځي، نو داسې برېښي چې ګواکې خپل وطن ته روان دی .

***

## که چادرڅخه څه ايسار او تندی يې تريوکړ يا بخيل څه درنه کړل نو مه خفه کېږه !

په دې اړه "سفيان الثوري" په څو بيتونو کې وايي : دهغه څه پرځای چې دروازه يې ستا پرمخ تړل کېږي اوخلك پرې بخيلي کوي، تا ته مالګه او ډوډۍ بس ده، دا چې ته خوړې اوبه څښې اوغرمه پرې تېروې، نو په دې سره ته د نرمۍ اوغوړې شوروا له څښتنانوسره مقابله کولای شې .

د لرګي جونګړه، د وړيوخېمه او د اوربشو ډوډۍ چې د انسان ناموس او عزت ورسره خوندي وي، له هغې ښکلې مانۍ او باغ څخه چې پرېشاني اوخفګان په کې وي ډېرغوره دي . ستونزه هم د ناروغۍ په څېرده چې له څه وخت تېرېدو وروسته به هرومرو له منځه ځي، خو که چا يې په لرې کولوکې له بيړې کار واخيست، نو د دې وېره شته، چې هغه ستونزه به څوچنده ډېره شي . همدارنګه غميزه او کړاو د لرې کېدو له پاره ترهغه مهاله چې نښې نښانې يې ورکې شي څه وخت ته اړتيالري، په کړاواخته کس ته په کار دي چې صبروکړي، د خلاصون لارې ته سترګې وګړوي او هروخت له دعاء څخه کار واخلي .

***

## لنډه دمه

قرآني ايتونه : ﴿ د الله له رحمت څخه مه ناهيلی کېږئ، بېشکه چې د الله له رحمت څخه يوازې کافران نا هيلی کېږي ﴾.يوسف ۱۲:۸۷

﴿ابراهیم (علیه السلام) وویل : د خپل رب له رحمت څخه خو یواځې بېلارې خلك ناهیلي کیږي ﴾.الحجر ۵۶:۱۵

﴿ بېشکه چې د الله رحمت نېکانو ته ډېر نژدې دی ﴾. الاعراف ۵۶:۷

﴿ ته څه پوهیږې، کېدای شي چې وروسته له دې نه هم الله کومه لاره پیدا کړي ﴾.الطلاق ۱:۶۵ ﴿هغه مهال یادکړئ، چې خپل رب ته مود مرستې چغې وهلې ﴾. الانفال: ۹:۸

﴿کېدای شي تاسو به یوشی بد ګڼئ، خوهغه به تاسو ته غوره وي، او ښایي تاسو یوشی خوښوئ خوهغه به تاسو ته زیانمن وي، الله پوهیږي اوتاسو نه پوهیږئ ﴾. البقره ۲۱۶:۲

﴿ الله پرخپلوبندګانو ډېرمهربان دی ﴾. الشوری ۱۹:۴۲

﴿ او رحمت مې له هرشي نه پرا خ دی ﴾. الاعراف ۱۵۶:۷

﴿ مه خفه کیږه بېشکه چې الله له موږسره دی ﴾. التوبه ۴۰:۹

﴿ الله ډېرښه پوهیږي اوتاسو نه پوهیږئ ﴾.البقره ۲۱۶:۲

﴿ الله هغه ذات دی، چې دخلکو له نا امیدۍ څخه وروسته باران وروي او خپل رحمت خوروي ﴾. الشوری ۲۸:۴۲

﴿د هیلواو وېرې په حالت کې یې موږ بللو، اوهغوي موږته عاجزي کوونکي وو ﴾. الانبیاء ۹۰:۲۱

یوشاعر وایي : دنیا به تاته کله پاکه شي، چې ته یې په ستونزو خوښ نه شې، ته د دنیا چاښ شوي جوهرته نه ګورې، چې دغه سرچېنه له تروه اومالګین سمندرڅخه ده، ډېرځله یوه وېروونکې پېښه ناڅاپه درباندې په خوښۍ او خندا تېره شي، او ډېری وختونه خوسلامتي پرته له ځنده راپېښیږي، او ډېری وختونه خو نېغوالی له کوږوالي څخه وروسته منځته راځي .

***

## په خلکو کې ترټولو غوره ملګرى کتاب دى

د نېکمرغۍ له لاروچاروڅخه يوه لاره هم کتاب لوستنې ته وخت ورکول اوپاملرنه ده، اوپه ګټورومعلوماتوسره عقل ته وده ورکول دي . نامتوليکوال "جاحظ" تاته د کتاب او لوست لارښوونه کوي، چې له دې لارې وکړای شې له ځان څخه خفګان او اندېښنې وشړې، هغه وايي کتاب داسې مرکچي دى، چې ستا بېځايه ستاينه نه کوي، داسې ملګرى دى چې درسره چل نه کوي، څه شى درڅخه نه اخلي، نه دې ستړى کوي او نه دې تنګوي . کتاب داسې غوښتونکى دى، چې تا د ورکړې په وروسته کولو نه ملامتوي، داسې ګاونډى دى چې له تاڅخه لوښي نه غواړي، يو داسې دوست دى، چې نه غواړي له تا څخه په نرمۍ او غوړه مالۍستا مال واخلي، يا درسره په دوکه، دوه مخۍ او دروغو دارومدار وکړي، کتاب هغه دوست دى که ته يې وګورې او ويې لولې، نوګټه دې ډېروي، مزاج دې تېزوي، ژبه دې اوږدوى، بندونه دې کلکوي، توکي دې درنوي، نفس ته دې پراخي ورکوي، سينه دې ودانوي، دعاموخلکودرناوى او د پادشاهانو ملګرتيا درپه برخه کوي، د کتاب له لارې په يوه مياشت کې ته دومره څه يادولای شې، چې په ټول عمرکې يې د خلکو له خولوڅخه نه شې زده کولای او سربېره پر دې، کتاب تا د روژى په لاسته راوړلوکې له ستونزو څخه ژغوري، دهغه چا دروازې ته دې له ودرولو څخه خوندي ساتي، چې د ښوونې په بدل کې مال او پيسې اخلي . همدا راز کتاب د هغه چا په مخ کې له ناستې څخه تا ساتي چې ته له هغه څخه په اخلاقو- خويونو- او نسب کې غوره يې، کتاب لوستنه تا د ناوړه خلکو له ناستې او د شتمنو له ملګرتيا څخه ساتي، لکه د ورځې په څېر، کتاب دې د شپې هم منونکى دى، په سفرکې دې خبره داسې مني لکه په کورکې يې چې مني، خوب درته نه بهانه کوي، نه يې بې خوبي ستړى کوي او داسې ښوونکى دى که ورته اړ شوې، نو درسره دوکه نه کوي، که ورڅخه مال ايسارکړې، هغه درڅخه خپله ګټه نه سپموي، که ته يې له ځانه بېل کړې، نوبيا هم درنه سرغړونه نه کوي، که کله ستا د دښمنانو د دښمنۍ باد راوالوځي، نو په دغسې حالت کې هم ستا په مخ کې ستا له دښمنانوسره نه يوځای کېږي، که ته له کتاب سره يو ډول نه يوډول اړيکه ټينګه کړې او يا ورسره په يوه باريکه رسۍ هم منګولې ونښلوې، نو بيا هم دا کتاب تا له نوروڅخه بې پرواکوي، له کتاب سره ستا ګوښېتوب تاته زيان نه رسوي او نه دې له بدو خلکو سره ناستې ته اړباسي . که پر تا د کتاب نوره هېڅ مهرباني اواحسان نه وي، نو دومره خوبه وي چې ته يې د خپل کور په دروازه کې له ناستې او لارويانو ته له کتلو څخه ژغورلى يې، د لارې له ځينو نورو لازمو حقوقو او ادابو له پايمالولو يې بچ کړى

يې . له ناروا کتلو، په هغو خبروکې له بوختيا،چې په تا پورې هېڅ اړه نه لري، له وړو او سپکو خلکوسره له ناستې ولاړې، دهغوی په بېکاره خبرو،څېړنو، خويونو اوناپوهيو کې له برخې اخيستنې څخه يې ساتلی يې، نوهرومرو به په دې کې ته خوندي اوستا له پاره به يوسترغنيمت وي، پر ځانګو سربېره به ډېر هم ترلاسه کړې، که په کتاب کې ستا نوره هېڅ ګټه نه وي، نو دومره خو به وي چې ته يې له ناوړه اوکمزورو هيلو، سستی، لوبواو يا لوبوته له ورته نورو کارونوڅخه خوندي ساتلی يی، نودا هم د کتاب ملګري ته د کتاب ستره پېرزوينه اولورېينه ده .

موږ په دې هم بايد وپوهېږو، هغه ترټولو غوره شی چې وزګارخلک خپله ورځ ، وخت تېري اوخپلې شپې پرې لنډې کړي کتاب دی اوکتاب داسې شی دی، چې د تجربې په زياتوالي ، دعقل او مېرانې په غښتلتيا، د ابرو په ساتنه، د دين په رغونه، د مال په وده او نورو ښوکارونو کې د کتاب په نسبت بل هېڅ اغېزمن او غوره شی نه ليدل کېږي .

***

## د کتاب د غوره والي په اړه څو ويناوې

"ابوعبيده" وايي : "مهلب" خپلو زامنو ته په وصيت کې وويل، تاسو بايد بازار کې د زغرو جوړونکو اوکتاب ليکونکو له دوکانونو پرته بل ځای ته لاړ نه شئ . ابوعبيده وايي، ماته يوه ملګري قېصه کوله چې ما د يو شامي دينپوه کتاب چې د "غطفان" قبيلې په ستاينه او نېکوخويونوکې ليکل شوی ولوستلو، نوهغه دينپوه راته وويل، له کتابونوپرته نوردرنښت له منځه تللی دی . له "حسن لولوي" څخه ما اورېدلي، چې ويل يې، ما تېرڅلوېښت کاله داسې تېر کړي، چې دغرمې او شپې په کې نه يم ويده شوی او نه مې تکيه کړې ده، خو کتاب به مې پرسينه پروت و.

"ابن الجهم" وايي : بدترين خوب هغه دی، چې له اړتيا نه زيات وي، کله به چې بې وخته زما سترګو له خوبه ټالی وهلې، نوما به يوعلمي کتاب راواخيست، چې دهغه د ګټو له امله به په ما کې خوځښت راغی، مزاج به مې له دې امله خوښ شو، چې په کتاب کې به مې ځينې داسې څه وموندل چې زما به ورته اړتيا وه او هغه خوښي چې به زما زړه ته پر يوې علمي څېړنې يا مسئلې د پوهېدو له امله او يا د پلټنې پرمهال له لاس ته راوړنو پيدا کېده، هغې به زما په

بېدارولو کې د خره د غږ او یا د یوې ودانۍ د ړنګېدود لړزې له غږ څخه هم ډېراغېزدرلود . همدارنګه "ابن الجهم" بل ځای وایي : کله چې زما کوم کتاب خوښ شي اوهیله مې وي چې زه به په کې ګټورموضوعات ولولم او له لوستلوڅخه وروسته بیا همداسې وشي، نو د دغه کتاب د لوستلو پرمهال که ته ماته وګورې، نو تاته به روښانه شي چې زه ورڅخه څومره خوند اخلم، د لوستلو په وخت کې یې ساعت په ساعت پاڼې ګورم چې څومره به له لوستلو پاتې وي په دې خاطرچې هسې نه کتاب پای ته ورسیږي او موضوعات یې ختم نه شي .

"عتبي" د پخوانیودینپوهانو د یوه کتاب یادونه وکړه بیا یې وویل، که دا ډېر اوږد نه وای او پاڼې یې زیاتې نه وای، نو ما به لیکلی وای، "ابن جهم" ورته وویل، په دې اړه هغه څه چې ته یې نه خوښوې، زه هماغه خوښوم اوهېڅکله ما کوم غټ کتاب نه دی لوستی، چې ما ورڅخه څه ګټه نه وي اخیستي او واړه کتابونه خو مې دومره لوستي، چې شمېر یې رانه ورک دی . د هر یو په پای کې به له کتاب څخه داسې وتلم، لکه څرنګه چې ورننوتې وم، خو ترټولوکتابونوغوره او لوړکتاب هغه دی چې پرپیغمبر(ﷺ) نازل شوی دی . الله (ﷻ) وایي : ﴿ تاته - ای پیغمبره - کتاب نازل شوی نو باید ستاپه زړه کې ورڅخه تنګوالی پیدا نه شي، د دې له پاره چې کافران پرې ووېروې اومومنانوله پاره په کې پندشته﴾.الاعراف ۷:۲

***

## د لوستلو ګټې

۱ : د خفګان، تشویش او اندېښنو لرې کول .

۲ : په بېځایه خبرو کې له بوختېدومخنیوی .

۳ : له وزګاروخلکو سره د ناستې ولاړې څخه مخنیوی .

۴ : په خبرو کولوکې د ژبې روانېدل، تېزېدل، تمرین، د ژبې تېروتنو مخنیوی او زده کول .

۵ : د عقل او ذهن کره کول ، ښه وده ورکول او د فکرپاکوالی .

۶ : د پوهې ډېرېدل، ډېرځه يادول او ورباندې پوهېدل .

۷ : د خلکو له ښوتجربو، د حکمت پوهانو او علماوو له پوهې او استنباط - کوچوبي - څخه ګټه پورته کول .

۸ : په ځان کې د يوې داسې سرچينې پيدا کول، چې علوم ښه جذبولی شي او د ويښو دودونو پلټنه، چې په ژوندانه کې ګټور اغېزلري .

۹ : د اسلام د لارويانو د کتابونو له لارې د ايمان ټينګوالی، ځکه چې کتاب په خپله يو لوی وعظ کوونکی، له بدو پايلوڅخه وېروونکی، له بدو کارونو څخه ايسارونکی او په ښو کارونوامرکوونکی دی .

۱۰ : له ګډوډۍ څخه ذهن قراروي، زړه له سختوالي اووخت له بېځايه تېرېدوڅخه ژغوري .

۱۱ : د الفاظو په پوهه، د ادبي موادو په جوړونه، د عبارت په راز پوهېدل، د جملې په سيده کولو او داسې نورو کې پوخوالی پيدا کوي، يو شاعر وايي : د روح خوښي داده چې انسان د علومو روحونه وپېژني او ژوره پوهه ترلاسه کړي، نه دا چې وخورې او وڅښې .

***

## که نورې ژبې تا د پرخپلوښېګڼو ستايي، نو بيامه خفه کېږه !

داسې ورغوي او لپې شته چې درته د دعاء له پاره پورته نيول کيږي، داسې خولې چې تاپه ښه نوم سره يادوی او ستا د هغو ښېګڼو يادونه کوي، چې تا له هغوی سره کړي اود ځان د ګټې له پاره دې ذخيره کړي دي .

ببشکه ښه ستاينه، دوهم ژوندون، تلپاتې زيږونه، ودان ميراث، ښايسته او له برکته ډک پاتې شوی مال دی . يو شاعر د يوه سخي سړي ستاينه کوي :لکه تا چې په کوم کتاب کې داسې حرام شوی نعمت موندلی وي چې هېڅ تاته نه روا کيږي، کله چې ژمی راشي ته لمريی، چې اوړی شي ته سيوری يی او کله چې ته سخا کوې، نوته څه پوهيږې چې ستا ورکړه ډېرېږي اوکه کمېږي ؟ خلکوته د ورکړې په خاطردې الله (ﷻ) تاته هرخيردرپه برخه کړي، ته يوعزتمن اتل او ستر سړی يی، موږ ستا د مخ په ځلا د شپې ګرځو، ځکه چې ستا تندی

خوپه شپه کې پرقیږي، ستا یادونه په غوږونو ډېرښه اغېزکوي، په غونډو کې ستا باربار یادېدل څوک نه ستړی کوي، په هره بده پېښه کې دې زموږ ځانونه له تا څخه قربان شي او له احرام تړلوڅخه وروسته دې حاجیان له تا نه ځارشي .

***

## لنډه دمه

یو وخت ابوبکر (رضي الله عنه) ناروغ شو، څوکسان یي پوښتنې ته ورغلل، هغوی ورته وویل: کوم طبیب درته راونه غواړو؟ ابوبکر(رضي الله عنه) ځواب ورکړ: طبیب خو زه ولیدم، هغوی ورته وویل چې طبیب درته څه وویل ؟ ابوبکرصدیق(رضی الله عنه) ورته وویل : طبیب راته وویل، بېشکه څه چې زما خوښه وي هماغه به کیږي (هدف یې له طبیب څخه الله پاک و ). عمربن الخطاب (رضی الله عنه) وایې : موږ ښه ژوندون په صبرسره موندلی دی، همدارنګه یې ویلي دي چې ترټولو غوره ژوندهغه دی، چې موږ په صبرسره موندلی دی، او که صبر له انسانانوڅخه شمېرل کېدای، نو ډېرغوره شخصیت به وی . علي ابن ابي طالب (رضي الله عنه) وایي، خبر شئ چې صبر په ایمان کې داسې مقام لري، لکه سر چې په بدن کې ځای لري، کله چې سرله تنې څخه بېل شي، نو ټوله تنه هلاکه شي، بیا علي(رضي الله عنه) په لوړغږ سره وویل، بېشکه چې څوك صبر نه لري هغه ایمان نه لري او دا یې هم وویل، صبر یو داسې تېز ځاروی دی، چې سینه نه لګوي . حسن ابن علي (رضي الله عنهما) ویلي دي، چې صبر د خیر له خزانو څخه یوه خزانه ده، الله پاک صبرله خپلوغوره بنده ګانو پرته پربل چا نه لوروي .

عمربن عبدالعزیز(رحمه الله) ویلي دي، هېڅکله داسې نه دي شوي، چې الله تعالیٰ پریوه بنده باندې پېرزوینه کړي وي او بیا یې ترې اخیستې وي، که ترې اخیستې یې وي، نو هرومرو په بدل کې یې صبر ورپه برخه کړی وي، نو الله پاک به ورته له هغه نعمت څخه چې ورڅخه یې اخیستی وي لا ښه بدله ورکوي . "میمون بن مهران" وایي : د صبر له لارې پرته هېڅ داسې څوك نه شته چې خیر پرې ختم شوی وي . "سلیمان بن القاسم" وایي : پرته له صبره د هرنېك کاربدله څرګنده ده، الله (ﷻ) فرمایي : ﴿ بېشکه صبرکوونکوته به بېشمېره بدله ورکول کیږي ﴾.الزمر۳۹:۱۰ سلیمان بن قاسم وایي : ( بې حسابه ) لکه بهېدونکي اوبه.

***

## مه خفه کېږه ! ځکه چې هلته بله ورځ، بل ننداړتون اوبل ژوندون شته

په هغه ورځ کې به الله (ﷻ) مخکيني او وروستني ټول اُمتونه راټول کړي، چې دا کار به تا د الله (ﷻ) په عدل اوانصاف ډاډمن کړي، نو له چاڅخه چې په دنيا کې مال په تېري اخيستل شوی وي په آخرت کې به يې ومومي، پرچا باندې چې دلته دنيا کې ظلم وشو، د قيامت په ورځ به ورسره عدل وشي اوچا چې په دنيا کې ظلم کړی وي، نوهلته د قيامت په ورځ به ورته سزا ورکول کېږي .

د الماني فيلسوف "کانت" خبره ده چې وايي : د د نيا ډرامه لا تراوسه پای ته نه ده رسېدلې، هرومرو هلته دويم ننداړتون شته، ځکه موږ دلته ګورو چې ظالم هم شته او مظلوم هم، نو انصاف مو ونه ليد، موږ زورور او کمزوري دواړه وينو، خوغچ اخېستنه مو ونه ليدله، نو هرومرو يوه بله ورځ راځي، چې په هغې کې به عدل وي . شيخ "علي طنطاوي" د "کانت" د دغې خبرې په اړه وايي، د دغه نا مسلمانه انسان دا خبره په حقيقت کې د قيامت ورځې د ريښتينولی په اړه يو اړخيزه اقرار دی . شاعر وايي : کله چې وزير اومرستيالان يې زياتی وکړي، او دځمکې قاضي په پرېکړه کې زياتی وکړي، نو د ځمکې قاضي ته دې د اسمان د قاضي له خوا څو څو واره هلا کت وي . الله (ﷻ) وايي : ﴿نن د قيامت په ورځ به هېڅ تېری نه وي، بېشکه چې الله تېزحساب کوونکی دی﴾. الغافر ۴۰:۱۷

***

## نړيوالې خبرې اود نورو قومونو د تجربو څو بېلګې

**مه خفه کېږه، که کارونه درباندې ګڼ او انبار وي !**

"رابرټ لويس ستېفنسون" ليکلي دی، دا د هرانسان له توانه پوره ده، چې خپل ورځنی کارکه هرڅومره ستونزمن هم وي په يوه ورځ کې پيل کړي، دا يې هم په وس پوره ده، چې د لمرتر پرېوتو پورې نېکمرغه ژوند وکړي او همدا د ژوند موخه ده . يو بل پوه وايي : ستا ژوند له يوې ورځې - نن - پرته نور څه نه دی، ځکه چې پرون ورځ تېره شوه او سبا ورځ لا نه ده رارسېدلې .

د "ستيفن ليکوک" وينا ده : ماشوم وايي کله چې زه غټ شم، بيا وايي

چې ځوان شم، ځوان وايي کله چې زه واده وکړم، ښه! له واده کولو وروسته به نورڅه وي او له دغو ټولو پړاوونو وروسته به بيا څه شی وي؟ له دې څخه وروسته به يې هرومرو فکر دې لور ته بدليږي، چې وايي به، کله چې زه په کور کې کښېنم . نو بيا به شاته ګوري او يخ بادونه به يې سوځوي . بېشکه چې خپل تېرشوی ژوند له لاسه ورکړي، هغه به نور د تېرژوند په يوه دقيقه کې هم ژوند ونه کړي، چې وخت تېرشي بيا موږ پوهيږو چې دا ژوند خو زموږ د نن ورځې په هره دقيقه او هرساعت کې نوی نوی راځي، هغه کسان هم دوی ته ورته دي چې په توبه ويستلوکې ځان په نن او سبا غولوي، ( يعنې وايي : ماښام او يا سبا ته به توبه وباسم ) . له پخوانيودينيپوهانوڅخه يو تن وايي، زه تاسو د ( ژر دی) له کلمې څخه منع کوم، ځکه دا يوه داسې کلمه ده چې د ډېرخيرمخنيوی کوي اونېك کار ځنډوي . ( يعنې داسې به وايي چې ژر دی دا کار به سبا ته وکړم او يا ژر دی چې توبه به وباسم...). ژباړن

﴿ ای پېغمبره ! دوی پرېږده چې وخوري او مزې وکړي، اوږدې هيلې يې ښه بې پروا کړي، ډېر ژر به پوه شي ﴾. الحجر ۱۵:۳

فرانسوی فيلسوف "مونتين" وايی، زما ژوند له ډېرو داسې بدبختيو څخه ډك و، چې هېڅ رحم يې نه درلود . زه ـ ليکوال- وايم چې له دومره پوهې او هوښيارۍ سره چې دا خلك يې لري بيا هم په دې ونه پوهېدل چې چا پيدا کړي دي او له دې سره سره بيا هم د الله (ﷻ) په هغه لارښوونه روان نه شول په کومه لارښوونه يې چې خپل استازی محمد(ﷺ) رالېږلی دی . ﴿ چاته چې الله رڼاپه برخه نه کړه هغه به له الهي نور څخه بې برخې وي ﴾ المؤمنون۲۳: ۴۰ ﴿ انسان ته مو لار وښوده، يا به شاکرشي يا کافر ﴾. الانسان ۷۶:۳

فيلسوف "ډانسي" وايي : ته داسې فکر وکړه، چې دا نن ورځ به هېڅکله بيا راونه ګرځي زه ـ ليکوال ـ وايم له دې څخه هم د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) هغه حديث ډېرښايسته او بشپړدی، چې وايي : (( داسې لمونځ وکړه لکه همدا چې ستا د ژوند وروستنی لمونځ وي )).

که چا دا فکر وکړ، ننۍ ورځ چې دی په کې اوسيږي، همدا يې د ژوند وروستنۍ ورځ ده، نو په کارده چې په دې ورځ کې نوې توبه وباسي، ښه کار وکړي، د خپل رب او د هغه د رسول (ﷺ) په اطاعت کې به ډېرزيار وباسي .

د هند نامتو ډرامه ليکونکي "کاليداسا" ليکلي دي، د نن ورځې سهار ته

سلام اوهرکلی ! ته خو دې ورځ ته وګوره، ځکه چې همدا ژوند دی، د ژوندون ژوند دی، په خپله لنډه شېبه کې ستا د ځان بېلابېل حقیقتونه منځته راوړي، د ودې نعمت، ستایل شوې کړنه، د بریالیتوب ښکلا او دا چې پرونۍ ورځ له خوب لیدو پرته نورڅه نه و، هرسبا یوخوب اوخیال دی، خو دا ننۍ ورځ چې ته په کې اوسیږې، همدا ستا له پرونۍ ورځې څخه یوښکلی خوب جوړوي، هرسبا دې د ښې هیلې هېنداره ده، نوته همدې ورځې ته ښه په ځیرسره وګوره ! د نني ګهیځ هرکلی او ښه راغلاست همدا دی .

***

## مه خفه کېږه ! د پرون، نن اوسباپه اړه له ځانه دا پوښتنې وکړه

په تېر او راتلونکي وخت پسې اوسپنیزې دروازې وتړه او د خپلې ننۍ ورځې په څودقیقوکې ژوند وکړه .

۱: ایا زه غواړم، چې خپل ننی ژوند د راتلونکې ورځې د پرېشانۍ له امله وروسته کړم او یا د اُفق- د اسمان د کنارو- ترشا په کوډګرې باغچې پسې وژاړم ؟

۲: ایا زه خپل ننی ژوند د پرونیو پېښو له امله چې پای ته رسېدلي تریخ کړم، چې د وخت له تېرېدو سره هغه هم له منځه تللي دي ؟

۳: ایا زه به سهار له دې هوډ سره راپاڅېږم، چې نن ورځ به غنیمت ګڼم او له راتلونکو څلرویشتو ساعتونو څخه به تر اخري حده پورې ګټه پورته کوم ؟

٤: ایا زه به له خپل ژوندون څخه ګټه واخلم، که د نن ورځې څو دقیقې ښه تېرې نه کړم ؟

٥ : زه به کله دا کار پیل کړم، راتلوونکې اوونۍ، سبا او که نن ورځ ؟؟

***

## مه خفه کېږه ! که کومې پېښې راګېر کړې نوله ځانه وپوښته

۱ : له ځانه وپوښته،ډېره بده پېښه چې اټکل يې کېږي څه ډول به وي؟

۲ : مخکې له مخکې د هغې منلواو زغملوته ځان چمتو کړه .

۳ : بيا ددغه اټکل شوي کار د ښه کولو له پاره په قراره او ډاډه زړه سره کارپيل کړه ﴿مؤمنان هغه کسان دي چې خلکوورته وويل د(مکې) خلك ستاسو پرخلاف راټول شوي دي ورڅخه ووېرېږئ، دغو خبرو يې ايمان لا پسې قوي کړ او ويې ويل موږ ته الله کافي دی اوهغه ښه کارجوړونکی دی ﴾.آل عمران ۱۷۳:۳

***

### لنډه دمه

الله(ﷻ) وايي :﴿ هرڅوك چې له الله څخه ووېرېږي، نوالله به ورته له ستونزو څخه د وتلويوه لارپيداکړي اوپه داسې توګه به روزي ورکړي، چې ګومان به يې هم نه کوي اوڅوك چې پرالله تکيه وکړي، نوالله ورته کافي دی ﴾ الطّلاق۶۵:۳-۲

الله (ﷻ) وايي ﴿ ډېرژر دی چې الله پاك به له سختۍ نه وروسته اساني راولي ﴾. الطّلاق ۶۵:۴

(( ته پوه شه چې ببشکه بريالیتوب له صبر اوخلاصون له ستونزې سره تړلی وي او له هرې سختۍ سره اساني يوځای وي )). بل قدسي حديث دی چې:

(( زه د خپل بنده له ګومان سره يم، نوڅرنګه يې چې خوښه وي پرما دې هماغسې ګومان وکړي )).

الله (ﷻ) وايي : ﴿ د هغوی پرتله الله تاته بس دی، هغه ښه اورېدونکی او ښه پوه دی ﴾. البقره ۲:۱۳۷

﴿ پرهغه ژوندي ذات تکيه وکړه، چې مرګ نه لري ﴾.الفرقان ۲۵: ۵۸

﴿ لرې نه ده چې الله پاك کومه پرېکنده کاميابي راولي او يا له خپل اړخه کوم بل کارڅرګند کړي ﴾.المآئده ۵:۵۲

﴿ له الله پرته د قيامت ورځ بل څوك نه شي څرګندولای﴾.النجم ۵۳:۵۸

***

## مه خفه کېږه ! بېشکه چې خفګان قوت ماتوي اوبدن کمزوری کوي

ډاکټر"الکسيس کاريل"چې د طب په څانګه کې يې د نوبل جايزه ګټلې ده وايي : هغه سوداګر چې له اندېښنو سره د زور وهلو په چل نه پوهيږي هغوی ژر مړه کيږي . زه ـ ليکوال ـ وايم : هر څه د الله تعالٰی په پرېکړه او برخليک پورې اړه لري، خو ښايي د "الکسيس کاريل" موخه دا وي، چې خفګان او پرېشاني د هغو لاملونو له جملې څخه وي، چې جسم له منځه وړي اوشتون يې تباه کوي، نو دا خو سمه خبره ده .

خفګان د معدې زخم پيدا کوي !

ډاکټر"جوزيف مونټاګيو"چې د عصبي ناروغۍ کتاب ليکوال دی، په خپل کتاب کې وايي : تاته د معدې زخم د هغه خوراك له امله نه پيدا کيږي، چې ته يې خورې، بلکې د هغه څه په سبب درته پيدا کيږي، چې تا خوري، يعنې خفګان او ذهني پريشاني . "متنبي" وايي :

خفګان اواندېښنه يو چاغ جسم داسې خواروي، چې نژدې ده له ښنو يې وغورځوي او کله کله خود يوه وړوکي هلك د سر وېښتان سپينوي او هغه زړوي .

د"لايف" مجلې د خبر پر بنسټ د معدې زخم د لسو وژونکو ناروغيوپه ليکه کې په لسمه شمېره کې ځای لري .

د خفګان ځينې بدې اغېزې !

ماته د ډاکټر"اډواربود ولوسکي" د کتاب "خفګان پرېږده اود ښه ژوند په لوړ وخوځيږه" يوه برخه وژباړل شوه، زه غواړم د دغه کتاب ځينې سرټکي له تاسو سره شريک کړم .

* اندېښنه پر زړه څه اغېزه کوي ؟

* د وينې د فشار لوړوالی د اندېښنې له لارې وده مومي .

* د دې امکان شته چې اندېښنه د روماتيزم ناروغۍ لامل هم وګرځي .

* د معدې د درناوي له پاره اندېښنه کمه کړه .

* څنګه کېدای شي چې اندېښنه د يخنۍ لامل ګرځي .

* د شکر(خوږې) په ناروغۍ اخته کس او اندېښنه .

* اندېښنه او د غدو ناروغي .

ډاکټر"کارل مانينګر" چې د ارواح پوهنې له متخصصو ډاکټرانو څخه دی، په خپل کتاب چې عربي ژبې ته ژباړل شوی او نوم يې دی "انسان د خپل ځان پرخلاف" کې داسې وايي :روغتياپال"مانينګر" تاته له اندېښنې څخه د ځان ژغورنې د بنسټونو ښوونه نه کوي، بلکې تاته په دې اړه يوحيرانوونکی خبردرکوي، چې موږ څه ډول د پرېشانۍ، خفګان، کرکې، سپکاوي، شر، قهر او وېرې له امله خپل جسمونه له منځه وړو . الله (ﷻ) وايي : ﴿ پرهېزګاران خلکوته بخښنه کوي﴾. آل عمران ۳:۳۴

له لويو ګټوڅخه يې يوه ګټه د زړه راحت، د ذهن ارامي، د فکر پراخي او نېکمرغي ده . د فرانسې د "بوردو" ښار چارواکی او نوميالی فيلسوف "مونتين" يوه ورځ د "بوردو" ښاراوسېدونکو ته وويل : زه غواړم ستاسو ستونزې په خپل لاس هوارې کړم، نه په خپل ځيګراولړمون باندې .

خفګان، پرېشاني او کينه څه اغېزې لري ؟ روغتياپال"راسل سيشل" چې په کورنيل پوهنتون کې د طب د انستيتوت استاد دی، د بدن د بندونو د پړسوب لاملونه يې په ګوته کړي او د بندونود پړسوب يې څلور لاملونه ښودلي دي :

* د مېړه توب او ښځېتوب د اړيکو پرېکول .

* مادي ناخوالې اوپېښې .

* يواځېتوب او پرېشاني .

* : سپکاوی او کينه :روغتياپال"وليم مالك ګوينګل" د امريکا د غاښونو د ډاکټرانو ټولنې ته په وينا کې وويل، کېدای شي هغه نه خوشحالوونکي انساني

غريزې لکه پرېشاني، وېره او داسې نور ... شيان په بدن کې د کلسيم په وېش کې بده اغېزه ولوبوي، چې په پای کې دغاښونو د له منځه تلو لامل هم ګرځېدای شي .

***

## خپل کارونه په قراره بشپړ کړه

"ډيل کارنيګي" وايي : هغه توريوستي او چېنايان چې د امريکا په جنوب کې اوسيږي د زړه په ناروغۍ لږ اخته کيږي، ځکه چې هغوی خپل کارونه په قراره سرته رسوي . بل ځای وايي، د هغوامريکايانو شمېرچې د ځانوژنې هوډ کوي د هغو کسانو پرتله ډېردی، چې دېنځو وژونکو ناروغيو له امله مري او دا يو حيرانوونکی حقيقت دی، چې کېدای شي باورهم پرې ونه شي .

***

## پرخپل رب دې ښه ګومان کوه

"وليم جيمس" وايي : الله تعالیٰ زموږ تېروتنې رابخښي، خو زموږ عصبي جهازهېڅکله دا کارنه کوي . "ابن الوزير" په خپل کتاب " العواصم والقواصم " کې وايي : د الله پاک د رحمت هيله، بنده ته د ښه اميد لار پرانيزي، په عبادت کې ورته توان ورپه برخه کوي، په نفلي کارونو کې يې تکړه کوي او د خير په نورو کارونوکې يې ځغلوي . زه ـ ليکوال ـ وايم : دا سمه خبره ده ځکه ځينې نفسونه پرته له دې، چې د الله (ﷻ) رحمت، عفوه، توبه او زغم راپه زړه کړي، په نورڅه نه سميږي او کله يې چې دا کار وکړ، نو بيا دوی الله تعالیٰ ته نږدې کيږي او په عبادت کې کوښښ اوهمېشه والی کوي .

***

## کله چې په خيال کې ډوب شوې

"توماس اډيسون" وايي :هېڅ داسې وسيله نشته، چې انسان ورته له فکرکولو څخه پنا وروړي او د تجربې پربنسټ دا خبره سمه ده، ځکه انسان چې کله لوستل او ليکل کوي، نو ورسره فکرهم کوي، چې د دغه فکرد قابوکولواو تېزولوله پاره ښه لاره سخت کاردی،ځکه چې وزګارخلك د خيالونواو ډنډورو

ځښتنان او خوښوونکي وي .

***

## له هدفمن او ودانوونکي پندځخه مه خفه کېږه، هرکلی ورته ووایه

"اندریه مورو" وایي، هرهغه څه چې زموږ له ځاني غوښتنوسره برابر وي، هغه موږته رېښتیاښکاري، خوځه چې ورسره نا سم وي، هغه زموږ قهر راپاروي .

زه ـ لیکوال ـ وایم، چې پندونه اونیوکې همدا ډول وي، په غالب ګومان همداسې ده چې موږ ستاینه خوښوو اوستاینې ته په خوځښت راځو، ان که هغه ناروا او دروغ هم وي، خو نیوکه اوغندنه بده ګڼو ان که هغه حق هم وي، چې دا یوسترعیب اوغلطي ده . الله (ﷻ) وایي چې : ﴿ کله چې هغوی الله او د هغه د پیغمبر لور ته وبلل شي، چې پیغمبرد هغوی په منځ کي پرېکړه وکړي، نود هغوی ځینې کسان ورځخه په ډډه شي، که حق د هغوی په ګټه وي، نوبیا ښه غاړه اېښودونکي او د پیغمبر په لور ورروان وي﴾. النور۲۴ :۴۸ـ۴۹

"ولیم جیمس" وایي : کله چې د یوې موضوع په اړه پرېکړه وشي، نو په کار ده چې سم له لاسه په هماغه ورځ پلې شي، ځکه له دې سره به ته په نهایي ډول له هغواندېښنوځخه خلاص شې، چې درته د اړوندې موضوع اود هغې د پایلو په اړه پیدا شوي وي، نچوړ دا، چې که تا یوه حکیمانه تګلاره غوره کړه او داسې یوه فیصله دې وکړه، چې پر واقعیتونو ولاړه وي، نوته د هغې په پلې کېدو پیل وکړه او وړاندې وروسته کېږه مه، د پایلو په اړه یې نور هېڅ شك او پرېشاني مه کوه، زړه نا زړه کېږه مه، شاته کېږه مه، خپل وخت دې په داسې شکونو مه تېروه، چې هغه نور شکونه زېږوي، او شاته کتل نور پرېږده. په دې اړه یو شاعروایي : د خورو ورو ارادو خاوند خپل ټول عمرپه داسې حیرانتیا کې تېروي، چې نه په خپلو کارونو کې بریالی وي او نه ناکام .

یوشاعر وایي : که ته د یو نـظرـ لیدلوري ـ ځښتن یې، نو د ټینګ هوډ ځښتن شه، ځکه چې د نظر خرابوالی تا زړه نازړه کوي . په عزم اوهوډ کې زړورتیا تا له پرېشانی او زړه رپېدو ځخه ژغوري .

***

## په ګومان اوفکرکې مه ډوبيږه، کار وکړه اوبېکارۍ پرېږده

روغتياپال "ريچرډزکابوټ" چې په "هاورډ" پوهنتون کې د طب استاد دی په خپل کتاب " دانسان ژوند په څه ولاړ دی" کې وايي : زه د ډاکټر په توګه هغو ناروغانو ته چې د شکونو، اندېښنو او وېرې له امله د رېږدا او لړزې په ناروغۍ اخته دي دکارکولو د درمل سپارښتنه کوم، ځکه کومه زړورتيا چې موږ ته کارکول راپه برخه کوي، پرنفس باندې هغه باور ته ورته دی، چې"امرسون" هغه تلپاتې ښکلا ګڼلې ده .

الله (ﷻ) وايي : ﴿ چې لمونځ وشي، نو په ځمکه کې خواره واره شئ، د الله فضل ولټوئ او الله ډېريادوئ چې برى موپه برخه شي ﴾. الجمعه ۶۲:۱۰

"جورج برنارډشا" وايي : د انسان د تباهۍ راز په دې کې نغښتی، چې تا ته دومره پراخ وخت شته، چې ته په کې دا فکر وکړې، چې ايا نېکمرغه يې او که بدمرغه ؟ نو په کار نه ده چې ته په دې اړه ډېرځيرشې، بلکې په خپل کارکې ځان ښه بوخت وساته، په دغه وخت کې به ستا وينه جريان پيدا کړي، عقل به دې ارام شي او ډېر ژربه دا نوی ژوند ستا اندېښنه له منځه يوسي ! کار وکړه او په کارکې پوره ځان بوخت کړه، ځکه چې د ځمکې پرمخ تر ټولوغوره او ارزانه درمل همدا دي . الله پاک وايي : ﴿ ووايه ـ ای پيغمبره ـ چې کاروکړئ، پس ژر دی چې الله، د هغه پيغمبر او مؤمنان به ستاسو کړنې وګوري ﴾. التوبه ۹:۱۰۵

"دزرائيلی"وايي، د دنياژوند له دې نه ډېرلنډ دی، چې هغه دې بې ارزښته وي اوپه هغې کې دې د بې ارزښته کړنوله پاره وخت وي . عربي پوهانو ويلي دي، ژوند له دې څخه ډېر لنډ دی، چې هغه موږ په دښمنيواوکينوباندې لنډ کړو ﴿الله به ورته وايي، چې په ځمکه کې موڅوکلونه تېرکړل ﴾. المؤمنون ۲۳: ۱۱۲

***

## ډېری ډنډورې رېښتيا نه وي !

جنرال "جورج کروک"چې ښايي د امريکاپه تاريخ کې ترټولوسترهندی جنګيالی وي، د خپلويادښتونوپه (۷۷) مخ کې ويلي، دهندوانوټوله بدبختي او پريشاني تقريبًا د هغوی له خيالونوڅخه سرچېنه اخلي، چې له حقيقت سره هېڅ

تړاو نه لري . ﴿هغوی هرلوړغږ د ځان پرخلاف ګڼي﴾.المنافقون ۶۳:۴

﴿ که هغوی له تاسوسره وتلي وی، نو له وران کاری پرته به یې نورڅه نه وو کړي اوستاسو په منځ کې به یې دفتنې راپورته کولو له پاره ځغلنده ګامونه اخیستې وی ﴾. التوبه ۹:۴۷

د کولمبیا پوهنتون استاد "هوکس" وایي، له خپلوشعارونوڅخه چې تل یې زمزمه کوي یودا دی چې له لمر لاندې د هرې ناروغۍ درملنه شته او یا هېڅ نشته، که درملنه لري، نوزیار وباسه چې پیدا یې کړې او که یې نه لري، نو بیا ورته هېڅ پاملرنه مه کوه . صحیح حدیث دی : (( الله تعالیٰ هېڅ ناروغي نه ده رالېږلې مګرد هغې له پاره یې درمل هم رالېږلي دي، نوڅوك چې پرې پوه شو هغوی وپېژندله اوڅوك چې پرې پوه نه شوهغوی ونه پېژندل )).

***

## نرمښت تا له ښوېیدوڅخه ژغوري

یو جاپاني ښوونکي به خپلو زده کوونکو ته ویل : د نورو په وړاندې نرمښت د "سبر" له ونې او زغم نه کول د "څېړی" له ونې سره ورته والی لري . رسول الله (ﷺ) وایي:(( مؤمن بنده هغه تازه اوباریك کښت ته ورته دی چې باد یې کله ښي او کله کیڼ اړخ ته اړوي را اړوي )). د پوهې خاوند د اوبو په څېردی، چې غټه ډبره یې مخې ته راشي، نو له هغې سره ټکرنه کوي، بلکې ښي یا کیڼ لور او یا ورلاندې تېرېږي )). رسول الله (ﷺ) وایي :(( د ایمان څښتن د هغه اوښ په څېردی،چې په پوزه کې یې پرې اچول شوی وي، که د یوې تیږې له پاسه چوکړ شي، نو هرومرو به چو کیږي )).

***

## څه چې تېرشي بیا هېڅکله نه راګرځي

الله (ﷻ) وایي : ﴿ پرېکړه موځکه کړې چې تاسو پرهغه شي خفه نه شئ، چې ستاسوله لاسه وتلی وي ﴾. الحدید ۵۷:۲۳

یوه ورځ ډاکتر"پول پراندوني" ودرېده او له شیدو ډك یو ښیښه یي بوتل یې په ځمکه وغورځوه اوپه لوړغږ وویل، په تویو شوو شیدوپسې مه ژړاه.

عام خلک وايي، هغه څه چې تاته په برخه کې نه وي لیکل شوی، تاته ستونزمن وي . ادم (علیه السلام) موسیٰ (علیه السلام) ته وویل : ایا ته ما په داسې کارملامتوې، چې هغه الله تعالیٰ ماته زما له پیدایښت څخه څلوېښت کاله مخکې لیکلي وو؟ پیغمبر(ﷺ) وايي : (( ادم (علیه السلام) په دلیل ویلوکې پرموسیٰ (علیه السلام) برلاسی شو، درې ځلې یې دا خبره تکرارکړه .

***

## نېکمرغي په خپل ځان کې لټوه نه په چاپېریال کې

انګریزی شاعر "میلټن" وايي : عقل کولی شي په خپله په ځان کې جنت دوزخ، او دوزخ جنت وګرځوي . "متنبي"وايې : د عقل څښتن دخپل عقل له امله په نعمتونوکې بدبختي مومي او ناپوهه کس په بدبختۍ کې هم خوښ وي .

***

## ژوندپه خفګان نه ارزي

"ناپلیون" په "سنټ هیلینا" کې وايي : ما په خپل ژوند کې شپږ ورځې هم ښې نه دي لیدلي . خلیفه "هشام بن عبدالملك" وايي : ماچې خپلې د نېکمرغۍ ورځې وشمېرلې، نوهغه دیارلس ورځې وې او پلار یې عبدالملك دا افسوس کاوه چې کاشکې د خلافت مسؤلیت یې نه وی منلای !

"سعید بن المسیب" وايي : د الله تعالیٰ حمد او ثنا ده، چې پادشاهان موږ ته راتښتي، خوموږ هغوی ته نه ورځو . یوځل نامتو واعظ "ابن السماك" د هارون الرشید لیدلو ته ورغی، په دغه وخت کی هارون الرشید تږی شو د څښلو اوبه یې وغوښتې، نو "ابن السماك" ورته وویل : ایا که له تا څخه دا اوبه ایسارې شي، نو ته چمتو یي چې په بدل کې یې له خپلې نیمې پادشاهۍ څخه تېرشې؟ هغه وویل : هو! کله یې چې اوبه وڅښلې نو"ابن السماك" ورته وویل : که دا اوبه ستا په بدن کی ایسارې شی ایا ته تیاریې، چې خپله نیمه پادشاهي ورکړې، چې دا اوبه دې له بدن څخه ووځي ؟ هغه وویل ولې نه، نو "ابن السماك" وویل، په داسې پادشاهۍ کې خوبیا هېڅ خیر نشته، چې له یوځل اوبوڅښلوسره برابره نه وي .

يو شاعر وايي : دنيا چې له ايمان څخه خالي وي، نوهغه بيا هېڅ وزن، قيمت او معنا نه لري . شاعرعلامه اقبال وايي : کله چې ايمان له منځه لاړ شي، نو بيا هېڅ سوکالي نه وي، څوك چې خپل دين ژوندی ونه ساتي، هغه هېڅ دنيا نه لري اوچا چې له دين پرته ژوندون غوره کړ، نوخپل ځان يې تباه کړ .

"امرسون" د خپلی يوې مقالې په پای کې چې سرليک يې (پرخپل ځان باور) دی وايي : ستا سياسي بريالیتوب، د تنخوا ډېروالی، له ناروغۍ څخه روغېدل او د نېکمرغو ورځو بيا راګرځېدل، له دغو ټولوڅخه يوهم بېرته نه راګرځي، نو باور پرې ونه کړې، يواځينی شی چې تا ډاډمنوي هغه ستاخپل نفس دی او بس . ﴿ ای ډاډمن نفسه ! په داسې حال کې د خپل رب په لور وروګرځه، چې ته له الله اوالله له تا څخه خوښ وي ﴾. الفجر ۸۹ : ۲۹-۳۰

روسی ناول ليکونکی پروفيسر" ابيکتويتوس" پردې ډېر ټينګار کوي چې موږبايد له خپلوځانونوڅخه د ناروغۍ او پرسوب د لرې کولو پرتله له خپلو ذهنونو څخه د ناکاره فکرونو د لرې کولو زيار وباسو . په قرآنکريم کې هم د جسماني ناروغيو پر تله د فکري اوعقيدوی ناروغيوپه اړه زياته وېرونه او غندنه شوې ده الله (ﷻ) وايي : ﴿ د دوی په زړونو کې ناروغي ده نو الله پاك يې نوره هم ناروغي ورزياته کړه ﴾.البقره ۲:۱۰

الله پاک وايي : کله چې دوی له رېښتينې لارې څخه کاږه شول، نوالله يې زړونه کاږه کړل ﴾. الصف۶۱:۵

فرانسوي فيلسوف"مونتين" په خپل ژوندکې دغه څوکلمې شعار ګرځولې و، ويل به يې، انسان دهغوپېښنوله امله چې پېښيږي دومره تر اغېز لاندې نه راځي څومره چې د پېښو په اړه د فکرکولو تراغېزلاندې راځي . په يو اثر کې رانقل شوي دي : (( يا الله ستا پر پرېکړه مې خوښ کړه، ترهغې چې زه په دې پوهېږم، څه چې ما ته راورسېدل زه ورڅخه نه بچېدم او له هغه شي نه چې زه بچ شوم ماته نه رارسېده )).

***

## لنډه دمه

مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان تا د تېر وخت په يادولوپرېشانه کوي، له راتلونکي وخت څخه دې وېروي او نن ورځ درباندې خرابوي .

**مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان سره زړه تنګيږي، مخ ګونجی کيږي، روح بې حسه کېږي او هيلې ورسره دانه وانه کيږي .**

**مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان ستا دښمن خوشحالوي، دوست دې خفه کوي، کينه کښ دربانډی خوښوي اوحقيقتونه دربانډي بدلوي .**

**مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان له الٰهي پرېکړې سره ټکر، د يوې حتمي پېښې د پېښېدو له امله ستوماني، له يوه اشنا شي څخه وتل او پرنعمت باندې غمجنېدل دي .**

**مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان ورك شوی او تلونکی شی بېرته نه شي راګرځولای، نه مړي بېرته راژوندي کوي، الٰهي برخليک نه شي بدلولای او نه څه ګټه لاس ته راوړای شي .**

**مه خفه کېږه ! ځکه چې خفګان د شيطان له اړخه وي او دا هروخت يوه ثابته ناهيلي ده، بېړنۍ نېستي او يوه يقيني ناوړه ناکامي ده .**

**الله (ﷻ) وايي : ﴿ ای پيغمبره ! ايا موږ ستا سينه پراخه نه کړه، او له تا څخه مو هغه درونډ پېټي، چې ستا ملا يې درنده کړې وه لرې نه کړ ؟ او ستا نوم مو لوړ کړ، نو بېشکه چې له سختۍ سره اسانتيا شته، په رښتيا چې له سختۍ سره اسانتيا شته، نو کله چې وزګارېږې دعبادت له پاره زيار وباسه اوخپل رب ته مخ واړوه﴾. الشرح ۹۴:۱-۸**

*******

## چې پرالله باندې ايمان لرې، نو مه خفه کېږه

**بېشکه چې ايمان د خوښۍ، سوکالۍ او ډاډ راز دی او حيرانتيا او بد بختي دواړه له الله (ﷻ) څخه په انکاراو د هغه په اړه شک کولو کې نغښتې دی . بېشکه چې ما ډېر هوښياران، بلکې نوميالي ليدلي، چې د هغوی زړونه د اسلام له رڼا څخه بې برخې دي، نو له همدې امله يې ژبې هم د شريعت د رښتينولۍ پرخلاف غړيږي .**

د بېلګې په توګه : "ابوالعلاء المعري" چې عربي شاعر دی، د شريعت په اړه وايي : دا له منفي او مثبتوخبروڅخه يوجوړ دين دی، چې موږ يې په مقابل کې له چوپتيا پرته نورحق نه لرو !!

"رازي" وايي، د شريعت په اړه د عقلونو د فکر آخري پايله، بنده لار- تسليمي - ده .  "جويني" وايي : په داسې حال کې چې هغه نه پوهېږي، چې الله تعالٰی چېرته دی؟ زه "همداني" حيران کړی يم، زه همداني حيران کړی يم .

"ابن سينا" وايي : په مخلوقاتوکې اغېز لرونکی شی پـياوړی عقل دی . "ايليا ابوماضي" وايي : زه نړۍ ته په داسې حال کې راغلم چې، پوه نه شوم له کومه راغلم، خومهمه دا وه چې زه راغلم، ماخپلې مخې ته لار وليده او بيا پرې روان شوم . او دې ته ورته نورې داسې ويناګانې چې حق ته د نژدېوالي او لرېوالي له اړخه يو تربله توپير لري .

نو زه پوه شوم چې انسان د ايمان له امله نېکمرغي مومي او د کفر او شك له امله يې بدمرغي په برخه کيږي، چې دغه وروستنی څرګندونې لا له پخوا څخه د بېلارو خلکو د فکرونو د بنسټ زېږنده ده، د سرغړونکي او بېلارې "فرعون" د ځان په اړه وينا قرآنکريم داسې رانقلوي : ﴿ تاسو ته له خپل ځان پرته بل کارساز نه پېژنم ﴾. القصص ۲۸: ۳۸  بيا وايي : ﴿زه ستاسې لوړ رب يم﴾. النّازعات ۷۹:۲۴

نوافسوس پرداسې کفري څرګندونو،چې ټوله نړۍ يې ويجاړه کړې ده !!

"جيمزالين" چې د "څرنګه چې انسان فکرکوي" کتاب ليکونکی دی وايي: ډېر ژر به انسان دا حقيقت څرګندکړي،که کله انسان د نورو شيانواوخلکو په اړه خپل فکرونه بدلوي، نو ژر دی چې په خپله هغه شيان او وګړي به هم پرخپل وار بدلون ومومي . د بېلګې په توګه که يوشخص خپل ليد لورى بدل کړي، نوموږ به ووينوچې د دغه شخص مادي ژوند اوحالات څومره ژرتغيرمومي، نوهغه سپېڅلی شی چې زموږ هدفونه جوړوي هغه په خپله زموږ ځان دی . د ناوړو فکرونو او د هغو د بدو اغېزو په اړه الله تعالٰی وايي :

﴿بلکې تاسوګومان کاوه چې پيغمبر او مؤمنان به هېڅکله خپلو کورونو ته راونه ګرځي، همدا خبره مو په زړونو کې ښايسته ښکاره شوې وه، تاسو بد ګومان وکړ او تاسو تباه کېدونکی قوم وئ ﴾. الفتح ۴۸:۱۲

﴿ پرالله يې د جاهليت ناحقه ګومانونه کول او ويل به يې چې ايا په دې کار کې موږ واک لرو؟ ورته ووايه ټول واك له الله سره دی﴾. آل عمران ۱۵۴:۳

همدا راز"جيمزالين" وايي : ټول هغه څه چې انسان يې لاس ته راوړي، هغه په حقيقت کی د هغې د ځانګړو فکرونو نېغه پايله ده، انسان يواځې د خپلو فکرونوله لارې کولای شي پرمخ لاړشي، بريالیتوب ترلاسه کړي اوخپلو هدفونوته ورسيږي، خوکه هغه دا کارسرته ونه رسوي، نو بيا هرومرو ده، چې کمزوری او ناکامه به پاتې وي . الله تعالی د ريښتيني هوډ او سم فکر په اړه وايي: ﴿ که دوی ـ جهاد ته ـ د وتلو هوډ درلودلای، نو هرومرو به يې ورته څه تياری نيولی وی، خوپه اصل کې جهاد ته د دوی تګ د الله پاك خوښ نه و﴾.التوبه ۴۶:۹

﴿ که الله په هغوی کې دحق اورېدو ځای ليدلی وی، نوهرومروبه يې حق وراورولی وی ﴾ الانفال ۸ :۲۳ ﴿ الله يې د زړونوپه حال ښه پوه و، نوځکه يې هغوی ډاډمن کړل ﴾.الفتح ۴۸: ۱۸

***

## بې ارزښته شيانوته مه خفه کېږه ځکه چې دنيا بې ارزښته ده

يونېك شخص د زمري پنجو ته وغورځول شو، خو الله تعالی وژغوره، خلکوورڅخه وپوښتل، چې تاپه هغه حالت کې څه فکرکاوه ؟ هغه وويل، ما د زمري د لاړو په اړه فکرکاوه چې هغه پاکې دي او که نه ؟! دينپوهانو په کې څه ويلي دي ؟ يوشاعر وايي، ما الله تعالی دهغې وېرې پرمهال چې مېړني خلك يې د ځلېدونکو غشو په شتون کې لري ياد کړ، نو له همدې امله ما د جنګ پر ورځ د واحد او قهار ذات د خوښۍ له پاره هرډول مزې هېرې کړې، الله (ﷻ) د رسول الله (ﷺ) اصحاب دهغوی د اهدافو له مخې سره بېلوي او وايي : ﴿ له تاسوڅخه ځينې هغه ځوک دي، چې دنياغوارې اوځينې نور آخرت﴾.آل عمران ۱۵۲:۳

ابن القيم (رحمه الله) وايي چې د انسان ارزښت دهغه په هدف کی نغښتی دی . يو بل دينپوه وايي، ته ماته د يوه شخص د پاملرنې په اړه معلومات راکړه، نو زه به تاته ووايم چې دا څرنګه سړی دی . يو شاعر وايي،هغه ځوك چې هدف او غوښتنه يې الله وي، نو الله (ﷻ) دې هغه په خپل فضل وساتي، اوهغه ځوك چې موخه يې ساتنه وي، نو الله دې هغه د حمايت ـ

ملاتړ۔ څنډو ته ورسوي . بل شاعر وايي : هغوی د جنګ له ډګره له جامو او اسونوسره راوګرځېدل، خو موږ له زولنه شوو پادشاهانو سره راوګرځېدو .

یوه ورځ په سمندرکې یوه بېړۍ ډوبه شوه، چې یو عابد هم په دغې بېړۍ کې و، عابد اوبو ته وغورځېد، نو پردغه مهال یې د خپلواندامونو په پرېمنځلو پیل وکړ، خوله اوپوزه کې یې اوبه واچولې، هغه بیا وروسته له ډوبېدوڅخه وژغورل شو او وچې ته راووته، نو په سمندرکې د اودس کولو لامل ورڅخه وپوښتل شو، په ځواب کې یې وویل، ما غوښتل له مرګ نه وړاندې اودس وکړم، چې آخره خاتمه ۔ د ژوندپایله ۔ مې پاکه تېره شي .   شاعر وایي، الله دې خیر درکړي، تا خو په دغسې وخت کې هم چې دواړه لاسونه دې زولنه وو د اسلام سپېڅلی پیغام هېر نه کړ، له تا قربان شم ! په داسې شېبه کې چې مرګ درته دسترګو په ښو ولاړ و، خو ستاسترګو یو رپ هم ونه وهه . امام احمد بن حنبل (رحمه الله) ته یې چې د زنکدن په حال کې اودس ورکاوه، نو هغه مبارک د ږیرې د خلالولواشاره کوله.

﴿ نوالله  هغوی ته د دنیا ښه ثواب او د آخرت ښه بدله ورکړه ﴾. آل  عمران۳:۱۴۸

***

## که سخت تېری دربانديې هم وشو، نوخفه نه شې

که تا بخښنه وکړه، نو تا د دنیا او آخرت دواړوعزت او درنښت ترلاسه کړ. ﴿ چا چې بخښنه اوروغه وکړه، نوبدله به یې په الله وي﴾. الشورئ ۴۲:۴۰

انګلیسي شاعر" شکسپیر" وایي:ته خپل دښمن ته تنوردېرمه ګرموه،هسې نه په خپله په کې ونه سوزې .

شاعر وایي : پرسېدلوسترګوته ووایه، چې لمرخوهم سترګې لري، په رېښتیا سره چې ته دغه لمر د راختلو او ډوبېدلو په حالت کې ګورې، بخښنه دې وي هغو سترګو ته چې الله (ﷻ) یې نور۔ لید ۔ له منځه وړی وي،په هغو سترګو سره چې نه سترې کېږي .  یوچا تابعي عالم "سالم بن عبدالله بن عمر" ته وویل : ته بد سړی یې ! هغه ورته وویل ،زه یواځې همدا تا پېژندلی یم .

یو امریکایي لیکوال وایي : امساګانې او کانې کولای شي زما هډوکي رامات کړي، خوخبرې نه شي کولای چې ماته څه تاوان راورسوي .

ابوبکرالصدیق (رضي الله عنه) ته چاوویل، قسم پرالله زه به تاته داسې کنځل وکړم چې هغه به له تاسره قبرته ننوځي ! نوابوبکرالصدیق ورته وویل بلکې دا کنځل به په خپله له تاسره ستا قبرته ننوځي . عمرو بن العاص (رضي الله عنه) ته چاوویل، هرومروبه ستاجګړې ته ځان وزګاروم، هغه ورته وویل، ته اوس په یوه بوختونکي کارکې ښکېل شوې .

جنرال" ایزنهاور" وایي : موږ پرېږدئ یوه دقیقه هم د هغو کسانوپه اړه چې موږته ګران نه دي په فکرکولو تېره نه کړو . ماشي د خورما ونې ته وویل،غواړم والوزم او تاپرېږدم، خورما ورته وویل، قسم دی چې زه ستاپه کښېناستو نه یم پوه شوی، نو په الوتو به دې څه پوه شم. "حاتم طایی" وایي: زه د عزتمن سړي یوه غلطه خبره له دې امله بخښم، چې په راتلونکي کې به راته ګټه ورسوي، او د سپک انسان له کنځلوڅخه د خپل عزت ساتنې په خاطرمخ ګرځوم . الله(ﷻ) وایي :﴿ کله چې مؤمنان په عبث شیانو تېرېږي، نوخورا په درنښت ورڅخه تېرېږي ﴾. الفرقان ٧٢:٢٥ ﴿ کله چې ورسره ناپوهان خبرې کوي، نود الله خاکساره بنده ګان ناپوهانوته نېک ځواب ورکوي ﴾. الفرقان ٦٣:٢٥

"کانفوچېس" وایي : قهرجن سړی د تل له پاره له زهروڅخه ډک وي . یو صحابي له رسول الله (ﷺ) څخه لارښوونه وغوښته، (ﷺ) ورته وویل : ((غصه مه کوه، غصه مه کوه، غصه مه کوه )) !!! په بل حدیث کي ویل شوي چې : (( قهر د اور سکروټه ده )). شیطان پر بنده باندې په درېو حالاتو کې برلاسه کېږي : قهر، شهوت اوغفلت په وخت کې .

***

## نړی همداسې پیدا شوې ده

" مارکس اویلیوس " چې د حکمت خاوند او د رومي امپراطورانو له ډلې څخه یوامپراطور و یوه ورځ یې وویل : " زه به نن ضرورله داسې کسانو سره ګورم، چې هغوی ډېرې خبرې کوي، ځانونو ته غره دي، له خپله ځانه پرته ورته نورڅوک نه ښکاري، خو زه به د هغوی له لیدو څخه پرېشان او حیران نه شم، ځکه چې زه له د غه ډول خلکو څخه پرته نړی نه شم لیدلای .

***

## د بدوخلکوډېروالي ته مه حيرانېږه، د ښوخلکو په لږوالي ويارږه!

"ارسطو" وايي : غوره اومثالي انسان پرهغوښېګڼوچې له بل چاسره يې کوي خوشحاليږي، که نورخلك ورسره ښېګڼه کوي، نوخجالت کېږي، ځکه چې له نورو سره زړه سوی لوړتياده، خو د نورو له اړخه پر ده زړه سوځول د هغه د ناکامی نښه ده . پيغمبر(ﷺ) وايي : (( پورتنی لاس ترلاندينې لاس ډېرغوره دی يعنې : پورتنی لاس ورکوونکی او ټيټ لاس اخيستونکی دی .

***

## که يوه ټوټه ډوډۍ، يوه لپه اوبه او د ځان پټونې کالي ولرې، نو بيا مه خفه کېږه

ويل شوي چې يو لامبوزن په ارام سمندر کی يوويشت ورځې ورك و، کله چې له اوبوڅخه راووت، نو خلکوورڅخه وپوښتل چې تاکوم لوی درس زده کړ؟ هغه وويل : ما چې له دې تجربې څخه کوم غټ عبرت زده کړ هغه دا دی چې که له تاسره د څښلو پاکې اوبه او پوره خوراك وي، نوبياپه هېڅ حالت کې هم مه وارخطاء کېږه . له پوهانوڅخه يوه تن ويلي، چې ټول ژوند يوه ګوله ډوډۍ او يو ګوټ اوبه دي او نور پاتې زياتي شيان دي . " ابن الوردي " وايي : د کسرئ د پادشاهۍ پرځای په يوه ټوټه ډوډۍ او د بحر د اوبو پرځای په ځوځاڅکو اوبو قناعت کول بس دی .

" جوناشان سويفټ " وايي په نړۍ کې ډاکټر ريژيم، ډاکټر هوسا او ډاکټر خوشحال غوره طبيبان دي، له هوساينۍ اوخوشحالۍسره لږخوراك يوه داسې اغېزمنه درملنه ده، چې مثال يې نشته . زه - ليکوال - وايم : ځکه چې چاغي يوه هميشنۍ ناروغي ده، د خېټې غټوالی عقل او هوښياري له منځه وړي، هوساينه د زړه خوښي او د روح اختر دی، او روڼ مزاجي يوه بېړنۍخوښي او ګټوره غذا ده.

***

## مه خفه کېږه !ستونزه به یوه توښه او ازمېښت به یوه ورکړه وي

ډاکټر"سموییل جونس" وایي : د هرې پېښې ښه اړخ ته دکتلو عادت په کال کې د زرګونو روپو له ترلاسه کولو څخه هم قیمتي کار دی :

﴿ ایا دوی نه ګوري چې بېشکه هرکال یو یا دوه ځلې دوی ازمایل کېږي، خوبیا هم نه توبه وباسي او نه پند اخلي ﴾ توبه ۱۲۶:۹

د دې په مقابل کې" متنبي " وایي، کاشکې د زماني پېښو پرماباندې هغه څه پلورلي وای، چې له ماڅخه یې زما د زغم، صبراو تجربې په بدل کې اخیستي دي . معاویه (رضي الله عنه) وایی: هېڅ د زغم خاوند نه شته، که وي نوهغه به تجربه لري . " ابوتمام " د " افشین " په باره کې وایي، د الله تعالیٰ څومره زیات نعمتونه له هغه سره وو، خوهغه نعمتونه داسې وو، لکه چې بندیان یا مسافر وي . له پخوانیوعلماووڅخه یوتن یوه شتمن ته وویل: زه له تاسره د الله (ﷻ) نعمت وینم، خو ته هغه نعمت په شکرویستلوټینګ کړه . الله (ﷻ) وایي : ﴿ که تاسو شکر وباسئ، نوهرومرو به زه خپله پېرزوینه درزیاته کړم اوکه ناشکري مو وکړه، نوبېشکه زما عذاب ډېرسخت دی ﴾. ابراهیم ۱۴: ۸

﴿ الله پاك د یوې قریې حال بیانوي، چې ډاډمنه او هوسا وه، له هر لوري ورته پراخه روزي راروانه وه، خو د الله پاک پر پېرزوینو یې ناشکري وکړه، نوالله هغوی ته دخپلوکړنوله امله د لوږې او ډارجامه رواغوسته﴾.النحل ۱۱۲:۱۶

***

## په خپل جوړښت کې ثابت اوسه

ډاکټر" جیمزګارډن ګلیلکي " وایي : د ځان غوښتنې ستونزه په دې کې ده چې ته دا هیله ولرې، چې ستاځان دې دتاریخ په څېر پخوانی وي او دا د بشریت د ژوند په څېریوه عامه ستونزه ده، همدا راز د زړه ناخوښي داده چې ته په دې خوښ اوسې، چې ستا ځان د ډېرې پربشانۍ او نفسي ګډوډیوسرچېنه وي . یو بل پوه وایي : ته د ټول مخلوق په منځ کې یوه جلا څېره یې، هېڅوك له تا سره ورته والی نه لري او نه ته چاته ورته یې، ځکه چې پیدا کوونکي ذات (ﷻ) دخپل مخلوق په منځ کې دا توپیراېښی دی، الله (ﷻ) وایي : بېشکه ستاسوهڅې رنګارنګ دي .

"انګيلوباتري" چې د ماشوم روزنې په اړه يې ديارلس کتابونه او زرګونه مقالې ليکلي وايي، له هغه چاڅخه بل بدمرغه انسان نه شته، څوك چې د دې شوق لري ترڅوهغه دځپل نفس، جسم اوفکرپرخلاف روان وي .

الله تعالىٰ وايي : ﴿ الله پاك له اسمان څخه باران راښکته کړ، نوپه خپله اندازه خوړونه وبهېدل ﴾. الرّعد ١٣:١٧

هرڅوک ځانګړي صفتونه، الٰـهي ورکړې او توانونه لري، نو په کارده چې يوشخص په بل کې ويلي نه شي . ( تقليد ونه کړي ) .

شاعروايي : يوځلي سعد اوښان اوبوکولو له پاره ګودرته وړل، ما ورته وويل : اى سعده ! اوښانوته دا ډول اوبه نه ورکول کيږي .

" لنډه داچې ته له ځانګړو ذهني شتمنيواو الٰـهي ورکړو سره پيدا شوى يې، د دې له پاره چې يو ټاکلى کارسرته ورسوې، لکه څرنګه چې عام خلک وايي خپل ځان دې ولوله اوهغه څه چې ته يې خلکوته وړاندې کوې وپېژنه .

" امرسون " په خپله هغه مقاله کې چې" پرخپل ځان باندې باور" سرليک لاندې يې ليکلې وايي، داسې وخت به ژر راشي چې انسان په کې دې پايلې او باورته ورسيږي، چې کينه کول ناپوهي او تقليد ـ د نورو پيښې کول- ځان وژنه ده . ان که حالات هر ډول وي خپل ځان ته دې ريښتينې بڼه ورکړي، ځکه چې دا يې خپله برخه ده اوپر دې باندې بايد باوري شي، چې که نړۍ له سموشيانو څخه ډکه ده، خو ترهغه مهاله، چې دى په کې څه ونه کري اوکومه ځمکه چې ورپه برخه شوې د هغې پالنه ونه کړي، يوه ذره به هم ورڅخه ترلاسه نه کړي، ځکه هغه زور چې د ده په بدن کى پټ دى هغه په طبيعت کې يونوى شى دى، هيڅوك يې د قدرت په اندازه ترهغه وخته نه پوهيږي، چې په خپله يې پېژندلى او تجربه کړى نه وي .

﴿ ورته ووايه (اى پيغمبره) تاسوعمل وکړئ نو ژر دى چې الله، د هغه پيغمبر اومؤمنان به ستاسو کړنه وګوري ﴾. التوبه ٩ :١٠٥

***

## لنډه دمه

دا لاندې ایتونه ستا هیله قوي کوي، قوت درکوي او پررب باندې ستا گومان ښه کوي . ﴿ ای پیغمبره ! زما هغو بندگانوته چې پرځانونویې - د گناهونو-له امله تېری کړی ووایه، تاسود الله له رحمت څخه مه نااميده کېږئ بېشکه الله تعالی ټول گناهونه بخښي، بېشکه هغه ښه بخښونکی اومهربان دی﴾ الزمر۳۹:۵۳

﴿پرهېزگاران هغه کسان دي، چې کله کوم بد کاروکړي او یا پرځانونو تېری وکړي، نوسمدلاسه الله پاك یاد کړي او ورڅخه د خپلو گناهونوبخښنه غواړي او پرته له الله څخه بل به څوك وي چې گناهونه بخښي؟ او دوی بدې کړنې په دوامدار ډول نه کوي، په داسې حال کې چې دوی پوهیږي ﴾.آل عمران ۱۳۵:۳

﴿ هرڅوك چې یوبد کاروکړي، یا پرځان تېری وکړي، بیا له الله څخه بخښنه وغواړي، نوالله به له بخښنې اومهربانی سره وموميې﴾. النسآء ۱۱۰:۴

﴿ کله چې زما بنده گان له تاڅخه زما په هکله پوښتنه وکړي، نو ورته ووایه چې زه نژدې یم، دهرغوښتونکي غوښتنه منم کله چې ما ته غږ وکړي، نو دوی باید زما امرونه ومني اوپرما ایمان راوړي، چې روغه لاروموميې﴾. البقره ۱۸۶:۲

﴿ هغه ذات څوك دی، چې د بېوزله غوښتنه مني، کړاو لرې کوي اوتاسو د ځمکې خلیفه گان گرځوي ؟ ایا له الله سره بل د عبادت وړ څوک شته ؟ تاسو ډېر لږ پند اخلئ ﴾. النمل ۶۲:۲۷

﴿ مؤمنان هغه کسان دي چې خلکوورته وویل د مکې خلك ستاسوپرخلاف راټول شوي، ورڅخه ووېرېږئ، دې خبرې يې لا پسې ایمان ټینگ کړ او ویې ویل موږ ته یو الله بس دی اوهغه ښه کارجوړونکی دی، پایله دا شوه چې د الله پاك له نعمت او لورېینې سره راستانه شول اوهېڅ ډول بدي ورته ونه رسېده، د الله پاك د خوښۍ په لاره لاړل اوالله پاك د ډېرې لویې مهربانۍ څښتن دی﴾. آل عمران ۳: ۱۷۳-۱۷۴

﴿ زه مې خپل کارالله ته سپارم، بېشکه چې الله بندگان ښه ویني ﴾. الغافر۴۰:۴۴-۴۵

***

## اکثره وخت زیان رسوونکی شی ګټور وي

" ویلیم جایمس " وایي : زموږ افتونه له موږ سره دومره مرسته کوي، چې اټکل یې نه شو کولای، د بېلګې په توګه : که " ډوستیوفیسکي" او" تولستوي" له کړاو نه ډك ژوند نه وی تېرکړی، نوهغوی به هېڅکله نه وو بریالی شوي، چې نامتو داستانونه ولیکي، نوکېدای شي د پلار نشتوالی، ړوندوالی، مسافري اونېستي داسې لارې وي چې د نابغه توب، لاسته راوړنې، پرمختګ او د ورکړې په څېر صفاتو د منځته راتلو لاملونه شي . په دې هکله یوشاعر وایي : کله الله تعالیٰ په یو لوی کړاو سره انسان باندې پېرزوینه کوي اوکله چې بیا الله (ﷻ) په نعمتونو سره یو قوم په ازمېښت کې واچوي .. کله ناکله نعمتونه د بدمرغی لامل هم ګرځي .

﴿ نو ته د دوی په مالونو او اولادونو دوکه نه شې، بېشکه الله غواړي د همدغو شیانوله لارې په د نیایي ژوند کې دوی ته عذاب ورکړي ﴾. التوبه ۹:۵۵

ابن الا ثیر(رحمه الله) خپل زړه وړونکي کـتـابونه "جامع الاصول" او " النهایه " په داسې وخت کې ولیکل چې په پښنو شل و . سرخسي (رحمه الله) خپل مشهور کتاب " المبسوط " چې په پنځلسو ټوکونو کې دی په داسې مهال کې ولیکه، چې هغه په کوهي کې بندي و . ابن القیم (رحمه الله) خپل کتاب "زادالمعاد" د سفر په حالت کې ولیکه . قرطبي (رحمه الله) په بېړۍ کې سپور و چې پرصحیح مسلم باندې یې شرحه ولیکله، او ابن تیمیه (رحمه الله) خپلې ډېرې فتواګانې په زندان کې ولیکلې . حدیث پوهانو سل ګونه زره احادیث د نېستۍ او بې کسۍ په حالت کې راټول کړي دي . یو نېك شخص راته ویلي، چې په زندان کې یې قرآنکریم یاد کړی او څلوېښت ټوکه کتابونه یې هم لوستلی دي ." ابو العلاء المعري" چې نامتو عربي شاعردی خپل ټول کتابونه اوشعري ټولګې یې په ړندوسترګو ویلي دي .

" طه حسین " چې د دې زماني مصری لیکوال دی له ړندېدوڅخه وروسته یې د خپل ژوند د خاطراتو لړۍ لیکلې او ډېرو نومیالیو له منصب څخه تر ګوښه کېدو وروسته اُمت ته د پوهې اوفکرپه ډګر کې دومره څه وړاندې کړي، چې د چارواکۍ پرمهال یې لا نه وو وړاندې کړي .

شاعر وایي : ډېرځله داسې شوي، چې ته سختیو را ګېر کړی یې او حال دا چې الله (ﷻ) درته خیرغوره کړی وي اوته په کې نا خوښ یې .

" فرانسیس بایکوټ " وایي، ډېر کم داسې پېښیږي چې فلسفه به انسان د الحاد - بې دینۍ - اړخ ته هڅوي، بلکې په فلسفه کي ژوره کتنه د انسانانو عقلونه د دین لوري ته لا ورنژدې کوي .

﴿ د دینپوهانوڅخه پرته نورڅوک پرې نه پوهیږي﴾. العنکبوت۴۳:۲۹

﴿ بېشکه خبره همدا ده چې په بندګانوکې یوازې علماء له الله څخه وېرېږي ﴾. فاطر ۳۵:۲۸

﴿ هغو کسانو ته چې علم او ایمان ورکړل شوی دی، دوی به - منکرینو- ته وایي، چې د الله په پرېکړه لیک کې تاسود بیا را پاڅېدو- قیامت - تر ورځې ځنډېدلي یاست ﴾. الروم ۳۰:۵۱

﴿ ای پیغمبره ! ووایه زه تاسوته د یوې خبرې نصیحت کوم چې الله ته دوه، دوه او یو، یو ودرېږئ، بیا ښه ځیرشئ، چې ستاسو په ملګري (صلی الله علیه وسلم) کې هېڅ ډول لېونتوب نشته ﴾. سبأ ۳۴:۴۶

ډاکټر"ا. ا. بریل" وایي : د رېښتونی ایمان خاوند به هېڅ وخت په روحي ناروغۍ اخته نه شي .

﴿ بېشکه کوموکسانوچې ایمان راوړی اونېك کارونه یې کړي دي، ډېرژر به مهربان رب د خلکو په زړونوکې له هغوی سره مینه پیداکړي ﴾. مریم ۱۹:۹۶

﴿ هرنارینه اوښځینه مؤمن چې نېك کار وکړي، نو موږ به پاك ژوند ور په برخه کړو﴾. النحل ۱۶:۹۷

﴿ بېشکه الله پاك مؤمنانوته روغه لار ورښیي ﴾. الحج ۲۲:۵۴

***

## ایمان لوی درمل دی

ډاکټر" کارل جایګ " د نفسي ناروغیومخکښ " د نني انسان روح پلټنه " په نوم کتاب کې په۲٦٤ مخ کې وایي، په تېرودېرشوکلونو کې د نړۍ له بېلابېلو برخو څخه ماته ډېر کسان د مشورې له پاره راغلي دي، د سلګونو ناروغانو چې ډېری یې د ژوندانه په نیمایي برخه یعنې عمرونه یې له پنځه

دېرشو څخه پورته وو درملنه مې کړی ده، نو ماته دا څرګنده شوې چې په دوی کې یو هم داسې نه و، چې د ناروغۍ مشکل یې له یوې دیني سرچینې څخه بې برخې کېدل وي، د کومي سرچینې په رڼا کې چې یې باید خپل ژوند لیدلی وای . زه د خپل توان په کچه ویلای شم چې دوی هریوځکه ناروغ و، چې کومه برخه دین مؤمنانو ته ورکړی له هغې ورکړې څخه بې برخې وو او د هغوی له دلې څخه چې څوک د رېښتوني ایمان څښتن نه و روغ نه شول .

﴿ څوک چې زما له ذکر- قرآن- څخه مخ واړوي، نو د هغه له پاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي﴾. طه۲۰:۱۲۵

﴿ ډېر ژربه موږ د کافرانو په زړونو کې په هغه سبب ډار واچوو چې له الله سره یې شریك پیدا کړی و ﴾. آل عمران ۳:۱۵۱

﴿ د تیارو له پاسه تیارې دي، کله چې په تیارو کې پربوتی شخص خپل لاس بهرته را وباسي بیا نه ښکاري، همدا ده چې چا ته الله پاك رڼا په برخه کړي نه وي نوهېڅ رڼا نه لري ﴾. نور۲۴:۴۰

***

## الله چې د اړ مشرك غوښتنه مني نود مسلمان به څه حال وي؟

له " بوذا " څخه وروسته د هند سترلاربښود " مهاتما ګاندي " که ورته د دې خبرې الهام نه وی شوی چې په لمانځه کې غټ زور دی، نو له منځه به تللی و و دا خبره له دې امله ذهن مني چې " ګاندي " په خپله د ځان په اړه وایي، که ما لمونځ نه وی کړی، نو زه به له ډېرې مودې راهیسې لېونی وم . سره له دې چې ګاندي مسلمان نه و، د عقیدې له پلوه بېلار ې و، خو په دې حال کې دا د الله تعالی د دې وینا مصداق وګرځېد، چې د مکې د مشرکینو په اړه وایي : ﴿ کله چې مشرکان په بېړۍ کې سواره شي، نو له الله څخه داسې غوښتنې کوي، چې د هغه سوچه دین یې خپل کړی وي ﴾.العنکبوت ۲۹:۶۵

﴿ څوك دی هغه ذات چې د محتاج غوښتنه قبلوي﴾. النمل ۲۷:۶۲

﴿ هغوی باوري شول، چې ښه کلک راګېرشوي، نوهغه مهال بیاخپل دین د الله له پاره سوچه اوځانګړی کوي ﴾. یونس ۱۰:۲۲

ما د اسلامي علماوو، تاريخپوهانواو اديبانو ويناوې په بشپړډول په غور سره لوستي، خوما په کې د پرېشانی، ذهني نا ارامی او روحي ناروغيو په اړه څه نه دي موندلي، لامل يې دا دی چې هغوی له خپل دين سره قرار اوخوندي اوسېدلي دي، ژوند يې له هرډول سختی او بېځايه ځان ځورونې څخه لرې و .

﴿ کومو کسانو چې ايمان راوړی، نېك کارونه يې کړي وي او هغه حق يې منلی وي، چې د رب له لوري پر محمد (ﷺ) نازل شوی دی، نو الله يې ټولې بدې کړنې رژولي او د هغوی حال يې ښه کړی دی ﴾. محمد٢:٤٧

د " ابوحازم " وينا ته غوږ شه ! بېشکه خبره همدا ده، چې زما او د پادشاهانو په منځ کی يواځې همدا يوه ورځ ده، چې هغه پرون ورځ وه، نو هغوی يې هم اوس په خوند نه پوهيږي او د سبا ورځې د راتګ په اړه، خو زه او هغوی ټول په وېره کې يو، بس يواځې همدا نن ورځ ده او دا هم نه ده څرګنده، چې هغه به څرنګه وي ؟ رسول الله (ﷺ) به دا دعاء کوله : (( يا الله ! زه له تا څخه د دې ورځې د خير، برکت، نصرت، روښنايی او هدايت غوښتنه کوم )).

" زهيربن ثابت " وايي : کله چې د چا مشکل سخت او لوی شي او بيا هم له چل ول څخه کار وانه خلي، نوخپل کاريې لا ستونزمن کړ او ورته يې شا کړه، خو د قوي هوډ خښتن هغه دی چې هرډول ستونزه ورته ورپېښه شي، د پوهې له لارې يې مخنيوی وکړي، نو دا کس د وخت له ستونزو سره ښه مقابله کولای شي، ترهغې چې دا ژوندی وي له سخت چل او ول څخه کاراخلي، کله يې چې پر وړاندې يو سوری بند شي نو بل ورته خلاص شي . ﴿ ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی چمتو اوسئ ﴾. النساء ٤:٧١

﴿ هرومرو دې نرمي وکړي اوهېڅوك دې پرتاسو خبر نه کړي ﴾.الکهف ١٨:١٩

شاعر وايي :که زموږ ورځې د نعمتونو اوکړاوونو په منځ کې بدليږي رابدليږي اوهمداسې پېښې کوي خو زموږ کلك غشی يې نه دی نرم کړی او نه يې موږ هغه څه ته سرکوزي کړو، چې هغه (دنيا) ښکلې نه ده. بلکې هغه ستونزې موږ پر داسې عزتمنو نفسونو بارکړي، چې که پرهغوی له توانه پورته شيان هم بارشي نو بار به يې کړي، زموږ نفسونه د ښه صبرله لارې ساتل شوي او زموږ ابروګانې خوندي پاتې دي، حال دا چې نورخلك له دې اړخه خواردي. ﴿ يوازې همدا به يې ويل، چې ای زموږه ربه زموږګناهونه اوډ ژوند په کارونوکې تجاوز

راوبخښه، زموږ ګامونه ټینګ اوپرکافرانو مو برلاسي کړه، الله هغوی ته د دنیا ثواب او د اخرت ډېره ښه بدله ورکړه ﴾.آل عمران ۳:۱۴۷- ۱۴۸

***

## مه خفه کېږه، ځکه چې ژوند ستا له انځوره ډېر لنډ دی

په دې اړه " ډایل کارنیچي" د یوه داسې کس قېصه کړې، چې د هغه په کولمو کې زخم و، د دغه زخم خطر دې کچې ته رسېدلی و، چې طبیبانو یې نور د مړینې وخت هم ټاکلی و او د دې سپارښتنه یې هم کړې وه، چې د کفن تیاری یې باید وشي . " کارنیچي" وایي، په دې پړاو کې ناڅاپه دغه ناروغ چې " هاني " نومېده یوه حیرانونکې تکلاره خپله او له ځان سره یې فکر وکړ، چې ما ته په دنیا کې له لنډ وخت څخه پرته نورڅه نه دي پاتې، نو ولې له مرګ نه مخکې زه خپل ټول ارمانونه نه پوره کوم، له پخوا مې په زړه کی دا ارمان و، چې زه له مرګ څخه مخکې باید په نړۍ کې وګرځم، دا دی اوس هغه مهال رارسېدلی، چې زه باید په کې خپلې هیلې پوره کړم، نو د سمندري بېړۍ سفرلیک یې واخیست، طبیبان چې خبرشول نوهغوی ووېرېدل او ورته یې وویل موږ تا له دغه تګ څخه په کلکه ایساروو، که ته دا سفرپیل کړې ښایی د سمندر په تل کی ښخ شې، هغه ځواب ورکړ نه، هېڅکله داسې نه شي کېدای، ما خپلوخپلوانو ته دا وصیت کړی، چې کله زه مړشوم، نوما به په خپله پلرنۍ هدیره کی ښخوئ، هماغه و چې "هاني" بېړۍ ته وختله او د خیام د شعر دا بیتونه یې زمزمه کول چې وایي :
راځه چې د بشر قبصې وکړو اوخپل عمر د شپې په خوړو خبرو سره تېرکړو، ځکه چې نه خو خوب د چاعمر اوږد کړی او نه د شپو بې خوبیو دچاعمرلنډ کړی دی . بیا هغه کس خپل سفر ته په داسې ډول دوام ورکړ، چې له خوښۍ او مستۍ ډك سفر و، نو په دغه وخت کې یې خپلې ښځې ته یولیك ولیږه او ورته یې لیکلي و، ما د بېړۍ پر سر ډېرخوندورخوراك او څښاك وکړ، شعرونه مي وویل رنګارنګ خوراکونه مې وخوړل، تر دې چې هغه غوړخواړه مې هم وخوړل چې زه ترې منع شوی وم او له دغه وخت مې دومره خوند واخېست، چې په خپل پخواني عمرکې مې کله هم نه و اخیستی، بیا څه وشول !؟

"ډایل کارنیچي" داسې انګېرله چې دغه کس له هغې ناروغۍ څخه جوړشو او دغه کړنلاره یې چې خپله کړې وه، د ناروغیو او دردونو په مخنیوي او له منځه وړلو کې اغېزمنه وه .

زه ـ لیکوال ـ د خیام له پورتنیو بیتونو سره جوړنه یم، ځکه چې په هغو کې له الٰـهي تاکل شوې لارې څخه څرګنده سرغړونه ده، خو له قبصې څخه موخه دا ده، چې د طبیعت خوشحالي د ټولو طبي درملو پرتله څوچنده د انسان د روغتیا له پاره ګټوره اواغېزمنه ده .

***

## قناعت وکړه او قرار شه

"ابن الرومي" وایي : حرص، بدمرغه ته د بد مرغۍ سورلۍ نژدې کوي او حرص خو د بدمرغوخلکو سورلۍ وي . ګوزاره حال ژوند ته دې هرکلی او ښه راغلاست وي، ته چې په خوندسره راځي او پرستړي کوونکي مال دې هم سلام وي .

﴿ ستاسو مالونه او اولادونه تاسو ماته نه شي نژدې کولای، هو! چا چې ایمان راوړی اونېك کار یې کړی وي، نو هغوی ته د خپلو کړنودوه برابره بدله ورکول کیږي او د جنت په لویو او دنګومانیوکې به ډاډمن اوسیږي﴾. سبأ ۳۷:۳۴

" ډایل کارنیچې " وایي، څېړنو دا څرګنده کړې، چې امریکا د خفګان په برخه کې لومړی وژونکی هېواد شمېرل کیږي . د بېلګې په توګه ،د دویم نړېوال جنګ په دوه کلونوکې زموږ د درې میلیونوپه شاوخوا کې بچیان وژل شوي وو، په همدغه موده کې د زړه ناروغۍ دوه میلیونه خلك له منځه وړي، چې له دې ډلې څخه د یومیلیون کسانود ناروغۍ لامل پرېشاني اوعصبي ګډوډي ښودل شوې ده او همدا د زړه ناروغي له هغو بنسټیزو لاملونوڅخه ده، چې ډاکټر"الکسیس کاریل" یې دې ته اړکړی چې ووایي : په یقیني توګه هغه سترکاروباري خلك چې نه پوهیږي څرنګه له پرېشانۍ سره ډغره ووهي، نوهغوی وختي مړه کیږي، دا یوعقل منلی لامل دی، خو مرګ به هرومرو له نېټې سره سم راځي .

﴿ هېڅ نفس د الله له حکمه پرته بې نېټې نه مړ کیږي﴾. آل عمران ۳: ۱۴۵

تورپوستي امریکایان او چېنیان ډېر کم د زړه په ناروغۍ مړه کیږی، ځکه چې د هغوی ژوند ډېر ساده دی، دا هم یو حقیقت دی د هغو طبیبانوشمېره، چې د زړه د ناروغیو له امله مري شل ځلې د هغو بزګرانوله شمېرڅخه زیات

دی، چې د همدې ناروغۍ له امله مړه کیږي، ځکه چې ډېری طبیبان په سخته اندېښنه کې ژوند تېروي او د ستونزو په مقابل کې بې کچه ناقراره کیږي .

شاعر وایي : اوهغه څوک چې پرهېزګار نه دی نوروخلکو ته په پاکوالي امر کوی، لکه طبیب چې د خلکو درملنه کوی، خو په خپله ناروغ وي .

***

## پر پېښو باندې خوښي څرګندول غم له منځه وړي

رسول الله(ﷺ) وایي : (( موږ به هغه څه وایو چې زموږ رب پرې رضا کیږي )).

بېشکه پرتا باندې د ایمان دغه پاکه غوښتنه واجب ده، چې کله تاته څه ډول غمیزه درپېښه شوه نوهغه باید الٰهی برخلیک وبولې اوغاړه ورته کېږدې چې ښه پایله دې په برخه شي، د بېړنۍ ناکامۍ او د راتلونکې مفلسۍ له کړاوڅخه هم وژغورل شې .

شاعر وایي : کله مې چې په خپل سرکې سپین وېښتان ولیدل، نوما ورته ښه راغلاست وویل، که زه پوهېدای چې په ښه راغلاست نه ویلو به ورک شي، نو ما به هرومرو دا کار کړی و، خوداسې نه ده که بد درپېښ شي او نفس ورسره یوه ورځ له نرمۍ کار واخلي، نو د مشکل په لرې کولوکې ګټورثابتیږي .

له برخلیک څخه تېښته ناشوني ده، باور پرې په کاردی ځکه چې که ته له خپل پوستکي او جاموڅخه هم ووځې په ازل کې لیکل شوی کاربه هرومرو پېښیږي !!

د" ایمرسون " د " لاس ته راوړنې توان" په نوم کتاب کې را نقل شوي، چې نه پوهیږم موږ ته دا نظریه له کومه ځایه راغلې چې وایي، پراخ، ثابت،هوسا، له ستونزو او خندونو څخه پاك ژوند لوی او نېکمرغه کسان زیږوي، په حقیقت کې خبره سرچپه ده، هغه کسان چې په ژړا روږدي وي، که د ورېښمو اوململوپه بستره کې هم ویده کیږي، نو بیا به هم ژاړي، تاریخ په دې ګواه دی چې لویۍ او نېکمرغۍ په ټولنه کې بېلابېلو وګړو ته ځان تابع کړی دی، داسې وګړي چې ښه او خراب هم په کې وي او داسې چې د ښو اوخرابو توپیر په کې ګران هم وي، په دغه ډول انساني ټولنوکې داسې سړي روزل شوي، چې

هغوی سترې سترې دندې پرغاړه اخيستې اوشاته يې نه دي غورځولي . د نبوي دعوت لومړيو ورځو ته که ځير شو، نو د هغه پړاو د الٰهي هدايت ببرغ پورته کوونکي کسان يې اکثره غلامان يا ببوزله او اړ خلك وو، خو د دغه سپېڅلي لښکر په مخامخ صف کې ډېر داسې کسان هم وو، چې مخور، شتمن او سرداران وو .

﴿ کله چې زموږ روښانه ايتونه هغوی ته لوستل کيږي، نوکافران مؤمنانو ته وايي چې وګورئ په موږ او تاسو کې دچا ژوند ښه او د چا غونډې شانداري دي ﴾. مريم ۱۹:۷۳

﴿ دوی ويل چې زموږمالونه او اولادونه هم له تاسونه ډېراوموږ سزا موندونکي نه يوو﴾. ۳۴:۵۳

﴿ ايا همدا خلك دي چې الله پر دوی لوربېينه کړې ده، ايا الله پاك شکر کوونکي ښه نه پېژني ﴾. الانعام ۶:۵۳

﴿ کافران د مؤمنانو په اړه وايي، که د اسلام منل غوره وی، نو مؤمنان به له موږ څخه مخکې شوي نه وی ﴾.الاحقاف۴۶:۱۱

﴿ کبرجنو وويل موږ له هغه څه څخه منکر يو، چې تاسو پرې ايمان راوړی دی ﴾.الاعراف ۷:۷۶

﴿ هغوی وويل چې ولې دا قرآن په دغه دوه کليوکې پر کوم لوی سړي نازل نه شو، ايا هغوی ستا د رب رحمت وېشي ﴾. الزخرف ۴۳:۳۱

په دې اړه ماته د"عنتره" هغه شعر راپه زړه کيږي، چې هغه په کې دا څرګنده کړې، چې قيمت يې په ښو صفاتو، خويونو،ځيرکتيا او هوښيارتيا کې دی، نه د ده په اصل او نسب کې، هغه وايي، که زه غلام يم پروا نه شته، ځکه چې زه د ښه خوی او اخلاقو له اړخه سردار يم او که زه له رنګه تور يم، نواخلاق مې سپين دي .

***

## که د بدن يو غړی دې له لاسه ورکړ نو نور خو روغ دي !

ابن عبّاس (رضی الله عنهما) د شعرپه ژبه وايي : پروا نه شته که الله زما له سترګوڅخه رڼا اخيستی، ځکه چې زما په ژبه اوغوږونوکې رڼا شته . زړه مې

هوښيار دی اوعقل مې هم کوږ نه دی او زما په خوله کې د تورې په څېر تېره ژبه ده . شايد ستا خير په هغه څه کې وي چې درپېښ شوی وي . ﴿ شايد تاسو يو شی بد وګڼئ او هغه تاسو له پاره غوره وي ﴾.البقره ۲:۲۱۶

" بشاربن بُرد " په شعر کې وايي : دښمنانو د وړوندوالي پېغور راکړ، حال دا چې عيب په همدوی کې دی، دا خو څه عيب او پېغورنه دی چې وويــــل شی فــلانی وړوند دی . که انسان تقوا او مېړانه وپېژنده، نوبيا خود سترګو وړوندوالی ورته څه زيان نه رسوي، زه د سترګو وړوندوالی اجر، د آخرت توښه او د ابرو ساتلو وسيله ګڼم،او زه خو همدغو درېو شيانوته اړيم .

ته د ابن عباس (رضي الله عنهما) او" بشار" خبرو او بيا د " صالح بن عبدالقدوس" په خبرو کې چې کله وړوند شوغور وکړه، چې په منځ کې يې څومره توپيردی، صالح په شعر کې وايي، په دنيا دې نور سلام وي، وړانده بوډا ته نور په دنيا کې څه پاتې دي، کله چې يوانسان مري، خوهغه ژوندی شمېرل کيږي او د انسان د اټکل ترشا دروغجنه هيله پرته وي . ډاکترراته د روغتيا ډاډ اواميد راکوي، حال داچې دا خبرې ځينې له ځينو سره نژدې دي . يعنې دروغجنه هيله او د ډاکتر ډاډ .

پر منونکي او نه منونکي دواړو باندې به هرومرو الٰـهي پرېکړه ترسره کيږي، خومنونکی به د الله (ﷻ) په وړاندې نېکمرغه او د ثواب خاوندشي او نه منونکی به ګناهګاراوبدمرغه کيږي .

عمربن عبدالعزيز (رحمه الله) ميمون بن مهران ته داسې وليکل : تا ماته د عبدالملك د مړينې له امله د غمرازی پيغام راستولی، خو دا (مړينه) يو داسې کار و، چې ما يې مخکې انتظار کاوه اوکله چې پېښه شوه نوما بده ونه ګڼله .

***

## ورځې څرخيږي

د احــمــد بن حنبل (رحمه الله) په اړه ويل کيږي، چې يوه ورځ هــغــه د " بقي بن مخلد " د ناروغۍ پوښتنې ته ورغی او ورته يې وويل، ای دعبدالرحمان پلاره ! د الله تعالــی په ثواب خوشحاله شه، د روغتيا ورځوکې رنځوري نه وي او د ناروغۍ په ورځو کې روغتيا نه وي، يعنې د روغتيا په

ورځو کې د انسان په زړه کې ناروغي نه ګرځي، نو د بنده هوډونه پياوړی کېږي، ارزوګانې اوغوښتنې يې زياتيږي او د سختې ناروغی په ورځوکې د انسان په ذهن کې روغتيا نه ګرځي، چې له دې امله يې نفس نا اميده کيږي، همت له لاسه ورکوي او د نا هيلی ښکارکيږي، نو د امام احمد (رحمه الله) دا خبره د الله تعالی له دې قول څخه اخيستل شوې چې وايي : ﴿ که موږ انسان ته د خپل رحمت څه برخه ورکړو او بيا يې بېرته ورڅخه واخلو، نو هغه انسان خورا نا هيلی او ناشکره شي اوقسم دی که موږ ورته له سختی نه وروسته د نعمت خوند وروڅکوو، نو هرومرو به وايي چې زما ستونزې پای ته ورسېدې، بېشکه چې انسان بې کچه خوښ اوپرنورو ځان لوړګڼي، خو يوازې هغه کسان ـ له دی عيب نه پاك دي چې- ستونزه زغمي او نېك كارونه كوي، نو د همدوی له پاره بخښنه او ستره بدله شته ﴾.هود ۱۰:۱۱-۱۱

حافظ ابن كثير(رحمه الله) د دغو ايتونو په تفسير کې وايي، الله (ﷻ) په دغو ايتونو کې د انسان اود هغه د ناوړه خويونوپه هکله څرګندونه کوي، پرته له هغو مؤمنانوڅخه چې الله تعالی پرې رحم کړی دی ځکه چې هغوی له دوی څخه بېل دي . يعنې : کله چې ورته له نعمت څخه وروسته ستونزه ورسيږي، نو ده ته به په راتلونکې کې د خيرله خبرڅخه نا اميدي پيدا شي، همدارنګه د هغه نعمت په اړه به چې پخوا ورته ورکړل شوی وي ناشکري او ناخوښي پيدا شي، داسې چې ګواکې دغه شخص پخوا هېڅ خير نه دی ليدلی او نه يې د اسانی او خلاصون څه هيله کړي وي . همدارنګه که کله ورته له ستونزې څخه وروسته څه ښېګڼه ورسيږي، نو بيا داسې وايي، زما ستونزې ورکې شوې، او داسې به هم وايي، چې وروسته له دې څخه به ماته هېڅ بد نه رارسيږي .

***

## د ځمکې پرمخ چکر ووهه

سفر پرېشاني او اندېښنې له منځه وړي . د نبوي احاديثو پخوانی نامتو عالم حافظ " رامهرمزي " په خپل کتاب " المحدث الفاضل " کې د هغه سفر د ګټو او ورڅخه د خوند اخيستو په اړه چې د علم د لاسته راوړو له پاره ترسره کېږي څېړنه کړې، په دغه څېړنه کې نوموړی دينپوه پرهغه چا باندې سخته نيوکه کوي چې دا ډول سفر بد ګڼي او وايي، هغه څوک چې په چکر وهونکو باندې بد وايي بايد پوه شي، چې دا ډول سفركوونكي له خپل دغه چكر څخه څومره خوند ترلاسه کوي، د وطن د پرېښودو پرمهال څومره خوښي، قوت او

تندرستي احساسوي، اندامونه يې ځومره خوند اخلي، كله چې بېلابېل ځايونه، ډول ډول ودانۍ، بانډې، ښكلي ښېونه، د الله تعالىٰ رنګارنګ مخلوق وګوري، په بېلابېلو هېوادونو كې حيرانوونكي شيان ترسترګوتېركړي، بېلابېلې ژبې، رنګونه اونژادونه ووينې، د ديوالونو، كندو او غونډويو سيورو ته دمه وكړي، په جوماتونو كې لمونځونه، په ناوونو او درو كې اوبه څښل، چېرته چې پرې شپه راغله هماغه ځاى كې ويده كيږي، له شرم، چل ول او ځان ښودنې پرته له چاسره يې چې خوښه وي د الله تعالىٰ د خوښۍ له پاره ورسره په سفركې ملګرتيا كوي، هغه روا كارونه سرته رسوي چې زړه يې خوښوي او په خپله موخه كې برلاسى شي او يا هغې ناستې ته د زړه له كومې ورننوتل وي، چې خپلې متې يې رانغاړلي او پوره اندازه لار يې وهلي وي . كله چې پرښه چكر بانډې ګوتنيونكي پر دغو پورتنيو ګټو وپوهيږي، نو ورته به څرګنده شي چې د دنيا ټول خوندونه خو يواځې د دغو ليدنو كتنو خوږ نچوړ دى اوله دغه چكر څخه د لاسته راغلو ګټو ټولګه ده، كومې ګټې چې څښتنانو ته يې د پسرلي د ګلانواو د سرو زرو له ذخيرو څخه هم غوره او ارزښتناكې ښكاري، په داسې حال كې چې دغه ګوتنيونكي او هغوى ته ورته كسان ورڅخه بې برخې پاتې دي .

يو شاعر وايي : خپله كيږدۍ له هغه ځايه چې ستا سپكاوى په كې شوى وي وكاږه او ځان له سپكاوي څخه په څنګ كړه، ځكه چې له ذلت څخه ځان ژغورنه په كار ده .

***

## لنډه دمه

رسول الله (ﷺ) وايي : (( كله چې الله (ﷻ) كوم قوم خوښ وګڼي، نوهغوى په ستونزو كې ازمايي، څوك چې پرخپل حال بانډې خوښ وي، نوهغه ته به د الله (ﷻ) خوښي ورپه برخه شي او څوك چې پرې ناخوښه شوهغه ته به د الله تعالىٰ قهر ورپه برخه شي )).

بل حديث دى چې : (( تر ټولو سخت ازمايښت پر پيغمبرانو شوى، بيا ورڅخه وروسته درجه په درجه نورنېک كسان دي، هرڅوک د خپل ايمان د ټينګوالي په اندازه ازمايل كيږي، كه هغه په دينپالنه كې قوي وي نوازمېښت يې هم سخت وي اوكه په دين كې سست وي، نو په هماغه كچه ازمايل كيږي،

ترهغه وخته چې مسلمان بنده د ځمکې پرمخ ګرځي ترهماغه وخته به په ازمېښت کې وي، چې په پای کې به له ګناه ځخه پاک شوی وي )).

د پیغمبر(ﷺ) بل حدیث دی : (( د مؤمن شان ته حیرانتیا ده،ځکه چې ټول کاریې په ګټه دی او دا - ځانګړتیا - له مؤمن پرته بل څوک نه لري، که ورته خوښي ورسیږي، نوشکر وباسي دا هم ورته خیر دی او که څه ستونزه ورپېښه شي، نوهغه وزغمي اوصبر وکړي، چې دا یې هم ګټه ده )). یعنې په دواړو حالاتو کې ثواب ورکول کیږي .

عبدالله ابن عباس (رضی الله عنه ) ته پیغمبر (ﷺ) وویل (( ای ځلمیه ! په دې پوه شه که ټول خلك د دې له پاره سره راټول شي چې تاته څه زیان ورسوي، نوتا ته به زیان ونه رسوي مګرپه هاغه کچه چې الله درته - په برخلیک کې - لیکلی وي، او که ټول خلک یو موټی شي چې تاته څه ګټه درورسوي، نوهېڅ ګټه به در ونه رسوي، پرته له هاغې اندازې چې الله (ﷻ) تاته په - برخلیک - کې لیکلې ده، قلمونه نورلیکل نه کوي او د برخلیک پاڼې ترل شوي دي )). بل حدیث دی چې : (( نېک خلک درجه په درجه ازمایل کیږي، یعنې د عمل په اعتبارسره، څومره یې چې نېک عمل ښه کیږي هماغه اندازه یې امتحان هم سختیږي )) . بل حدیث دی چې : (( د مؤمن مثال د تنکي فصل - کښت- دی، چې کله یې باد ښي او کله یې کیڼ اړخ ته اړوي رااړوي )) .

***

## د ژوند په ورستیو شېبوکی هم خفه نه شې

" ابوریحان البېروني " وګورئ چې پر (٤٤٠هـ ق) کال وفات شوی دی، سره له دې چې د زیات عمرخاوند و . اته اویا- ٧٨- کاله یې د علم په زده کړه کې تېرکړي دي . د کتابونو په لیکلوسخت بوخت و، علمي بابونه یې پرانیستل، په سختواو ښکاره ځایونو یې هراړخیزه پوهه لرله، یعنې په ستونزمنو او اسانه ځایونو پوهېده، هېڅ وخت به یې قلم له لاسه اوسترګې به یې له لوستلوڅخه نه لرې کولې او زړه به یې له فکرڅخه خالي نه و، د ژوند په ورځنیو اړتیاو کې به یواځې پرخوراك، څښاك او جامواغوستلو بوخت و او له دې پرته د کال په ټولو ورځوکې به یي عادت د علم یوستونزمن ځای څېړل او روښانه کول و .

د فقهي عالم " ابو الحسن علي بن عیسیٰ " څخه نقل شوې خبره ده، هغه وايي : زه ابوریحان البیروني ته په داسې حال کې ورغلم، چې دهغه د زنکدن وخت و، سینه یې تنګه شوې وه، ماته یې په دې حال کې وویل، تا ماته یوه ورځ د فاسدو نیاګانو د میراث په اړه څه ویلي وو او دا د میراث قضیه ده چې د مور له خوا نیا څېړي، نو ما ورته د زړه سوي په خاطر وویل، ایا په دې حالت کې هم !؟ هغه راته وویل، ای د الله بنده دا چې زه له دنیاڅخه په داسې حال کې رخصت شم، چې په دې قضیه پوه یم دا به له دې څخه غوره نه وي، چې زه داسې لاړ شم چې پرې نه پوهېږم ؟ ما ورته هغه واوروله، نوپه بدل کې یې هغه څه ماته راوښودل، چې ژمنه یې راسره کړې وه، کله چې زه ترې ووتلم، نو چېغې مې واورېدې !! خبرشوم چې هغه وفات شوی دی . دا وو هغه لوړهوډونه چې د وېرې ډېرې له ښځه نړوي . عمرفاروق (رضي الله عنه) د زنکدن په حالت کې و او له زخم څخه یې وینې بهېدلې، خوپه هغه مهال کې یې هم له صحابه کراموڅخه پوښتنه کوله، چې ایا لمونځ مې پوره کړکه نه ؟ بل صحابي"سعد بن الربیع "د اُحد په غزا کې په وینوکې زخمي پروت و، خوپه هغه حال کې یې هم د رسول الله (ﷺ) د حال پوښتنه کوله، دې ته وايي د زړه زور او زړه ودانې .

***

## کله چې مرګ راورسیږي، مه خفه کېږه اودا قېصه ولوله

" ابراهیم ابن الجراح " وايي : امام ابو یوسف (رحمه الله) ناروغ و، زه یې پوښتنې ته ورغلم، بې هوښه پروت و، چې په هوښ راغی ماته یې وویل، په دې مسئله کې څه وايې ؟ ما ورته وویل، ایا په دې حالت کې هم د مسئلې پوښتنه کوې ؟ هغه راته وویل، هېڅ پروا نه کوي کېدای شي یوڅوک پرې برياليتوب ترلاسه کړي، بیا یې وویل، ای ابراهیمه ! په حج کی د جمراتو- د شیطان ځای ته کاڼي ګوزارولو- په برخه کې یوڅوک باید پلی وي او کاڼی وولي که سپور؟ ما ورته وویل، چې په سپرلی سپور وي دا به غوره وي، ماته یې وویل، سمه نه ده، نو ماورته وویل، پیاده چې وویشتل شي غوره به وي، هغه راته وویل دا هم سمه نه ده، ماورته وویل، نوپه دې دواړو کې کومه یوه سمه ده ؟ قاضي ابویوسف (رحمه الله) ځواب راکړ، که د ویشتلو پرمهال هلته ودرېد،نوبیا ښه دا ده چې په پلي حالت کې وویشتل شي او که په روان حال کې وي، نوبیا که په سپرلی سپور وي ویشتل یې غوره دي . له وروسته زه ورڅخه پاڅېدم د کوردروازې ته لا نه وم رسېدلی، چې ژړا مې ترغوږ شوه خبرشوم چې هغه (رحمه الله) وفات شو .

یوتن اوسنی لیکوال وایي : پخواني دینپوهان داسې وو، چې مرګ به ورته پرسرباندې د سختیو او ستونزو وزرونه غوړولي وو، د زنکدن ستونزمن حال به یې و، بې هوښه به و، خو کله به چې د څه شیبې له پاره په هوښ شو، نو په هغه مهال کې به یې هم دعلم د فرعي او مستحبو مسئلو څېړنې په داسې حال کې کولې چې مرګ به ترې سلګۍ اخیستې، چې په خپله یې زده کړي او یا یې نورو ته وښايي .

یو شاعر وایي: هغه په داسې حال کې و، چې د زغم خاوند په کې سمه لار هېروي، ویښ اوپوه انسان په کې له سمې لارې څخه کږېږي . د الله له پاره ! علم د هغوی په زړونو کې څومره ډېرارزښت درلود !؟ عقلونه او فکرونه یې پرې څومره بوخت کړي وو ! ان تر دې چې له هغوی څخه د ساه وتلو پرمهال یې نه خپلې مېرمنې، نه ګران بچې او نه بل څوك یاد وو، یواځې یوشی یې په یاد و چې هغه علم و!! همدا لامل وچې هغوی دعلم اودین ستراماماﻥ شول،الله تعالىٰ دې پرهغوی ټولوورحمېږي !

***

## غمیزو ته مه خفه کېږه ځکه ته دالٰهي پرېکړوپه راز اوپایلو نه پوهېږې

مصری تاریخپوه او لیکوال " احمدبن یوسف " په خپل ښکلي کتاب " المکافاة وحسن العقبٰی " کې وایي هرانسان په دې پوهېږي چې د حالت بدلېدل ( تیاره رڼاکېدل اوسختي له منځه تلل) یوه شونې خبره ده او هرومرو به ترسره کیږي، او پر دې هم پوه دی چې هره شپه له ورځې څخه رڼا اخلي، خو د ستونزو پر مهال د مزاج خرېدل او ګډوډي هم یوڅرګند حقیقت دی، نو په کارده چې پرخپل وخت یې درملنه وشي اوکه نه نو ناروغي سختېږي او ستونزه غټیږي، ځکه چې که د سختیو اوستونزو په وخت کې له نفس سره دهغه دټینګښت په اړه مرسته ونه شي، نوپر نفس باندې ناهیلي لا برلاسه کیږي او په پای کې یې له منځه وړي .

دغمځپلوخلکوپه قېصواوخبرونو کې چې له زغم څخه یې کاراخیستی او ښې پایلې یې لاس ته راوړي دي په دې اړوند فکر کول داسې څه دي، چې نفس نور هم تکړه کوي، تل یې صبر کولو ته رابولي او د خپل پالونکي لور ته یې په ښه ادب هڅوي، چې پر خپل رب ښه ګومان ولري، چې الله تعالىٰ د ازمېښت په

نتيجه کې انسان ته ښه بدله ورکوي . دغه ليکوال د خپل کتاب په پای کې دا هم ليکلي چې "بزرجمهر" وايي، ستونزې له پېښدو نه مخکې له خوراك نه وړاندې ولږې ته ورته دي، نوځکه له ولږې څخه وروسته خوراك ډېر خوندور وي .
"افلاطون" وايي : سختي چې څومره ژوند خرابوي په هماغه کچه نفس جوړوي او همدا راز د روزۍ پرېماني نفس هومره خرابوي څومره چې ژوند جوړوي .
همدا راز وړاندې وايي، هغه ملګرۍ وساته چې سختيودرته ډالۍ کړی وي او له هغه دوست څخه بې پرو اشه چې نعمتونو در کړی وي . وړاندې يې بيا ويلي، هوساينه د شپې په څېر وي، څه چې په کې خوری يا يې کوی، نو ته يې نه وينې او سختي او ستونزه د ورځې په څېر وي، چې ته په کې خپل او د نورو زيار ګورې .

"اردشير" وايي : سختي داسې رانجه دي چې ته يې په مرسته هغه څه ليدلی شې، چې د نعمت په واسطه يې نه شې کتلی . وړاندې بيا وايي، په سختۍ کې د يو کار د ګټې بنسټ دوه شيان دي، تر ټولو کوچنی يې په ستونزوباندې د اخته کس د زړه کلکوالی او غټ شی يې خپل مالك او روزي ورکوونکي ذات ته پوره ځان سپارل دي . کله چې يو څوک خپل فکر د خپل خالق خواته متوجه کړي، نو يوه به شي چې په ازمېښت کې ځکه لوېدلی، چې الله (ﷻ) ورته ښه بدله ورکړي او ګناه يې ورژوي، له دې سره سره دا شخص د الله تعالٰی له خوا له پرلپسې ګټو څخه هم برخمن دی، خوکه څوك خپل ټول فکرد بنده ګانو په لور واړوي، نو بدۍ به يې ډېرې اوتکلف - مصنوعي کړنې - به يې زياتې شي، د لنډ فکر له امله به پرېشانه وي، هغه ستونزه چې ښايي په يوه ورځ کې له منځه ولاړه شي ورته به اوږده ښکاري او له يوه داسې ستونزې به په وېره کې وي، چې ښايي هېڅ ورپېښ هم نه شي . ريښتوني رازونه هغه دي چې د بنده او د هغه د رب په منځ کې وي، ځکه چې الله تعالٰی پرېټو رازونو پوهيږي او د زړونو مالك دی او کوم رازونه چې د بنده ګانو په خپل منځ کې دي، نو دا د ډېرو زيانونو لامل ګرځي اوهېڅ ګټه ورڅخه نه اخيستل کيږي . د ناهيلۍ پرمهال الله (ﷻ) ځانګړی رحمت لري، چې چاته يې خوښه شي ورپه برخه يې کړي، خلاصون ته د رسېدو او د کار د اسانولو هيله يوازې له الله (ﷻ) څخه کيږي او بس، ترهغه وخته چې الله پاک ته سوال کوونکی خپله غړۍ وراوږدوی، نو الله (ﷻ) ته يې ورګرځېدل غوره دي، همدا الله (ﷻ) تا ته بس دی چې ډېر ښه کارجوړونکی دی .

ما د تنوخي (رحمه الله) کتاب "الفرج بعد الشدة" يعني، له سختۍ څخه وروسته اساني، بار بار ولوسته او دا لاندې درې ګټې مې ترې راوويستې :

۱ : له سختۍ نه وروسته اساني راتلل یو پخوانی سنت او منل شوی حقیقیت دی، لکه سهار چې بېشکه له شپې څخه وروسته راځي .

۲ : بېشکه ستونزې ډېرځله د بنده له پاره د مهربان رب له خوا په دنیا او آخرت کې د سترې ګټې لامل ګرځي .

۳ : ګټه رسوونکی او زیان رسوونکی یو الله دی او پوه شه بېشکه هغه څه چې تاته ورسېدل له تاڅخه نه بچ کېدل اوهغه څه چې له تا څخه لرې شول تا ته نه پېښېدل .

***

## دنیا سپکه او بې ارزښته ده

نامتو تابعي عالم عبدالله بن المبارك (رحمه الله) وایي : د "عدي بن زید " شعر که زما وی، نو ماته یې د امیر" طاهربن الحسین" له مانۍ څخه ډېر ارزښت درلود اوهغه یوه مشهوره اوښکلې قصیده ده چې څوبیتونه یې په دا ډول دي: ای د نورو په غمیزو خوښېدونکیه او پېغور ورکوونکیه !! ایا ته به همداسې روغ رمټ ګرځې او که له تاسره د ورځوکوم ټینګ ژمنلیك شته، نه! بلکې ته یومغرور او ناپوه انسان یې . یعني ای هغه څوکه چې د نورو په غمیزوخوښي څرګندوې او پېغور ورکوې، ایا له تا سره کومه داسې ژمنه شوې، چې تاته به دهغوی په څېرغم نه در پېښېږي او که ورځو درته له غمیزوڅخه د ساتنې کوم قوي سند درکړی، که داسې نه وي نو بیا ولې سخه پخوې !؟ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) صحیح حدیث دی : (( که دنیا د الله په وړاندې د ماشي د وزر په کچه هم ارزښت درلودلای، نوکافرته به یې یو غړپ اوبه هم نه وی ورکړې )). بېشکه د ماشي وزر الله(ﷻ) ته له دنیا څخه خورا ارزښت لري . دا د دنیا اصلي ارزښت دی نو دا دومره هلې ځلې اوخفګان د دې دنیا له پاره ولې !؟ نېکمرغي خو داده چې ته د خپل ځان، راتلونکي وخت، خپلې کورنۍ او ژوند په اړه د سلامتیا شعور ولرې او دا ټول په پوره ایمان، د الله تعالیٰ په خوښه او د هغه د پرېکړو او برخلیک په خوښیو کې پراته دي او قناعت په خپله صبر دی .

***

## د ایمان ارزښت

﴿ پرتاسو د الله (ﷻ) احسان دی چې تاسو یې د ایمان نېغې لارې ته سیده کړي یاست ﴾. الحجرات۴۹:۱۷

د الله تعالٰی له سترو نعمتونوڅخه چې پرته له هوښیارانوڅخه ورته دبل چا پام نه کېږي یو دا دی،چې مسلمان کافرته وګوري اوبیاد الله (ﷻ) دا احسان په زړه کړي، چې الله (ﷻ) ورته داسلام د سپېڅلي دین لارښوونه کړې او تاته یې دا په ازل کې نه وه ټاکلې، چې د کافر په څېر پر الله باندې کفر، سرغړونه،په ایتونو کې الحاد، له صفاتوڅخه یې انکار،دخپل بادار، پیداکوونکي او روزي ورکوونکي رب سره جګړه کول، پیغمبران اواسماني کتابونه یې دروغ وګڼې او له حکمونو څخه یې سرغړونه وکړې . ته دا هم په زړه کړه چې ته خو د یو الله عبادت کوې پرالله، پیغمبراو د آخرت پر ورځ باندې ایمان لرې، له نیمګړتیاوو سره سره فرض شوي احکام سرته رسوې، بېشکه دا په خپل ذات کې یو داسې الٰـهي نعمت دی، چې نه یې بانکنوټ ارزښت ټاکلی شي، نه په مال پلورل کېږي، نه په ګومان کې ګرځي اونه یې په هغو شیانوکې ساری لیدل کېږي،پرکوموشیانوچې ستاسو سترګې لګېږي .﴿ آیاهغه څوك چې مؤمن وي،د فاسق په شان کېدای شي؟هېڅکله سره نه برابرېږي﴾ . السجده ۳۲:۱۸

تردې پورې چې ځینې مفسرینو لا دا هم ویلي چې د جنتیانوله نعمتونو څخه یو نعمت دا هم دی، چې د قیامت په ورځ دوزخیانو ته ګوري او د دې نعمت په بدله کې به د خپل رب شکرپرځای کوي . عربي متل دی چې، هرڅه په خپل ضد سره پېژندل کېږي .

***

## لنډه دمه

د " لا اله الاّ الله " دا معنا شوه چې له الله (ﷻ) پرته بل څوك دعبادت وړ نه شته، ځکه یواځې همدا الله (ﷻ) دی چې د اُلوهیت په هغوصفاتوچې د کمال صفات دي ستایل شوی دی .

د کلمې روح او د هغې راز: هغه ذات چې د سترې ستاینې ،سپېڅلو نومونو اود لویوالي څښتن دی او له هغه پرته بل څوك د عبادت وړ هم نه شته، یواځې او یواځې همداسې رب دې د محبت حقدار وګڼل شي، باید درنښت یې وشي، لویوالی

يې بيان شي، وېره او هيله ورڅخه وشي، او له پورته صفاتو سره تړلي نور صفات لکه، پرالله (ﷻ) باندې توکل، بېرته ورګرځېدل يا مخ وراړول، ورماتېدل، ورڅخه وېرېدل، لنده دا چې له الله (ﷻ) پرته به له بل چا سره مينه نه کيږي اوکه وشي هم، نوهغه مينه به الله تعالىٰ په محبت پورې تړلې وي، دغه انساني محبت به له الله (ﷻ) سره د مينې د ډېرېدو له پاره يوه لار وي او پرته له الله پاک نه به له بل چا وېره اوهيله نه کيږي . د الله له نوم پرته به په بل نوم لوړه نه کيږي، نذر به يې په نوم منل کيږي، توبه به ورته ويستل کيږي، يواځې د الله امربه منل کيږي، اجر او د سختيوپه وخت کې مرسته به له همدغه ذات څخه غوښتل کيږي، پناه به ورته وړل کيږي، له الله پرته به بل چا ته سجده نه کيږي، حلاله به د الله په نوم اود هغه د رضا له پاره کيږي او داهرڅه په يوه ټکي کې راټوليږي هغه دا چې يواځې او يواځې له يوالله (ﷻ) څخه به د بل چاهېڅ عبادت نه کيږي .

***

## کړېدلي خلک بريالي دي

د " عُکاظ " ورځپاڼې د ( ١٠٢٦٢ ) شمېرې په ګڼه کې چې پر ( ٧ /٤ / ١٤١٥ هـ ق) نېټه خپره شوې وه، له يوه وړوند کس سره چې " محمود بن محمد المدني " نوميږي مرکه شوې وه، نوموړي د نوروخلکو په سترګو د ادب کتابونه لوستلي، همدا رنګه يې د تاريخ کتابونه، بېلابېلې مجلې، ورځپاڼې اوخپروني له نورو څخه اورېدلي، ډېرې وختونه خو يې د يوه ملګري په واسطه د سهار تر درېيوبجو پورې هم لوستل کړي، ترڅو چې د ادب اوقېصوپه فن کې سرچينه وګرځېد .

مصطفى امين د الشرق الاوسط ورځپاڼې " فکره " تر کالم لاندې ليکلي، چې څه برخه يې داده : ته د چليانو په چلونو، د ظالمانو په ظلم او د زورورو په زور باندې يواځې پنځه دقيقې له زغم څخه کار واخله، نو ژر دی چې د ظلم دوره به پای ته ورسيږي، زولنې به ماتې شي، بندي به له بند نه خوشې شي او دا تورې تيارې به روښانه شي، خو تاته په کاردي چې لږ صبر او انتظار وکړې ! شاعر وايي : ډېرې داسې غميزې به را پېښې شي، چې د ځوان سړي له توان څخه به بهر وي، خو له الله تعالىٰ سره د هغې د خلاصون لاره شته .

ما په رياض کې د البانيا له مفتي سره چې په البانيا کې د کمونيستانو له خوا يې شل کاله له سختی، ظلم، ستونزمنوکارونو، تيارو، ولږو او داسې نورو

ستونزو سره بند تېرکړی و ولیدل، هغه به خپل پنځه وخته لمونځ دهغوی له وېرې د تشناب په یوه څنډه کې کاوه، خوهغه له دې سره هم صبر وکړ او له الله تعالی څخه یي د اجرغوښتنه وکړه، چې بیا له زندانه خوشی شو .

﴿ نوپه پای کې د الله پاك له نعمت - پېرزوینې - سره راوګرځېدل ﴾.آل عمران۳: ۱۷۴

د جنوبي افریقا ولسمشر"نېلسن منډیلا" د دې له پاره (۲۷) کاله بند تېرکړ،چې د خپل ملت د خپلواکی‌غږ یې پورته کاوه، له زور، تېري اواستبداد څخه یې دخپلو وګړو خلاصون غوښته اوهغه پرخپل هوډ ټینګ قدمی، سخت او ورځنده و، تردې چې دنیایي ستاینه یې په برخه شوه . ﴿ په دنیا کې به هغوی ته پوره دخپلوکړنو برخه ورکړو﴾.هود ۱۱:۱۵

﴿ که تاسو دردېږئ، نو هغوی هم ستاسو په څېر دردېږي، خو تاسو له الله پاك څخه د هغه څه هیله لرئ چې هغوی یې نه لري ﴾. النسآء۴:۱۰۴

﴿ که تاسو ته زخم ورسیږي، نو له تاسومخکنیوقومونوته هم ستاسوپه څېر زخمونه رسېدلی و﴾ . آل عمران ۳:۱۴۰

***

## کله چې دې اسلام وپېژنده نو بیاخوبېخي مه خفه کیږه

څومره بدمرغه دي هغه نفسونه چې نه اسلام پېژني او نه یې هدایت په برخه شوی وي، د اسلام دین له خپلو لارویانوڅخه د خپربدو او عمومي نړېوال اعلان ته اړتیا لري، ځکه چې دا یو ستر خبردی، نو په کار ده چې د دغه دین له پاره لوړه، ستره، سپېڅلې، له اخلاقوڅخه ډکه او زړه راښکونکې بلنه وي، ځکه چې د بشریت نېمکرغي له دغه حق او تلپاتې دین څخه پرته په نورشي کې ناشوني ده . ﴿ هرڅوك چې له اسلام پرته بل دین غواړي، نوهېڅکله به ورڅخه ونه منل شي ﴾. آل عمران ۳:۸۹

یو نامتومسلمان داعي د جرمني په "میونخ" ښار کې اوسېده، دهغه ښار په دروازه کې د اعلانونو یوه ستره تخته وه، چې په جرمنی ژبه پرې لیکل شوي وو ( ته د یوکوهاما ټایرونه نه پېژنې؟) نو هغه مسلمان داعي د تختې ترڅنګ یوه بله غټه لوحه وځړوله او ورباندې یې ولیکل : ته اسلام نه پېژنې ؟

که غوارې چې اسلام وپيژنئ، نو له موږ سره پر دغو شمېرو اړيکې ټينګې کړئ . څه وخت لا تېر نه و چې د المان له هرې خوا څخه د ټليفونونو بهير پيل شو، د يوه کال په موده کې يې د دعوت له امله د سلو زرو په شا اوخوا کې جرمنۍ مېرمنو او سړو اسلام ومنه او هغه داعي په هغه ښار کې يو لوی مسجد، اسلامي مرکز او د تعليم له پاره ودانۍ هم ودانه کړه . بشريت ډېر حيران دی، اودغه ستر دين ته سخته اړتيا لري، چې ورته سوکالي، ډاډ او ارامي ورپه برخه کړي .

﴿ الله پاك په قرآن سره هغه چاته چې د الله خوښي لټوي د خلاصون لارې ښايي، نوپه خپل حکم يې د کفر له تيارو څخه داسلام رڼا ته وباسي او نېغه لاره ورته ورښايي ﴾. المآئده ۵: ۱۶

يو عابد وايي : ما هېڅ ګومان نه کاوه چې ګواکې په نړۍ کې به داسې څوك هم وي، چې هغه به له الله (ﷻ) پرته د بل چاعبادت کوي، خوحقيقت بل ډول دی، ځکه الله (ﷻ) وايي : ﴿ او ډېر کم بنده ګان زما شکرکوونکي دي﴾.سبأ ۳۴: ۱۳

الله (ﷻ) وايي : ﴿ که ته د ځمکې پرمخ د ډېروخلکوخبرې ومنې، نوهغوی به تا دالله له لارې څخه واړوي، ځکه چې هغوی يخپلو ګومانونو پسې روان او اټکل کوي ﴾.الانعام ۶: ۱۱۶

﴿ ای پيغمبره! که ته هرڅومره لېوالتيا وښايې بيا هم ډېری خلک ايمان نه راوړي ﴾. يوسف۱۲ :۱۰۳

ماته يوعالم قيصه کوله چې د انګرېزانو د استعمار پرمهال يوسوډانی مسلمان له کلي څخه د سوډان پلازمېنې" خرطوم " ته راغلی و، هغه د ښار په منځ کې يوانګرېز ترافيك وليد، هغه مسلمان پوښتنه وکړه چې دا څوك دی ؟ خلکو ورته وويل دا کافر دی، هغه وويل، په څه شي باندې کافردی؟ خلکوورته وويل، په الله (ﷻ) کافردی، هغه په حيرانتيا سره وويل، ايا په نړۍ کې داسې څوك هم شته، چې هغه په الله تعالیٰ کافر وي ؟ نو هغه شخص د هغه حال دليدلو او اورېدلو له امله سخت خفه شو، خپله نس يې ونيو، کانګې يې وکړې او بېرته باندې ته ستون شو . ﴿ نوپر دوی څه شوي چې ايمان نه راوړي﴾. الانشقاق ۸۴: ۲۰

" اصمعي " وايي : يوه باندېچي د قرانکريم له يوه قاري څخه چې قرآن يې لوسته دا ايت واورېده : ﴿ د اسمان اوځمکې پر رب مې قسم چې دا دين داسې ريښتينی دی،لکه څرنګه چې ستاسوخبرې کول حقيقت لري﴾.الذّاريات ۵۱: ۲۳

نو کلیوال سړي له حیرانتیا سره وویل، سبحان الله ! څوك د دې لامل شوی، چې لوی رب دا لوړه کړې ده ؟ دې ته وایي پر الله تعالی باندې ښه ګومان او د خپل بادار د احسان، مهربانۍ او رحمت خواته سترګې اړول . له رسول الله (ﷺ) څخه په صحیح حدیث سره روایت دی چې وایي : (( زموږ رب خاندي)). نو یوکلیوال سړي وویل، موږ به دهغه رب له خیرڅخه نه بې برخې کیږو څوک چې خاندي . ﴿الله هغه ذات دی چې خلك ناهیلی شي، باران وروي﴾. الشّوریٰ ۴۲:۲۸

﴿ بېشکه د الله رحمت د ښېګڼو خاوندانوته نژدې دی ﴾. الاعراف ۷:۵۶

﴿ خبراوسئ ! بېشکه چې د الله تعالی مرسته نژدې ده ﴾. البقره ۲:۲۱۴

څوك چې داسلام د نومیالیو کارنامې او د تاریخ کتابونه ولولي، نو هرومرو به ترېنه دا راتلونکې څو پایلې او ګټې ترلاسه کړي چې :

۱ : د علي (رضي الله عنه) وېناده ،چې د انسان ارزښت د هغه په ښو کړنوکی دی، موخه یې دا ده چې په حقیقت کې د انسان ارزښت د هغه پوهه، ادب، عبادت، عزت اوښه خویونه دي، نه د هغه شکل او منصب.

﴿ تندی یې تریواومخ یې واړوه، له دې امله چې ړوند شخص "عبدالله ابن ام مکتوم " ورته ورغی ﴾.عبس ۸۰:۱

﴿ بېشکه چې مسلمان مریی له اصیل مشرك سړي څخه ډېرغوره دی که څه هم ـ دا مشرك ـ ستاسو ډېر خوښ شوی وي ﴾.البقره ۲:۲۲۱

۲ : د انسان مقام د هغه د هوډ، پاملرنې، هڅې او قربانۍ په کچه وي، شرافت اوعزت چاته وړیا نه ورکول کیږي . یو شاعر وایي، درنښت داسې مه ګڼه چې ګواکې هغه خرما ده او ته به یې خورې .

﴿ که له هغوی سره د وتلو اراده وی، نو څه تیاری به یي ورته کړی و﴾. التوبه ۹:۴۶

۳ : په خپله انسان کولای شي د الله تعالی په امرخپل تاریخ په خپله جوړکړي اوپخپلو ښو او بدو کړنوسره خپله کارنامه ولیکي .

﴿ د هغوی ټول مخکیني کارونه اوهغه چې وروسته ترې پاتې دي له یوې مخې لیکو﴾. یس ۳۶ : ۱۲

٤ : د بنده عمر ډېرکم وي، ژر له منځه ځي، ورته نه ښايي چې په ګناهونو، پرېشانیو، کړاوونواو خفګان کې يې تېرکړي .﴿ ژوند يې نه وي تېرکړی، خو د يو ماښام يا سهارپه اندازه ﴾. النّازعات ۴۶:۷۹

شاعر وايي : د بنده له پاره همدومره خفګان بس دی، چې د هغه ژوند تريخوي، هغه داسې چې کوم نېك کار يې نه وي کړی چې الله تعالـٰی پرې خوښ کړي .

د نېکمرغۍ ځو لاملونه :

۱ : نېك عمل : ﴿ هرنارينه او ښځينه چې د ايمان خاوند وي اونېك کار وکړي، نوهرومرو به موږ پاك ژوند ورپه برخه کړو﴾. النّحل ۹۷:۱۶

۲ : نېك عمله مېرمن : ﴿ ای زموږه ربه ! هغه ډول مېرمنې او بچې راکړې، چې د سترګوګاتې پرې يخېږي﴾. الفرقان ۷۴:۲۵

۳ : پراخه کور : رسول الله (ﷺ) به دا دعاء کوله (( ای الله زما په کور کې پراخي راولې )).

۴ : حلال کسب : رسول الله (ﷺ) وايي : (( بېشکه الله پاك دی، اوپرته له پاك شي نور څه نه قبلوي )).

۵ : نېك خويونه او له خلکو سره مينه او نرمي کول : ﴿ هرچېرته چې يم برکت به راسره وي ﴾. مريم ۳۱:۱۹

۶ : په نفقه کې له ډېرلګښت او پورڅخه ځان ساتل : ﴿ مؤمنان له اسراف او بخيلی نه ځان ساتي ﴾.الفرقان ۶۷:۲۵

﴿ خپل لاس غاړه کې مه ځوړندوه - بخيلي مه کوه - او مه يې بېخي اوږدوه - بد خرڅي مه کوه ﴾. الإسراء ۲۹:۱۷

***

## د نېکمرغۍ بنسټيز لاملونه

مننديه زړه، ذکرکوونکې ژبه او صبرکوونکی جسم هغه شيان دي، چې نېکمرغي پرې لاس ته راځي . شاعر وايي : دالله تعالىٰ شکر پرځای کول، د هغه ذکر کول اوپه ستونزو کې صبر کول په دغو کې د الله تعالىٰ له خوا نعمت او اجرشته .

که زه تاته دنېکمرغۍ په اړه د علماؤو علم، د پوهانو پوهه او د شاعرانو شعرونه راټول کړم، نو بيا هم ترهغه مهاله به نېکمرغي ترلاسه نه کړې، ترڅوتا د نېکمرغۍ د څکلو، لاس ته راوړلواو پلټنې کلک او ريښتينی هوډ نه وي کړی او د سعادت ـ نېکمرغۍ ـ د دښمن لاملونه دې له منځه وړي نه وي .قدسي حديث دی چې الله (ﷻ) وايي : (( څوک چې زما خواته په عادي توګه راروان شي، زه به هغه ته په منډه ورشم .

راز ساتنه او د کارونوښه سنبالول د بنده د نېکمرغۍ يو لامل دی . يوه قېصه ده، چې يو کليوال ته چا د خپل رازساتلو سپارښتنه وکړه او په بدله کې يې ورته لس ديناره ومنل، لږ وخت لا تېر نه و، چې کليوال د راز خاوند ته ورغی او د هغه پيسې يې بېرته ځکه ورکړې چې نور يې د هغه راز نه شو ساتلی او له راز ساتنې څخه تنګ شوی و، ځکه چې د راز ساتل ټينګښت، صبر، کلك هوډ ته اړتيا لري . ﴿ ته خپله د خوب قېصه خپلو ورونو ته مه وايه، که نه نو هغوی به درته څه دسيسه جوړه کړي﴾. يوسف ١٢:٥

د يوه انسان کمزوری اړخ دا دی چې خپل رازونه او دوسيې نورو ته ښکاره کړي، دا يوه پخوانۍ ناروغي ده چې د انسانانو په خټه کې پرته ده، ځکه نفس د رازونو بربنډول او له يوځای څخه بل ته د خبرو وړل راوړل خوښوي . د نېکمرغۍ له موضوع سره د دې خبرې اړيکه داده، چې څوک خپل رازونه نورو ته څرګندوی هغه به هرومرو پښېمانه، غمجن اوخفه وي .

" جاحظ " په خپلو ادبي ليکنو کې د راز ساتنې په اړه په زړه پورې ليکنې کړې، که څوک په دې اړه زيات څه غواړي، نود هغه ليکنې دې ولولي . په قرآنکريم کې د راز ساتنې په اړه راغلي : ﴿ بايد چې په کړنه او وينا کې دې ډېره نرمي وکړې اوهېڅوک پرتاسو خبرنه شي ﴾.الکهف ١٨:١٩

پورتنی ایت د رازساتنې په اړه دلیل دی . کوچی وایي داسې راز هم ساتم چې په هغې کې د ورمېږ وهل پټ وي .

***

## مه خفه کېږه، له خپلې ټاکلې نېټې څخه مخکې نه مړکېږې

﴿کله یې چې نېټه راشي بیابه یوه شېبه وروسته اووړاندې نه شي﴾. الاعراف۷:۳۴

پورتنی ایت د هغو بې زړه کسانو له پاره چې له خپل ریښتیني مرګ څخه مخکې څو ځله مري یوه ښه تسلي ده، دوی باید پوه شي چې هلته د مرګ یوه ټاکلې نېټه شته، چې وړاندې وروسته کېږي نه، که پېریان او انسانان سره راټول شي هېڅوک مرګ نه شي راوړاندې کولای او نه یې کوم بشروروسته کولای شي، دا په خپل ذات کې انسان ته ډاډ، استقامت او ارامتیا ورکوي . ﴿ او په ریښتیا چې د مرګ بې هوشي راغله ﴾. ق ۵۰:۱۹

پرهمدې بنسټ باید پوه شې چې له الله تعالی پرته په نورو پسې نښتل او له هغوی سره اړیکې د بد مرغی لامل ګرځي . ﴿ داسې هېڅ یوه ډله نه وه، چې له الله څخه یې هغه - قارون - ژغورلی وی، او نه هغه په خپله د ځان مرسته کولی شوه﴾.القصص ۲۸:۸۱

د امام " ذهبي " نامتوکتاب چې " سیر اعلام النبلاء "  د نومیالو کارنامې نومیږي او په درویشتو ټوکونوکې دی، لیکوال په دې کتاب کې د نامتوعلماؤو، خلفاوو، پادشاهانو، امیرانو، وزیرانو، شتمنو اوشاعرانو پېژندګلوي لیکلی، چې له پوره غوراو لوستلو وروسته له دغه کتابه تاته دوه مهم حقیقتونه روښانه کیږي.

لومړی: څوک چې له الله تعالی پرته په نورو شیانو، لکه، مال، اولاد، کسب او منصب پورې ځان ونښلوي، نوالله (ﷻ) به یې همدغو شیانوته وروسپاري، په پای کې به ورته همدا شیان د بدبختی، عذاب او د الله (ﷻ) له رحمت او برکت څخه د لرېوالي سبب وګرځي . ﴿ ښېشکه دغه  شیطانان هرومرو خپل ملګري د حق له لارې څخه اړوي اوکافران ګومان کوي، چې ښېشکه دوی سمه لارموندونکي دي﴾. الاعراف ۷:۳۰

د ببلګي په توګه فرعون او منصب يې، قارون او مال يې، اُميه بن خلف او سوداګري يې، وليد او زامن يې، دوی ته يوه شي هم ګټه ونه رسوله، بلکې نوره هم سخته شوه .﴿ پرېږده ما اوهغه ځوك چې مې يواځې پيدا کړی دی﴾.المدّثر۷۴:۱۱

ابوجهل او په قوم کې يې دبدبه، ابولهب او نسب يې، ابو مسلم او د هغه قدرت، متنبي اود هغه شهرت، حجّاج اوپه ځمکه کې يې غرور، ابن الفرات او وزارت يې، ( کوم يو ته دغه شيانوګټه ورسوله !؟ )

دويم : چاچې پرالله (ﷻ) ويارل، هماغه ذات ته يې خپل عمل ځانګړی کړ او ورنژدې شو په نېک عمل سره نوالله (ﷻ) به يې له نسب، منصب، اولاد اوتېر پرته عزت اوسرلوړي ورپه برخه کړي، لکه : بلال (رضي الله عنه) او اذان، سلمان (رضي الله عنه) او د آخرت فکر، صهيب (رضي الله عنه) اوقرباني، عطاء (رحمه الله) او د هغه علم . ﴿ الله د کافرانوخبره لاندې کړه اود الله خبره پورته شوه ﴾. التوبه۹:۴۰

***

## په " يا ذالجلال والاکرام " پورې ځانونه ونښلوئ !

د رسول الله (ﷺ) قول دی چې : (( په يا ذالجلال والاکرام پورې ځانونه ونښلوئ )). يعنې ډېرډېر يې ووایاست، همېشه والی پرې وکړئ، معنا يې داده، چې ای د لويی اوعزت څښتنه !

همدې کلمې ته ورته بلکې له دې څخه هم ستره "ياحّي يا قيّوم" ای تلپاتې ژوندی او سمووڼکی ذاته !! نو بنده ته بله لاره نشته پرته له دې چې الله (ﷻ) ته په يا (حّي ياقّيوم) باندې غږ وکړي، چغه ووهي چې خپل بريالیتوب اوخلاصون وګوري . ﴿ هغه وخت راپه زړه کړه، چې تاسوخپل رب ته د مرستې چيغې وهلې او ستاسو غوښتنه يې ومنله ﴾. الانفال ۸:۹

د مسلمان په ژوند کې درې ورځې داسې دي، چې هغه ورته د اختر ورځې وي . يوه هغه ورځ ده چې په کې پنځه وخته لمونځونه په جماعت سره ترسره کړی او ځان له ګناهونو څخه وژغورې ﴿ کله چې الله او پيغمبرخپل لور ته بلنه درکوي، نو بلنه يې ومنئ ﴾ . الانفال ۸:۲۴

بله هاغه ورځ ده چې له خپلې ګناه څخه په کې توبه وباسي او له ګناه څخه ځان پاک اوخپل پالونکي رب ته بېرته وګرځئ او بله ورځ هغه ده چې له

**خپل رب سره له ښې پایلې، نېك او قبول شوي عمل سره مخامخ شي . (( څوك چې له الله تعالیٰ سره په لیدو خوښیږي، نوالله (ﷻ) به دهغه ملاقات خوښوي)). الحديث**

**شاعر وايي : مامې خپلو هيلو ته د داسې يوه شخص زيرى وركړ، چې هغه د آخرت ورځ ده، د داسې كور، چې هغه نژدې دى او د داسې ورځې چې هغه تلپاتې ژوند دى .**

**ليكوال وايي: ما د اصحابو (رضي الله عنهم) تګلارې لوستې دي، ما د هغوی په ژوند کې پنځه داسې مسئلې پيدا کړې، چې له نوروخلکوڅخه هغوی ځانګړي کوي .**

**۱ : ساده، اسانه اوله ځان ښودنې څخه خالي ژوند، ساده کړنی، له لافو څخه ځان ساتل ﴿ موږ تاته لاراسانوو﴾. الاعلی۸۷: ۸**

**۲ : د هغوی علم زيات او عمل يې له علم سره يو ځای نښتی و، په علم**

**کې يې نه بېځايه خبرې او نه سختي وه . ﴿ په بنده ګانو کې يواځې علماء- دينپوهان- دي، چې له الله څخه وېرېږي ﴾. فاطر ۳۵:۲۸**

**۳ : د دوی په اند د زړونو کړنې د ځانونو د کړنو پرتله ډېرې غوره وي، له دې امله په اخلاص سره الله تعالیٰ ته ورګرځېدل، ورباندې باورکول، له هغه سره مينه، په زړونوکې ورڅخه وېره، دا ټول په کې موجود وو، په داسې حال کې چې دهغوی نفلي روژې اولمونځونه په عادي ډول وو، تردې چې دهغوی پرتله ځينې تابعين په نوافلو کې ډېر زيارخاوندان وو. ﴿ نوالله پرهغه څه پوه وچې د هغوی په زړونوکې وو﴾. الفتح ۴۸:۱۸**

**٤: د دنيا او د سامان د لږوالي غوښتنه، ددنيا له غولوونکي ښکلا څخه ځان لرې ساتل وو، چې په پای کې دغو عادتونو ورته هوساينه، ډاډ او نېکمرغي ورپه برخه کړه . ﴿ څوك چې د آخرت هيله من وي او د لاسته راوړلو له پاره يې هلې ځلې کړي وي، په داسې حال کې چې هغه د ايمان خاوند وي، نو د دغه کسانوهلې ځلې د الله په وړاندې منل شوي دي﴾. الإسراء ۱۷:۱۹**

٥ : هغوی د نورو نېکو اعمالو پرتله جهاد ته زیاته پاملرنه کړې وه، تردې چې جهاد یې ځانګړې نښه، بیرغ اوعلامه وګرځېده اوهغوی د جهاد په برکت خپل غمونه، پرېشانۍ او اندېښنې له منځه لرې کړي، ځکه په جهاد کې ذکر، عمل، قرباني اوحرکت شته اود الله (ﷻ) په لارکې مجاهد د نوروخلکو پرتله ډېرنېکمرغه د پراخې سینې اوخوشحاله نفس څښتن وي . ﴿ چا چې زموږپه لارکې هلې ځلې کړي دي موږ به هرومروخپله لار ورته وښایو، الله پاک د ښو کسانومل دی ﴾. العنکبوت۲۹: ۶۹

په قرآنکریم کې داسې حقیقتونه اوتګلارې شته، چې له منځه تلونکي او بدلیدونکي نه دي، زه غواړم یوڅو یې دلته د ساري په ډول ولیکم چې د یوه بنده د نېکمرغۍ او د هغه د فکر په راحت پورې تړاو لري، له دغو ریښتینو تګلارو څخه یوڅویې په لاندې ډول دي : څوک چې له الله پاک څخه مرسته وغواړي، نو الله (ﷻ) به ورسره مرسته وکړي : ﴿ ای مؤمنانو! که د الله د دین ملاتړوکړئ هغه به له تاسو سره مرسته وکړي اوقدمونه به موکلک کړي ﴾. محمد ۴۷:۷

اوڅوک چې ورڅخه غوښتنه وکړي، نوهغه قبلوي : ﴿ تاسوله ما نه غوښتنه وکړئ، چې زه یې ومنم ﴾.الغافر۴۰:۶۰

څوک چې ترې بخښنه وغواړي، نو بخښنه ورته کوي : ﴿موسیٰ (علیه السلام) له الله نه بخښنه وغوښته، نو الله ورته بخښنه وکړه ﴾. القصص۲۸:۱۶

اوڅوک چې ورته توبه وباسي توبه یې قبلوي : ﴿الله هغه ذات دی چې دخپلوبنده ګانوتوبه قبلوي ﴾. الشوری۴۲:۲۵

﴿ اوڅوک چې پرالله توکل وکړي هماغه یې بس دی ﴾. الطّلاق ۶۵:۳

او درې نورې داسې کړنې دي چې الله (ﷻ) یې خاوندانوته سزا په دنیا کې ورکوي .

۱ : له الله (ﷻ) څخه سرغړونه : ﴿ بېشکه ستاسو سرغړونه ستاسوپرخپلو ځانونو ده﴾. یونس ۱۰:۲۳

۲: له الله (ﷻ) سره چل ول او فریب کول : ﴿ د بدۍ چل په خپلو خاوندانو راګرځي ﴾. فاطر ۳۵:۴۳

۳ : له الله (ﷻ) سره د شوو ژمنو ماتول : ﴿ چا چې بيعت ـ ژمنه ـ ماته كړه، نو د خپل ځان په تاوان يې ماته كړه ﴾. الفتح ۱۰:۴۸

ظالم د الله تعالىٰ له پنجوڅخه نه شي خلاصېدلاى : ﴿ دا دى د ظلم له امله يې كورونه تشې كنډرې اووران پراته دي﴾. النمل ۵۲:۲۷

الله تعالىٰ د نېك عمل بدله په دنيا اوآخرت دواړو كې وركوي، ځكه چې الله تعالىٰ بخښونكى او شكور ذات دى . ﴿ الله پاك هغوى ته د دنيا ثواب او د آخرت ښې بدلې وركړې ﴾. آل عمران ۱۴۸:۳

ځوك چې د الله تعالىٰ اطاعت كوي، نو الله ورسره مينه كوي ﴿ په ما پسې راروان شئ، الله (ﷻ) به له تاسو سره مينه وكړي ﴾. آل عمران ۳۱:۳

كله چې انسان پوه شي، چې دا ډول اجرونه ورته شته، نوهغه خوښ او نېكمرغه شي، ځكه چې هغه له يوه داسې رب سره راكړه وركړه كوي، چې رازق او ښه مرستندويه ذات دى : ﴿ بېشكه چې الله تعالىٰ ښه روزي وركوونكى دى ﴾. الذّاريات۵۱: ۵۸ ﴿ برى نشته مګرد الله له اړخه دى﴾. الانفال ۱۰:۸

الله (ﷻ) بخښونكى ذات دى : ﴿ زه دهغوكسانوښه بخښوونكى يم، چې ماته رجوع كوي اوهغه توبه قبلوونكى ذات دى ﴾. طه ۸۲:۲۰

﴿ بېشكه چې الله پاك ډېر بخښونكى او مهربان دى ﴾. الزمر ۵۳:۳۹

الله پاک له خپلو دښمنانو څخه هرومرو د خپلو دوستانوغچ اخلي . ﴿ بېشكه موږ له مجرمانو څخه غچ اخيستونكى يو ﴾. السجدة ۳۲ :۲۲

سبحان الله !! الله پاک څومره د كمال اود لويى ښتن دى : ﴿ ايا د الله له پاره كوم سيال پېژنې ﴾. مريم ۶۵:۱۹

" شيخ عبدالرحمن بن سعدي " يوه ارزښتناكه رساله د " الوسائل المفيدة في الحياةالسعيدة " يعني د نېكمرغه ژوند له پاره ګټورې لارې چارې ترسرليک لاندې ليكلې، هغه په دغه رساله كې يادونه كړې، چې د نېكمرغۍ له لارو چارو څخه يوه دا ده، چې بنده د الله (ﷻ) هغو نعمتونوته وګوري په كوموكې چې نغښتي دى، نو دا به ورته څرګند شي چې د دغو پېرزوينو له امله له ډېروخلكوڅخه يې حال ښه دى اوبيا دې په پاى كې د الله تعالىٰ د هغې مهربانۍ

احساس هم وکړي، چې وربانديِ يې کړې ده . زه وايم، چې په ديني برخه کې هم لکه پنځه وخته په جماعت سره لمونځ کولوته پاملرنه، د قرآنکريم تلاوت، د الله (ﷻ) ذکر او د داسې نورو عباداتو په کولو سره چې نيمګړتيابه هم په کې وي له ډېرو خلکوڅخه يې شان لوړدی، ځکه دا يو داسې لوی نعمت دی، چې په نغدو نه اخيستل کيږي .

﴿ الله خپل پټ او ښکاره نعمتونه پر تاسو بشپړکړي دي﴾. لقمان ۳۱: ۲۰

" امام ذهبي " د يوه سترمحدث "ابن عبدالباقي" په اړه ويلي، يوه ورځ يې د بغداد په دارالسّلام جامع مسجد کې له لمانځه څخه وروسته دخلکو د وتلو پرمهال له هغوی څخه وغوښتل چې پاتي شي، نوپه هغوی کې يوهم داسې نه وچې په مسجدکې د پاتي کېدوهيله ولري، خو دا خبره ښه او بد دواړه اړخونه لري.

﴿ انسانانوته موپه خپلوډېرو نورومخلوقاتو بهتري ورکړې ده ﴾.الإسراء ۱۷: ۷۰

شاعر وايي : دا ټول خلك ساده دي او زه هم د دوی له ډلې څخه يم، خو نورتفصيل مه غواړه .

***

## لنډه دمه

" اسماء بنت عميس " (رضي الله عنها) وايي، چې ماته رسول الله ﷺ وويل : ايا زه تاته څوداسې کلمات ونه ښايم، چې د سختی په وخت کې يې ووايې، بيا ورته رسول الله (ﷺ) داسې وښودل : (( الله الله ربي لا اشرك به شيئا )) : الله،الله زما رب دی او بل هېڅ شی ورسره نه شريکوم . په بل روايت کې رسول الله (ﷺ) ويلي دي، چاته چې څه ډول انديښنه، غم، ناروغي، يا سختي ورسيږي اوبيا دا دعاء ووايي، (( الله زما رب دی شريك نه لري، نوسختي به يې لرې شي )). په دنيا کې ځينې داسې تياره راوستونکي کارونه شته، چې پر زړه باندې د تورو وريځو غلبلې راښکته کوي، که په دغه حالت کې بنده الله تعالٰی ته پناه يوړه، خپل کار يې ورته وسپاره، ځان ورته په مخ کې وغورځوي، په دې شرط چې هېڅوك ورسره شريك نه کړي، نوالله (ﷻ) به يې ستونزه هواره کړي اوکه يې په بې پروا زړه پورتنی دعاء وويله، نوبيا ډېره لرې ده چې ستونزه يې حل شي .

شاعر وايي : چې زموږ روحونه روغ رمټ پاتي شي، نو بيا موږ د هغه مال پروا نه لرو، چې له لاسه مو ورکړی وي، ځکه مال کسبي دی که الله تعالی نفسونه له تباهی څخه وساتي عزت بيا هم لاس ته راتلی شي .

***

## هغه چاته چې له کينه کښ نه وېره لري

١ : د " النّاس " او " الفلق " د سوروتونو لوستل اوپه عام ډول دعاګانې، لکه : ﴿ پناه غواړم له شره د حسد کوونکي، کله چې حسد ښکاره کړي ﴾.الفلق ١١٣:٥

٢ : له کينه کښو څخه د رازونوپټول . يعقوب(عليه السلام)خپلو زامنوته وويل: ﴿ په يوه دروازه مه ورننوځئ، په جلا جلا دروازو ورشئ﴾. يوسف١٢:٦٧

٣ : له کينه کښ څخه ځان ګوښه کول : ﴿ که پرما ايمان نه راوړئ نو له ماڅخه لرې شئ اومخه مې خوشې کړئ ﴾.الدخان٤٤:٢١

٤ : د شر د مخنيوي له پاره له کينه کښ سره ښېګڼه : ﴿ د بدی مخه په نېکی سره ونيسه﴾. فصّلت٤١:٣٤

***

## خلکوسره نېک چلېږه

پيغمبر(ﷺ) وايي : (( بېشکه بنده د خپلوښواخلاقوله امله د روژه تي او تهجد کوونکي مقام ته رسيږي )).

په بل حديث کې وايي : (( ايا زه په تاسوکې درته هغه خلك ونه ښايم، چې هغوی به د قيامت په ورځ ماته ډېر ګران او نژدې وي، هغوی په تاسو کې د ښواخلاقوڅښتنان دي )).

﴿ بېشکه چې ته ډېر لوړ خويونه لری﴾. القلم٦٨:٤

﴿خلکوسره ښې خبرې وکړئ﴾. البقره ٢:٨٣

عائشه (رضي الله عنها) د رسول الله (ﷺ) د خويونوپه اړه وايي : (( د پيغمبر(ﷺ) اخلاق قرآنكريم و )). ښه اخلاق اوښكلى مزاج هغه چاته چي الله پاک خيرغوښتى وي يوبېړنى نعمت دى، خو تېزي- ژرګرمېدل - يو روان عذاب دى .

***

## د بې خوبۍ او فكري ستومانۍ درمل

ځوك چې په بې خوبۍ اخته شي، نو څه به كوي ؟

١ : شرعي او مسنونه اذكار: ﴿ خبرشئ ! يواځې د الله په ذكرسره زړونه قراريږي ﴾. الرّعد ٢٨:١٣

٢ : د سختې اړتيا پرته د ورځې خوب پرېښودل : ﴿ موږ ورځ د كاراو ژوند له پاره پيدا کړې ده ﴾. النّبأ ١١:٧٨

٣ : د خوب تر وخته لوستل اوليكل كول : ﴿ ووايه اى ربه علم مې راډېر كړې ﴾. طه٢٠:١١٤

٤ : په ورځ كې په يوه ګټوركاربانډې بدن ستړى كول: ﴿ ورځ يې د ګرځېدو له پاره پيدا كړې ده ﴾.الفرقان٢٥:٤٧

٥ : د وېښوونكي او خوب تېښتوونكي څښاك لكه چاى او قهوې كمول.

شاعر وايي : موږ خپلو ملګرو ته د شپو د اوږدوالي فرياد وكړ، هغوى موږ ته وويل، زموږ شپې خو ډېرې لنډې دي دا له دې امله چې خوب د هغوى سترګې د پوره ډاډ اويقين له امله پټوي اوموږ ته د ګناهونو له امله خوب نه راځي .

د ګناه تريخوالى د طاعت دخوږوالي، د ايمان د خوښۍ او د نېكمرغۍ له خوند سره مخالف دى . ابن تيميه (رحمه الله) وايي : ګناهونه زړونه د توحيد په فضا كې له چكروهلوڅخه ايساروي. ﴿ ورته ووايه - اى پيغمبره - چې تاسو دقدرت په هغونښانوكې فكر وكړئ، چې په ځمكه اوآسمانونو كې دي ﴾. يونس١٠:١٠١

***

## د ګناهونوبدې پايلې

١ : د بنده او الله تعالیٰ په منځ کې پرده اوحجاب . ﴿ نه !هېڅکله نه، کافران به دخپل رب له ليدنې څخه به د قيامت په ورځ محروم وي﴾. المطففين۸۳:۱۵

٢: ګناه بنده له خپل خالق سره نا اشنا کوي . شاعروايي : کله چې د بنده عمل خراب شي، نو ورسره ګومانونه يي هم خراب شي .

٣ : دوامداره پرېشاني : ﴿ د هغوی د ـ نفاق- هغه ودانۍ چې د دوی په زړونو کې يې شک او ګومان پيدا کړی د تل له پاره شتون ولري ترڅوچې زړونه يې ټوټه ټوټه شي ﴾. التّوبه ۹:۱۱۰

٤ : وېره او تشويش : ﴿ موږ به ډېر ژر د کافرانو په زړونو کې ډار واچوو، ځکه چې هغوی له الله تعالیٰ سره شريك نيولی و ﴾ آل عمران ۳:۱۵۱

٥ : د ژوند سختي او تنګلاسي : ﴿ نو بېشکه په دنيا کې به ورته ژوند تنګ وي ﴾. طه ۲۰:۱۲۴

٦:د زړه سختي اوتياره :﴿دهغوی زړونه موکلک کړل﴾.المآئده ۵ :۱۳

٧ : د مخ تورېدل او د تندي ګونځی : ﴿ د چا چې دقيامت په ورځ مخ تور شو، هغوي ته به وويل شي چې ايا تاسوکفرکړی و؟﴾. آل عمران۳:۱۰۶

٨ : د خلکوبه ورڅخه په زړونو کې کرکه پيداشي: (( تاسو په ځمکه کې د الله ګواهان ياست )).

٩ : په روزۍ کې لږوالی : ﴿ که بني اسرآئيلو پر تورات، انجيل اوهغه قرآن چې اوس ورته د رب له لوري نازل شوی دی عمل کړی وای، نو پاس ـ له اسمان ـ او لاندې ـ دځمکې ـ له خواڅخه به يې خوراک کولای ﴾. المآئده ۵:۶۶

١٠: د رحمان ذات غضب، دايمان کمزوري، دغمونواو غميزو ډېرېدل: ﴿ نوځکه هغوی د يوه غضب له پاسه پربل غضب اخته شول﴾. البقره ۲:۹۰

﴿ د خپلو کړنو له امله يې پر زړونوباندې زنګ پراته دي﴾.المطففين ۸۳:۱۴

﴿ هغوی وايي چې زموږ زړونه په پردو کې تاو دي﴾. البقره ٢:٨٨

***

## روزۍ پسې ګرځه خو حرص مه کوه

په ځته کې چينجي ته الله تعالیٰ روزي ورکوي : ﴿ په ځمکه کې چې ځومره خوځنده دي د هغوی د ټولود روزۍ ذمه پرالله ده ﴾. هود ١١:٦

غفوراو شکور ذات مرغانو ته په ځاله کې روزي ورکوي, حديث شريف دی چې : (( که تاسو پر الله باندې سم باور وکړئ نو تاسو ته به روزي درکړي لکه څرنګه چې مرغانوته روزي ورکوي، سهارله خپلوځالوڅخه خالي ګېډه روانيږي او ماښام ښېرته ماړه راګرځي )).

ماهي ته په اوبوکې همدا د ځمکې اواسمانونو رب روزي ورکوي :﴿ الله روزي ورکوي خوهغه ته روزي نه ورکول کيږي ﴾. الانعام ٦:١٤

ته خو له چينجي، مرغۍ او ماهي څخه هوښيار يې، نوخپلې روزۍ ته مه خفه کېږه . زه ډېر داسې کسان پېژنم چې د نېستۍ، مزاج خرابۍ او پرېشانۍ يواځينی لامل يې همدا دی، چې هغوی له الله تعالیٰ څخه لرې پاتې شوي دي . په همدغه ډول کسانو کې به يو تن وګورې چې يوه ورځ به ښه شتمن، روزي يې ښه پراخه، په بدن روغ اود الله تعالیٰ په نعمتونو کې به يې ژوند وي، خو له دې سره سره به يې هم د الله (ﷻ) له بندګۍ څخه سرغړونه پيل کړي وي، د الله تعالیٰ بندګۍ او اطاعت ته به يې شا کړي وي، په لمانځه کې به يې بې پروايي شروع کړې وي، لوی لوی ګناوهونه به کوي، نو په نتيجه کې به الله تعالیٰ له دوی څخه د بدن روغتيا او د روزۍ پراخي واخلي په فقر، پريشانۍ اوغمونو کې به يې اخته کړي او ورځ په ورځ به يې ژوند تريخيږي، له يوه کړاوه به خلاص نه وي چې پر بل به اخته شي .

﴿ چا چې زما له دين څخه مخ واړوه، نود هغه ژوند به تنګ وي ﴾. طه ٢٠:١٢٤

﴿ داځکه چې الله پرچا لورېينه وکړي ترهغې يې ببرته ترې نه اخلي، ترڅوچې هغوی يې پرخپلوځانونو- د ناشکرۍ - په سبب بدل نه کړي ﴾. الانفال ٨: ٥٣

﴿ کومه غمیزه - کړاو- چې تاسوته در ورسېږده، نوستاسو د خپلولاسونو د کړنو پایله، اوالله له ډېرو ګناهونوڅخه تېرېږي ﴾. الشّوریٰ ۳۰:۴۲

﴿ ای پیغمبره ! ووایه چې ماته وحې شوې ده، چې که هغوی د اسلام په لاره سم شول، نوموږ به یې هرومرو په ډېرو اوبو خړوبه کړو﴾. الجن ۱۶:۷۲

یو شاعر وایي : ایا ته د لیلا پر حال ژاړې؟ حال دا چې هغه همدا تا په خپله وژلې ده ! نو ای قاتل عاشقه دارو دې شه !

***

## اهدناالصّراط المستقیم د لاربښوونې راز دی

نه به نېکمرغی ته برابرشي، نه به یې بیامومي، نه به یې په خوند پوه شي، پرته له هغه چا چې پرهغه نېغه لار روان شي د کومې لارې په یوه څنډه کې چې موږ محمد (ﷺ) پربښني یو او په بله څنډه کې یې د تلپاتو نعمتونو جنتونه دي .

﴿ هرومرو به ورته موږه نېغه لاره وښایو﴾. النّسآء ۶۸:۴

خو د دغې نېغې لارې لاروی به هلته نېکمرغه شي، چې د خپلې ښې پایلې اود خپل رب د ښو ژمنوپه اړه ډاډه وي، دخپل رب په فیصلوخوښ وي، د دغې لارې په ټاکلو یي زړه ډاډه او په دې عقیده وي، چې دی د دغې نېغې لارې په موندلو کې داسې لاربښود لري، چې هغه له هر ډول ګناهونواوبدو صفتونوڅخه پاك انسان دی، له خپل ځانه خبرې نه کوي، د بېلارو پر لاره نه ځي، خبره یې ټول مخلوق ته حجت اودلیل دی، الله تعالیٰ له هر ډول شیطاني وسوسو اوانساني تېروتنو څخه ژغورلی دی : ﴿ د هرچامخې اوشاته څارونکی پرېښتې دي، چې د الله (ﷻ) په حکم سره یې ساتنه کوي﴾. الرّعد ۱۱:۱۳

د دې لارې لاروي ځکه د نېکمرغۍ احساس کوي، چې په دې نظراوعقیده دي چې دعبادت کولو وړ حق ذات او په مخ کې یې ښه لاربښود شته دی، په لاس کې یې سپېڅلی کتاب په زړه کې یې د اسلام رڼا، اوپه فکر کې یې یوښه نصیحت کوونکی لري او له دې سره سره تل د الله تعالیٰ په طاعت کې بوخت او د خیر په کار کې ګړندي وي . ﴿ دا د الله پاك لاربښوونه ده چې په خپلوبنده ګانوکې یې چاته خوښه شي لار ورته پرې ښایي ﴾. الأنعام ۸۸:۶

شاعر وايي : ای زما د لارې ملګريه ! هغو تيارو ته چې تيارې ويل کيږي چېرته دي، بېشکه زما په زړه کې خود الله تعالىٰ نور- اسلام - شته او دا هغه څه دي چې زه يې ګورم . (صراط المستقيم) په حقيقت کې دوه لارې دي، يوه معنوي او بله حسي - ښکاره - لار، معنوي لار د ايمان او هدايت لار ده او حسي لارهغه د صراط پول دی، چې د جهنم له پاسه ابېنودل شوی دی . د ايمان لار هغه ده چې د فاني دنيا پر سرتېره شوې او د نفسي غوښتنو اوشهوتونوله اغزوڅخه ډکه او د آخرت لارهغه ده، چې د جهنم له پاسه تېره شوې اود بوټې په څېر اغزي لري، نوڅوك چې پر دنيوي لار له ايمان سره تېر شو، هغه به د آخرت د صراط په پول هم تېرېږي، چاچې د اسلام نېغه لار ومونډله او ورباندې عمل يې وکړ، نو بېشکه چې د هغه کس هر ډول انديښنې، غمونه او پرېشانۍ به له منځه ولاړې شي.

***

## لس مرغلرې، هغه چاته چې پاک ژوند غواړي

١ : د پېښنمي پرمهال د بخښنې غوښتو له پاره ناسته : ﴿ د شپې په وروستيو شپېبو کې بخښنه غواړي﴾. آل عمران ١٧:٣

٢ : د الله تعالىٰ په قدرتونوکې فکرکول : ﴿ دعقل خاوندان د اسمانونو او ځمکو په پيدايښت کې فکرکوي ﴾. آل عمران١٩١:٣

٣ : له نېکوخلکو سره ناسته ولاړه کول : ﴿ تسلي ورکړه خپل ځان ته له هغو خلکوسره چې سهار او ماښام خپل رب يادوي ﴾. الکهف ٢٨:١٨

٤ : د الله (ﷻ) ذکر: ﴿ الله ډېر ډېر ياد کړئ﴾. الاحزاب ٤١:٣٣

٥ : په عاجزۍ سره دوه رکعته لمونځ کول : ﴿ مؤمنان هغه خلك دي چې په عاجزۍ سره لمونځ کوي﴾. المؤمنون٢:٢٣

٦ : په تدبر او ژور فکر سره د قرآنکريم تلاوت : ﴿ ايا دوی په قرآنکريم کې فکر نه کوي ﴾. محمد٢٤:٤٧

٧ : په سخته ګرمه ورځ کې روژه نيول : (( زما د رضا له پاره خپل خوراك، څښاك او شهوت پرېږدي)).

۸ : په پټ ډول خیرات ورکول : (( په پټه توګه داسې صدقه ورکوي، چې کیڼ لاس یې پرښي لاس خبرنه شي )).

۹ : د مسلمان د ژوندانه له ستونزو څخه ستونزه لرې کول : (( چا چې له

یومؤمن څخه په دنیا کې ستونزه لرې کړه، نو الله تعالی به له هغه څخه د قیامت د ورځې له سختیوڅخه یوه سختي لرې کړي)).

۱۰ : له فاني دنیاڅخه بې پروایي اوپرهېز : ﴿ د آخرت ژوند غوره او تلپاتې دی﴾. الأعلی ۸۷:۱۷

هغه لس مرغلرې بشپړې شوې !!

د نوح (علیه السلام) د زوی له بدمرغی څخه یوه دا وینا وه چې : ﴿ زه به غره ته پناه یوسم چې له اوبو نه مې بچ کړي﴾. هود ۱۱:۴۳

که هغه د ځمکې او اسمانونو رب ته پناه وړې وای، نوهغه به ورته ډېر لوی، عزتمن او ښه ژغورونکی وی، او د " نمروذ " یوه بدبختي دا وه چې هغه ویلي و : ﴿ زه هم ژوندي کول کوم او هم مړه کول﴾. البقره ۲: ۲۵۸

نوهغه د دغې خبرې په کولو سره د داسې یوه کمیس اغوستلوهڅه وکړه، چې خپل یې نه و او یو داسې صفت یې په زور سره خپلوه چې هغه صفت ورته روا نه و، نو شرمنده، سپک او تاواني شو . ﴿ الله د آخرت او دنیا په عذاب اخته کړ﴾. النّازعات ۷۹: ۲۵

د نېکمرغی کُونجي یوه کلمه ده، د دې ملت میراث یوعبارت دی او د بریالیتوب جنډه یوه جمله ده، دغه کلمه، عبارت اوجمله ټول په دې کې راټول دي، چې ( لا اله الاّ الله محمد رسول الله ) یعنې له الله تعالی پرته بل د عبادت وړ څوک نشته او محمد (ﷺ) د الله تعالی استازی دی . د دې کلمې د ویونکي نېکمرغي دا ده چې په اسمان کې به ورته وویل شی : ﴿ هغه چاچې د محمد (ﷺ) په رېښتونی راوړل شوي پیغام یقین وکړ هماغه رېښتونی پرهېزګار دی﴾. الزّمر۳۹:۳۳

اوپردې کلمه باندې د عمل کوونکي سعادت ـ نېکمرغي ـ دا ده، چې د تباهی، پېغور، عیب او د قیامت ورځې له اورڅخه ژغورل کیږي .

﴿ الله به هغه کسان له عذاب نه خلاص کړي،چې پرهېزګاران وو﴾. الزّمر ۶۱:۳۹
او دې کلمې ته د بلونکي نېکمرغي داده، چې الهی مرسته به ورسره کیږي، د آخرت په ورځ به ښه بدله ويني او له کلمې سره د محبت کوونکي نېکمرغي په دې کې ده، چې د الله (ﷻ) په وړاندې به د لوړې پوړۍ او درنښت څښتن شي .

﴿ بېشکه چې عزت الله، دهغه پيغمبر او مؤمنانو لره دی﴾. المنافقون ۸:۶۳

بلال (رضي الله عنه) یو مریی و، خو کله يې چې دا کلمه ولوسته له برکته يې آزادي په برخه شوه : ﴿هغوی له تیاروڅخه رڼا ته راوباسي ﴾. البقره۲:۲۵۷

خو ابولهب سره له دې چې د اوچت نسب څښتن و (هاشمي و)، د دې کلمې له ويلو څخه يې ډډه وکړه، نو د يوه ذليل اوسپك انسان په حيث مړشو . ﴿ الله چې چا ته د سپکولو اراده وکړي بيا بل څوك ورته عزت نشي ورکولی ﴾. الحجّ ۱۸:۲۲

دا کلمه داسي اکسیر- یو ډول خاص درمل ـ دی، چې د فاني بشر ډېرې په سپېڅلو ايماني دنګوغرونو بدلوي . ﴿ په ريښتیا سره موږ دا قرآن نور او رڼا ګرځولی، چې موږ پرې خپلو بندګانو ته لارښوونه کوو ﴾. ۵۲:۴۳

تاچې آخرت ته شا کړه، نو بیا په دنیا مه خوشحالیږه، ځکه چې په دې حالت کې کلک عذاب تل ستا په لار کې وي، او د اور کړی او زولنې تاته سترګې غړوي : ﴿ مال مې راڅخه هېڅ دفاع ونه کړه، اوسلطنت ـ واک ـ مې هم له منځه ولاړ﴾. الحاقّه ۶۹:۲۸-۲۹

﴿ بېشکه چې رب ستا په څارنځي کې دی ﴾. الفجر۸۹: ۱۴

همدارنګه کله چې ته له بې نیازه او واحد ذات څخه مخ ګرځوې، نوپخپلو زامنوخوشحالي مه کوه، ځکه چې له همدغه رب څخه مخ اړول سراسر تاوان، سپکوالی اوشرمنده ګي ده .

﴿ هغوی په سپکاوي او تنګلاسی کې ګېرشول ﴾. آل عمران ۱۱۲:۳

کړنې چې دې خرابې وې بيا نو مال ته مه خوشحالیږه، ځکه چې بد کارونه د وروستۍ پايلې بربادي او د آخرت د ورځې د لعنت لامل هم دی .

﴿ د آخرت عذاب ډېر رسوا کوونکی دی﴾. فصّلت۴۱:۱۶

﴿ ستاسو مالونه او اولادونه ماته تاسو نه را نژدې کوي، پرته له هغه چا څخه چې ایمان یې راوړی وي او نېك كار كوي ﴾. سبا ۳۷:۳۴

***

## لنډه دمه

(( یا حيُّ یاقیُّوم برحمتك استغیث :ای د تلپاتې ژوند څښتن او قیوم ذاته ! یواځې ستا په رحمت سره له تا نه مرسته غواړم )).

له الله تعالیٰ څخه د دې دعاء په غوښتلوکی یو نا اشنا رازپروت دی . د حیات ـ ژوند ـ صفت د الله ټول کمالي ـ ذاتي ـ صفات او د قیومیت صفت، د الله (ﷻ) ټول فعلي صفات له ځان سره رانغاړي .

له همدې امله د ځینو علماووپه اند "حيّ او قيّوم " د الله تعالیٰ اسم اعظم ګڼل کیږي، دا داسې اسم اعظم دی چې کله له الله (ﷻ) څخه پرې غوښتنه وشي، نو قبلوي او هغه ورکوي . بشپړ ژوند هغه دی چې له هر ډول ناروغیواو دردونو څخه پاك وي، له همدې امله کله چې د جنتیانو ژوند جنت ته په ننوتلوسره پوره شي، نو وروسته له هغه به ورته خفګان، پرېشاني، غم اوهېڅ افت ونه رسیږي، د ژوند نیمګړتیا، کړنو ته زیان رسوي او د قیومیت سره مخالفت کوي، ځکه چې د قیومیت بشپړتیا د ژوند په کمال پورې تړلې ده، نوهغه ذات چې د بشپړاو پوره ژوند څښتن دی هېڅ مهال د کمال له صفت څخه خالي نه وي اوهغه ذات چې د (قیومیت) په صفت ستایل شوی وي، نوهغه له هېڅ ډول کړنې څخه کمزوری نه وي، نو ویلای شو چې د الله تعالیٰ د کمال، حیات او قیومیت صفتونه وسیله ګرځول د هغه څه په لرې کولو کې چې د حیات او افعالومخالف دي ډېراغېزمن دي . یوشاعروایي : قسم دی چې ناخوښ شیان له هغه اړخه نه پیدا کیږي، چې ته ورڅخه په وېره کې یې، ځان ورڅخه ساتې، اونه تاته خوښ شوی شیان له هغه لوري پیدا کیږی، چې ته یي هیله لرې، ډېرهغه څه چې خلك ترې په وېره کې دي نه پېښیږي، نو داسې اندېښنه څه په کارده چې هغه هېڅ ګټه نه لري .

***

## له روان حال سره روانيږه

کله چې ته يوستونزمن کار اسان وګڼې، نو هغه هم درته اسانيږي، اوکله چې له يوه شي نه ناهيلی شې، نو په دغه وخت کې ستا نفس ته په کار دي، چې په دې ايت سره خپله تسلي وکړي : ﴿ ډېر ژر به الله پاك له خپلوخزانوڅخه موږ ته څه راکړي اودهغه رسول به هم لوربينه راباندې وکړي، يوازې زموږهيله يوالله ته ده﴾. التّوبه ۹:۵۹

په يوه کتاب کې مې لوستلي، چې يوه کس له کړکۍ څخه ټوپ وهه، د چپ لاس په يوه ګوته کې يې ګوته وه د ټوپ وهلو په وخت کې يې ګوته د کړکۍ په يوه مېخ کې ونښته، له راپرېوتو سره سم يې د لاس ګوته له بېخه غوڅه شوه او په لاس کې يې څلورګوتې پاتې شوې، هغه د خپل ځان په اړه وايي، زه کله هم داسې فکرنه کوم چې ګواکې زما دا يو لاس څلورګوتې لري او يا دا چې ما دخپلو ګوتوله جملې څخه يوه ګوته له لاسه ورکړې ده، يواځې هغه مهال پوهيږم کله يې چې داغ را په زړه شي، که نه نو زما چارې په ښه توګه سرته رسيږي او نفس مې په هغه څه چې راته پيښ شول راضي دی او داسې وايم : (( دا د الله (جل جلاله) پرېکړه وه اوڅه چې هغه وغواړي هماغسې کوي )).

شاعر وايي : له اورڅخه سر مه ټکوه، ځکه چې په داسې کړنو جنايت کوونکي خوښيږي اوله سترګوڅخه به اوښکې بهيږي . زه يو داسې څوک پېژنم چې کيڼ لاس يې د يوې ناروغۍ له امله له بېخه غوڅ شوی، خو بيا يې خپل ژوند روان کړی، زامن هم لري او ښه موټروان هم دی، خپلې ورځنۍ چارې ښې پرمخ بيايي، داسې برېښی چې ګواکې الله (ﷻ) هغه يولاسی پيداکړی دی . (( ته په هغه وېش خوښ اوسه، چې الله تعالىٰ در په برخه کړی وي، نو ته به ترټولوخلکوشتمن اوسې )).

شاعر وايي : خپل نفس ته تسلي ورکړه هوسا به شي، ايا اوښکې له لاسه تللی قيمتي شی بېرته راګرځولای شی !؟

څومره د حيرانتياخبره ده چې موږ له خپل روان حالت او ژوند سره ولې ژر ځان برابرولای نشو!؟ پنځوس کاله مخکې زموږ په کور کې د خورما پزکی، د اوبو مشك "ژی" ختينه کټوه، کاسه او کوزه وه، خوزموږ ژوند او روزګار ورسره په ښه ډول روان و، ځکه چې موږ له خپله ژونده خوښ وو، ځان موحالاتو ته سپارلی و.

یوشاعر وایي : ته چې نفس څومره ښوشیانوته هڅوې، نوپه هماغه اندازه هڅیږي، خوکه لږ څه ورکړې هم قناعت کوي .

یوه ورځ د کوفې په جامع مسجد کې د دوو قبیلوترمنځ داسې شخړه پیښه شوه،چې دواړو خواوو تورې او غشي راوویستل، خبره دې ته ورسېده چې مرګ ژوبله رامنځته شي، په دې وخت کې یو کس له مسجد څخه ووته، چې سترمصلح او نامتوحلیم "أحنف بن قیس" پیداکړي، ګوري چې هغه په خپل کورکې میږه لوشي او یوه داسې جامه یې اغوستې چې لس درهم ارزښت یې هم نه درلود، د خوار او کمزوري جسم خاوند و، هغه شخص "احنف بن قیس" له هغې پیښې خبرکړ، خوهغې خبرې پر دغه مصلح انسان هېڅ اغېز ونه کړ، ان یو ویېښته یې هم ونه رپېده او نه ورته وارخطا شو، ځکه چې هغه له پیښو اوستونزو سره اشنا شوی و . هغه کس ته یې وویل، لږ ارام شه ! ان شاء الله چې خیردی دا وړه خبره ده، له دې وروسته ورته سباناری راوړل شو، سباناري ته داسې کښېناست چې ته به وایې ګواکې هېڅ خبره نه وي پیښه شوې، په سباناري کې ورته یوه ټوټه وچه ډوډۍ، د زیتونو تیل، مالګه او یوه پیاله اوبه راوړل شو، نو بسم الله یې وویله او په خوراك یې پیل وکړ . له خوراك څخه وروسته یې الله (ﷻ) وستایه او ویې ویل د عراق غنم، د شام غوړي، د دجلې اوبه او د مروې مالګه دا خو د الله تعالی ستر نعمتونه دي بیا یې خپلې جامې بدلې کړې، امسا یې راواخیسته او د پیښې ځای ته ورسېد، کله چې خلك خبرشول، ټولوخپلې غاړې وراوږدې کړې او خبرو ته یې غوږ شول، نو د روغې جوړې په اړه یې خلکو ته وینا وکړه، بیا یې له هغوی څخه وغوښتل چې خواره واره شي، له دې خبرې سره ټول خلك په خپله مخه ولاړل، نښته سړه او فتنه ورکه شوه . ډېر ځله داسې کېږي، یوځوان چې د پیوندي جاموا زوړ څادر ښتن وي د عزت څښتن شي .

په پورتنۍ قېصه کې څوعبرتونه دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي، لویې د جامو په ښایست او ظاهري ښکلا پوري اړه نه لري، د شیانو کمښت د بد مرغۍ نښه نه ده او همدا راز د سامانونو ډېروالی د نېکمرغۍ نښه نه ده .

﴿ کله چې انسان د رب له خوا وازمایل شي، نو پالنه او پېرزوینه یې وکړي بیا نو وایې چې زه رب وپاللم او کله یې چې بیا په سختی وازمایي، روزي یې ورکمه کړي بیا وایې زه خپل رب سپك کړم ﴾. الفجر ۸۹ :۱۵-۱۶

د انسان ارزښت په اوچتو صفتونو او الٰـهي ورکړو- ذهني شتمنۍ - کې وي، نه په لباس او ځېلۍ، نه يې په کور اومانۍ کې، بلکې د انسان درونDوالی - درنښت - په پوهه، زغم او عقل کې نغښتی دی . ﴿ بېشکه په تاسو کې الله ته پرهېزګار شخص عزتمن دی ﴾. الحجرات۴۹:۱۳

دا خبره زموږ له موضوع سره دا تړاو لری، چې نېکمرغي نه په زیاتي شتمنۍ، نه په ښکلې مانۍ او سرو سپينو کې شته، بلکې په ايماندار، خوشحاله او ځلانده زړه کې ده .

﴿ د هغوی مالونه او اولادونه بايد تا حيران نه کړي ﴾. التّوبة۹:۵۵

﴿ ای پيغمبره مؤمنانوته ووايه ! الله پخپل فضل او رحمت سره قرآن راولېږه، نو بايدچې دوی پرې خوښ شي، ځکه چې دا قرآن له ټولوهغوشيانو څخه غوره دی چې هغوی يې راټولوي ﴾. يونس ۱۰:۵۷

نوته خپل نفس الٰـهي پرېکړوته په تسليمېدو باندې اموخته کړه، ته څه کولای شې، که پرالٰـهي فيصلو اوبرخو باندې باور ونه کړې !؟ ايا ته د الله تعالیٰ له پرېکړوڅخه د ځمکې تل ته کوزېدای او يا اسمان ته په زينه باندې ختلای شې؟ هېڅکله نه! نو اوس چاره څه ده ؟ چاره دا ده چې موږ الله تعالیٰ ته ځان ور وسپارو او په پرېکړو يې خوښ شو! ﴿ هرچېرته چې ياست مرګ به دررسيږي که څه هم تاسو په برجورو قلاګانو کې ياست ﴾. النّسآء ۴:۷۸

زما په ژوند کې ډېره بده ورځ هغه وه چې ډاکتر راته وويل، ستا د ورور" محمد "(الله دې پرې ورحمېږي) لاس به له اوږې څخه غوڅيږي، دغه خبره زما په غوږونو د ټوپك د ډز په څېر بده ولګېده، خو له دې سره هم ما خپل ځان قابوکړ او د الله (ﷻ) په دغه قول مې خپل روح ارام کړ چې وايي : ﴿ هره غميزه د الله په امر سره سرته رسيږي اوڅوك چې پرالله ايمان لري، نوالله پاك به يې زړه ته لارښوونه کوي ﴾. التّغابن ۶۴:۱۱

﴿ د زغم خاوندانوته زېری ورکړه، هغوی داسې کسان دي، چې کله ورته کومه غميزه ورسيږي، نوهغوی وايي چې موږ ټول د الله يو او موږ الله ته ورځوو ﴾. البقره ۲:۱۵۶

نوپورتنيوايتونوکې ارامي، ډاډ، پوره خوشحالي او راحت نغښتی و.

پرته له دې چې تسلیم شواو باور ولرو موږ بله هېڅ چاره نه لرو. ﴿ آیا هغوی د یوه پرېکنده کار پرېکړه کړې ده، نوبېشکه موږ هم د خپل کاربنه پوخ تدبیرکړی دی﴾.الزخرف۴۲:۷۹
﴿الله پاك پرخپل کاربنه برلاسی دی﴾.یوسف۱۲:۲۱ ﴿ الله پاک چې کله د یوه کارپرېکړه کوي،نو هغه کارته وایي (شه) هغه بیا سمدلاسه وشي﴾.البقره ۲:۱۱۷

"خنساء النخعیه" (رضي الله عنها) ته د قادسیې په غزا کې په یوه وخت د څلورو زامنو د شهادت خبر ورکول کیږي، خوهغه پرته له دې چې د الله تعالی ثنا ووایي، دخپل بادار د پرېکړې، ښې کړنې او غورې ټاکنې شکرپرځای کړي، نور هېڅ نه وایي، ځکه چې دلته له هغه سره د ایمان او پوخ یقین په څېر مرستندوی شتون درلود، نو لازمه ده چې له دغه ډول مؤمن څخه به مننه کیږي، بدله ورکول کیږي او په دنیا اوآخرت دواړو کې به نېکمرغه وي، که په دغه غمیزه کې یې دا کار نه وی کړی، نو څه به یې کول ؟ بله چاره یې څه وه؟ ایا قهر، خفګان، نیوکه، له منلو څخه سرغړونه او په پای کې د دنیا اوآخرت بدمرغي !؟ نبوي وینا ده : (( څوك چې راضي شو، نو د هغه بدله هم د الله تعالی رضا ده او که څوك ناراضه شو، نود هغه جزا هم الهی غضب دی . دا ایت زمونږ د ستونزو او غمیزو ښه درملنه ده چې ووایو : ﴿ موږ ټول د الله یو، د هغه په اختیارکې یو اوبېشکه موږ هغه ته ورتلونکي یو﴾. البقره ۲:۱۵۶

زموږ پیل او پای یواځې هماغه ذات دی، هرڅه دهغه په لاس کې دي، موږ هېڅ واك اوتوان نه لرو، مګر هغه اندازه چې د هغه خوښه وي .شاعر وایي: زما خپل نفس چې د نورو شیانوڅښتن دی په خپله له منځه تلونکی دی، نو زه به په هغو شیانوچې له منځه ولاړ شي څرنګه وژاړم !؟

﴿ د الله له ذات پرته هرشی له منځه ځي ﴾. القصص ۲۸:۸۸

﴿ بېشکه ای پیغمبره! ته مړکیږې او دوی هم مړه کیږي ﴾. الزّمر ۳۹:۳۰

که په ناڅاپي توګه درته یو لړزونکی خبرراشي، لکه ستا د کورسوزېدل، د زوی مړینه، یا د مال ورکېدل، نوته باید مخکې له مخکې ورته چمتو اوسې، ځکه چې په هغه وخت کې نه خفګان او نه له الـهي پرېکړې اوبرخلیک څخه تېښته څه ګټه رسوي، نو په کارده چې د الله تعالی امر ومنې، پر وېش یې خوښ اوسې، څه چې درپېښ شول هغه ته غاړه کیږدې او د الله (ﷻ) ښې بدلې ته سترګې په لار اوسې، ځکه چې تاته په مخ کې بله لار نشته . هو! یوه بله چاره

هم شته خوهغه ډېره بده لار ده، درته وایم پام کوه چې پرې روان نه شې! هغه په پېښنو کې ستاغوصه کېدل، لړزېدل، وینه په جوش راوستل او بې واکه کېدل دي، نو ته به له دغو ټولوڅخه څه ګټه ترلاسه کړې! ؟ هېڅ هم نه، بلکې موضوع سرچپه کیږي د الله غضب، د خلکوقهر، د آخرت له اجرڅخه بې برخې کېدل اودرنده ګناه به تر لاسه کړې، خو له دغوټولوسره بیاهم درڅخه تللی شی بېرته نه راګرځي، نه به درڅخه غمیزه ورکه شي او نه به د الله تعالیٰ شوې پرېکړه بېرته ایساره شي .

﴿نو دوې دې یوه وسیله اسمان ته وغځوي، بیا دې پرې غوڅ کړي چې دغه پرې وشکیږي اوشخص مړشي یا دې ځان غرغره کړي، بیا دې وګوري چې ایا د هغه څه مخه نیولای شي چې د ده قهر یې راپارولی وي ﴾. الحج ۲۲:۱۵

***

## مه خفه کېږه! ستا د خفګان لامل به ژر پای ته ورسیږي

هرڅوک مري، ظالم وي که مظلوم، زورور وي که کمزوری، شتمن وي که نېستمن، داسې نه ده چې یواځې همدا ته به مرکېږې، له تانه مخکې هم ډېرخلك مړه شوي او له تا نه وروسته به هم مړه کیږي، نامتوتاریخ لیکونکي"ابن بطوطه" لیکلي دي، په شمال کې یوه هدیره ده، په هغې کې زر- ۱۰۰۰- پاچاهان ښخ شوي دي، په دغه هدېره کې پر یوه تخته باندې لیکل شوي دي، چې د پاچاهانوپه اړه له خاورې څخه وپوښته چې څه شول ؟ دلته ډېرې سترې ککرۍ له خاورو سره خاورې شوي دي .

د حیرانتیا خبره دا ده چې هره شپه اوهرسهار مرګ د انسان پرسر ولاړ وي، خو بیا هم انسان ورڅخه بې پروا وي اوګومان کوي چې ګواکې په دغو نعمتونو کې به تلپاتې ژوند ولري، ده له خپل حتمي برخلېك څخه چې د ده په څېرد هر ساه کښ برخلیك دی ځان بې پامه نیولی دی . ﴿ ای خلکو! له خپل رب نه وډارشئ ﴾. الحج ۲۲:۲

بېشکه چې د قیامت لړزه خورا درنه ده . ﴿ خلکوته خپل حساب نژدې شوی دی، خوبیاهم دوی په غفلت کې مخ اړوونکي دي ﴾. الانبیاء ۲۱:۱

کله چې الله (ﷻ) مخکیني قومونه هلاک کړل او قبیلې یې بربادې کړې او تېري کوونکې باندې او اوسېدونکي یې ونړول، نوالله پاک وویل :﴿ ای پېغمبره !

ايا ته له دغوهلاک شوو قومونو څخه کوم يو ګورې او يا يې هسې زېږپروی هم اورې﴾. مريم ۹۸:۱۹

شاعر وايي : ايا تاسو د " اندلس " يعني د اوسنۍ اسپانيې د اوسېدونکو په اړه څه خبر لرئ؟ د هغوی په داستانونوخو اوس د لارويانو کاروانونه خپل منزل لنډوي !!

***

## لنډه دمه

د ستونزو د لرې کېدومسنونه دعاءهغه دعاء ده چې دأُلوهيت او ربوبيت دواړه ډوله توحيدپه کې نغښتی دی اوهم د الله تعالیٰ د حکمت ـ رازپوهنې او عظمت ـ لويوالي ـ په صفتونوستايل شوی دی، دا دواړه صفتونه د الله تعالیٰ د بشپړقدرت، رحمت، ښېګڼې اوبخښنې صفتونوته هم ورننوتي دي. بله دا چې الله تعالیٰ د ځمکو، اسمانونو او د ټولومخلوقاتوپالونکی دی، نو دا هم د بشپړ ربوبيت صفت اوهم دالله (ﷻ) هغه عرش ثابتوي، چې د ټول مخلوق چت اوپه ټولوکې غوره مخلوق شمېرل کېږي . له بشپړ ربوبيت سره د الله (ﷻ) توحيد لازمي دی او معنا به يې دا وي، چې ستاينه، عبادت، محبت، درنښت، هيله، وېره، لويوالی او تسلمېدل پرته له الله څخه بل چا ته نه دي په کار، اومطلق لويوالی د الله (ﷻ) بشپړکمال ثابتوي، د هر نقصان او سيالۍ لرې کول ورڅخه لازموي، د الله (ﷻ) د حلم صفت، دهغه رحمت احسان اوپېدايښت څرګندوی، او د الله تعالیٰ لويوالی، يوالی اومحبت د زړه پوهه يا معرفت منځته راوړي، چې ورسره انسان ته دومره خوښي اوخوند ور په برخه کېږي، چې په پايله کې د هغه پرېشاني،غم اوکړاو له منځه يوسي، لکه يوه ناروغ ته داسې يوخبر ورسيږي، چې هغه يې خوشحالوي او نفس يې قوي کوي، په ناروغ کې د ناروغۍ د له منځه وړو توان پيدا کېږي، نوزړه ته خو د دغه ډول روغتيا شتون ډېر وړ او غوره وي .

***

## روحي ناقرارۍ څخه ځان وژغوره، ځکه چې د بد مرغۍ لارده

د "المسلمون" مجلې په (۲٤۰) ګڼه کې چې د (۱٤۱۰ هـ ق) کال په صفر مياشت کې خپره شوې، راغلي چې، اوس مهال د ځمکې پرمخ (۲۰۰) دوه

سوه میلیونه داسې کسان شته، چې هغوی د نفسي ناقراری په ناروغۍ اخته دي . دغې ناروغۍ نن سبا ټوله نړۍ له خطر سره مخ کړې ده ! بې‌شمېره خلك یې ځپلي او دا توپیرهم په کې نشته چې دا ناروغان د لوېدیځو هېوادونو دی او که د ختیځو، شتمن دی که نېستمن، بلکې دا یوه داسې ناروغي ده چې هرډول وګړي پرې اخته دي، چې ډېری وختونه یې پایلې ځانوژنه وي !!

ځانوژنه ځانګړي خلك، نومونه، پوړی او دولتونه په رسمیت نه پېژني، هو! یواځې دا ناروغي له مؤمنانوڅخه وېرېږي، (د ایمان پر خاوند یې زور نه رسیږي). ځېنې شمېرې خو دا څرګندوی چې د دغې ناروغۍ قربانیان په نړۍ کې دوه سوه ملیونوته رسېدلي دي، خو وروستۍ شمېرې دا څرګندوي، چې لږ ترلږه د نړۍ په هرو لسوکسانو کې یوتن پردغه خطرناکه ناروغي اخته دی . د دې ناروغۍ خطر دې کچې ته رسېدلی، چې یواځې د لوړعمرکسانو ته نه پېښیږي، بلکې کله نا کله دا ناروغي د مور په ګېډه کې پروت جنین - بچی - هم ګواښي !!

***

## روحي نا قراري د ځانوژنې دروازه ده

قرآني ایتونه : ﴿ خپل ځانونه مه وژنئ ﴾. النّسآء ۴: ۲۹

﴿ په خپلولاسونوځان مه وژنئ ﴾. البقرة ۲: ۱۹۵

خبري رسنیو داسې رانقل کړي، چې د امریکا د متحده ولایاتو پخوانی ولسمشر"رونالد ریګن" هم د نفسي نا ارامۍ پر ناروغۍ اخته شوی او لامل یې دا ښوول شوی، چې عمریې له (۷۰) کلونوڅخه اوښتی، له سختوعصبي فشارونو سره هم مخ دی او څوځله یې جراحي عملیات هم ترسره شوي دي .

﴿ تاسو چې هرچېرې یاست مرګ به دررسیږي اګر که په برجورو قلا ګانوکې هم اوسیږئ ﴾. النّسآء ۴: ۷۸

سربېره پر دې نوردېرنامتو کسان اوپه ځانګړې توګه د همدغې ناروغۍ ماهر ډاکټران هم په دې ناروغۍ اخته دي . د عربي ژبې شاعر" صلاح جاهین" وایي که دا د مرګ یواځینی لامل هم ونه ګڼو، نوهمدا ناروغي بلل کیږي او داسې هم ویل کیږي، چې" نابلیون بونابرټ" هم د همدغې ناروغۍ له امله په جلا

وطنۍ کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی . ﴿ په داسې حال کې يې ساه ګانې وځي چې هغوی کافران وي ﴾ . التّوبه ۹:۸۵

په دې اړه تل ماته هغه لړزونکی خبر راپه زړه کیږي، چې خبري سرچېنو خپور کړی او د نړۍ د زياتو ورځپاڼو په لومړنيومخپاڼو کې يې پورتنۍ برخه نيولي وه. دا خبر د هغې جرمنۍ مور د وحشتناك جرم په اړه و،چې خپل درې ماشومان يې وژلي وو، بيا وروسته څرګنده شوه چې د دې پېښې لامل دا و، چې هغه مېرمن په روحي ناروغۍ اخته وه او له دې امله چې له خپل اولاد سره يې بې کچه مينه درلوده، نو دا وېره ورسره پيدا شوه چې هسې نه بچې يې هم له دې عذاب اوستونزې سره لاس او ګرېوان شي، په کوم عذاب چې دا مېرمن اخته شوې وه، نوهوډ يې وکړ چې خپل درې واړه اولادونه د هغې په ګومان له دغې ناروغۍ څخه د تل له پاره د مرګ له لارې خوندي کړي !! همداسې يې وکړل او بيا وروسته يې خپل ځان هم ووژه !!

د روغتيا د نړېوال سازمان له شمېرو څخه دا په ډاګه څرګنديږي، چې دغې ستونزې خطري بڼه غوره کړې ده، ځکه چې پر ۱۹۷۳زيږديز کال په نړۍ کې ۳٪ سلنه خلك په دې ناروغۍ اخته وو، چې وروسته پر۱۹۷۸زيږديز کال دا شمېره ۵٪ سلنې ته لوړه شوه اوځينې ځېړنې دا هم څرګندوی، چې د امريکا د وګړو په هروڅلورو کې يوکس په دې ناروغۍ اخته دی !! دا په داسې حال کې ده چې د نفسي ناقرارۍ ناروغۍ په اړوند پر۱۹۸۱زيږديزکال په شيکاګو کې د جوړ شوي سيمينارمشرنظردرلود، چې په نړۍ کې سل ميليونه خلك په نفسي ناروغۍ اخته دي، چې اکثره يې په پرمختللوهېوادونوپورې تړاو لري، حال دا چې نورې شمېرې ښيي چې په دې ناروغۍ د اخته وو کسانو شمېر ( ۲۰۰ ) دوه سوه ميليونو ته رسېدلی دی .

﴿اياهغوی نه ګوري چې هرکال يو يادوه ځله ازمايل کيږي﴾. التّوبه ۹:۱۳۶

د پوهانوله ډلې يوه پوه ويلی دي، له ليموڅخه خوږ شربت جوړ کړه! يو بل وايي، هوښيار اوځيرك انسان هغه نه دی چې کولای شي خپلې مالي ګټې زياتې کړي، بلکې هغه څوك دی چې خپل زيانونه په ګټو بدل کړي . ﴿ پرهغوي به د الله رحمت او درود وي اوهمغوي لارموندونکی دي ﴾. البقره ۲:۱۵۷

يومتل دی چې وايي : له دېوال سره ډغرې مه وهه ! نو نچوړ دا چې ته له هغه چا سره کينه مه کوه،د چا له دښمنۍ څخه چې تاته څه ګټه او خيرنه

دررسيږي . شاعر وايې : کله چې ته د يوه کار توان نه لرې نوهغه پرېږده، بل داسې کار پيل کړه چې ته يې توان ولرې .  دا متل هم ويل شوی دی چې، وړه بيا مه وړه کوه . ﴿ الله پاك تاسوته دغم له پاسه غم درکړ، ترڅوپه هغه څه غمجن نه شئ، چې ستاسو له لاسه وتلي دي﴾. آل عمران ۱۵۳:۳

يعنې هغه کارونه چې پای ته رسېدلي او تر سره شوي دي په کار نه دي چې بيا تکرار شي، ځکه چې په هغه سره نفسي پرېشاني او ګډوډي منځته راځي او وخت هم په کې بربادېږي .

يوانګليسي متل دی، چې : د ارې بور مه اره کوه، يعنې د لرګي بور چې يو ځل اره شوی وي دوهم ځل يې بيا مه اره کوه، ځکه هغه پای ته رسېدلی، دا متل دوی د هغه چا په اړه وايي، چې په وړو او بې ارزښتو کارونوځان بوختوي او د تېر وخت غمونه او کړاوونه راپه يادوی .

يو شاعر وايې : ډېرداسې کاري فرصتونه شته چې کېدای شي وزګار خلك يې د ځينو کارونو په ترسره کولوسره ډك کړي، لکه، نېك عملونه، له خلکو سره ښېګڼه، د ناروغانوپوښتنه، هديرو ته تګ، د جوماتونو په کارونو کې پاملرنه، له خيريه ټولنو سره د خير په کارونو کې ونډه اخيستل، د کور او دفتر ترتيب، ګټوره بدني روزنه، کوندو، يتيمانو او بېوزلوسره مرسته اوداسې نور .

﴿ ببشکه ـ ای انسانه ـ ته خپل رب ته تر ورتګ پورې هلې ځلې کوې، نوله خپلو هلوځلوسره به هرومرو مخامخېږې ﴾. الإنشقاق۶:۸۴

يوشاعروايې : ما د نېکۍ او ښېګڼې په څېربل هېڅ څه ونه ليدل، چې خوند يې خوږ او مخ يې ښکلی دی . تاريخ ولوله، داسې کسان به ومومې چې هغوی غميزو، کړاوونواوغمونوځپلي دي .

زه به د دې موضوع د څوڅپرکو په پای کې تاته د غمځپلوخلکوپه اړه يوه لوحه دروښايم چې پرې ليکل شوي دي : غمځپلو ته ګوره او ځان ته تسلي ورکړه!

شاعر وايي : ته تاريخ ولوله ځکه چې عبرتونه په کې دي، له ځينوخلکو څخه له دې امله لار ورکه ده چې هغوی د نورو له حالاتونه خبر نه دي .

﴿ ای محمده ! موږ تاته دپیغمبرانوداستانونه په بشپړه توګه بیانووچې ستا زړه پرې ډاډه کړو﴾.هود ۱۱:۱۲۰

﴿ په رېښتیا سره د تېرو پیغمبرانو په قېصو کې پنددی﴾. یوسف ۱۲:۱۱۱

﴿ ته ورته دا قېصې بیانوه کېداي شي هغوی پرې فکروکړي ﴾ الاعراف ۷:۱۷۶

عمر(رضي الله عنه) وايي : چې هروخت پرما سهرشي، نو د الـٰهي فیصلو په اړه له خوښی پرته نورهېڅ مقصد نه لرم . د شعر یو بیت دی : چېرته چې د مصیبتونو خوښه وي ما دې هلته وغورځوي ځکه چې زه په شجاعت یا زړورتوب کې روزل شوی یم . مطلب دا چې زه پرالـٰهي پرېکړوخوښ یم، که هغه خوږې وي اوکه ترخې .

یو دینپوه وایي : زه د دې پروا نه لرم چې په دوو سپرلیو کې پر کوم یوه سپورشم، که نېستي وي صبر پرې کوم، اوکه شتمني وي نوشکربه پرې وباسم .

د نومیالي شاعر"ابوذویب الهزلي" اته زامن په یوه کال کې د وبا ناروغۍ له امله مړه شول، خوهغه هېڅ بې صبري ونه کړه، بلکې د ایمان له غوښتنې سره یې دالله تعالـٰی فیصلې ته ځان وسپاره، د غمیزې په اړه یې داسې وویل : زه په خپل قوت اواستقامت سره غواړم خپلوهغودښمنانوته، چې پرما خوښېږي دا ورښېیم چې زه د زمانې ستونزو ته هېڅکله غاړه نږدم، او کله چې مرګ خپلې منګولې خښې کړي، نو ته به وګورې چې له دې وروسته بیاهېڅ تعویذ ګټه نه رسوي . ﴿ غمیزه هېڅکله د الله له امره پرته نه پېښېږي ﴾. التّغابن ۶۴:۱۱

کله چې ابن عباس (رضی الله عنه) د سترګو لید له لاسه ورکړ، نوځانته د تسل په خاطروایي : که الله تعالـٰی زماد سترګو نور- لید- اخیستی دی نوخیردی، ځکه چې زما په زړه کې نور شته، زما زړه ځیرك اوهوښیاردی اوعقل مې کوږ نه دی او په خو له کې مې د تورې په څېر مشهوره غوڅوونکې ژبه شته . یعنې هغه په دې وینا سره ځان ته ډاډ ورکوي چې که الله (ﷻ) ورڅخه لږ څه کم کړي دي، خو پر ځای یې له نورو ډېرونعمتونوڅخه برخمن دی . د عروة بن زبیر(رضي الله عنه) له بدن څخه په یوه ورځ کې یوه پښه هم غوڅه شوه او یو زوی یې هم وفات شو، نو هغه وویل : ای الله ته د حمد او ثنا وړ یې، که تا راڅخه واخیستل، نو پر ځای دې ډېرشیان راکړي دي، که مصیبت دې رارسولی، نو پرځای دې

روغتیاهم راپه برخه کړې ده، تاراته څلوراندامونه راکړي وو، چې له هغوڅخه دې یو واخیست او څلور زامن دې را کړي وو، خو یو تا راڅخه واخیست .

﴿ د صبرپه بدل کي يې جنت اود ورېښمو کالي ورکړل ﴾. الانسان ۱۲:۷۶

﴿ د هغه صبرله امله دې پرتاسو روغتیا وي، چې تاسو زغملی و﴾.الرّعد۱۳ :۲۴

کله چې د " درید " ورور "عبدالله بن الصمّة " شهید شو، نو " درید " په څو بیتونو کې ځان ته د دې غمیزې له امله تسلي او ډاډ ورکوي، لومړی یادونه کوي چې له خپل وروړڅخه یې د خپل توان په اندازه دفاع وکړه، خو له الٰـهي فیصلې او قضا سره څه حیله او چل ګټه نه لري، نو د شعر په ژبه وایي : ما له هغه څخه د دښمن د اسونو په مقابل کې د توري اوغشو په ذريعه ترهغه مهاله دفاع وکړه، چې د دښمن اسونه په شا شول او دښمن ته د سختې ماتې مرګ او ژوبلې د وراړولو له کبله زه دهغوی په تکه توره وینه کې ککړشوم، دهغه چاپه څېر وجنګېدم، چې پرخپل ورور باندې په خپله ماتم کوي او په دې عقیده وي، چې انسان همېشه ژوندی نه شي پاتې کېدی، ما خپل درد او خفګان په دې قرارکړ چې ما هغه ته هېڅکله نه وو ویلي چې ته دروغ وایې او چې زما په توان څه پوره هېڅکله مې هم له هغه څخه نه دي سپمولي .

شافعي (رحمه الله) غمځپلو ته وایي : ورځې پرېږده هغه څه وکړي څرنګه یې چې خوښه وي، کله چې کومه الٰـهي پرېکړه وشوه، نوهغه د زړه له کومې ومنه، کله چې د کوم قوم په ځمکه څه الٰـهي فیصله منځته راغله، نوبیا هغه نه کومه ځمکه او نه یې کوم اسمان ایسارولی شي .

شاعر وایی : ډېری وختونه پرتا داسې غمیزې او ستونزې راغلی، چې په هغو کې الله تعالـٰی تاته خیرغوښتی و، خوته ناراضه وې ... ډېرځله موږ له مرګ څخه وېرېدلي یو، خوبیا هم موږ مړه نه شو. ډېرځله موږ د یوې غمیزې او ستونزې اټکل کړی چې دا به وروستنۍ پرېکړه وي، خو ګورو چې بیا پیل شي زوروه هم وي او دوامداره هم . ډېرځله داسې هم شوي چې موږ ته لارې تنګې او ستونزمنې شوي وي، وسایل راباندې بند شوي او له هر لوري له تیارو سره مخامخ شوي یو، خو چې وروسته ګورو د الله (ﷻ) مرسته، کامیابي، خیراو زېری موپه برخه وي! ﴿ای پیغمبره ورته ووایه چې الله پاك موله دغواونوروسختیوڅخه ژغوري﴾.الانعام۶ :۶۴

ډېرځله راته دا دنیا تیاره شوې ده، ځمکه له پراختیا سره سره او نفسونه راباندې راتنګ شوي، خوبیاهم په پای کې پرېمانه خیر، اسانتیا اوالـهي مرسته زموږ په برخه شوې ده . ﴿ که الله تاته زیان دررسوي نو له همدغه ذات پرته بل هېڅ څوك يې نه شي لرې کولی ﴾. الأنعام ۶:۱۷

هغه څوك چې په دې پوهیږي، چې الله (ﷻ) پرخپلو کړنو ښه برلاسی دی، نوهغه کس به د بل چا له کارڅخه څه ووېرېږي !؟ څوك چې په دې پوه شو، چې هرڅه د الله(ﷻ) دقدرت په وړاندې کمزوري دي، نوهغه به له نورو کمزورو څخه ووېرېږي؟ څوك چې له الله(ﷻ) څخه وېره لري، نوهغه به له نوروڅخه څرنګه ووېرېږي؟ حال داچې الله (ﷻ) وايي : ﴿ له هغوی څخه مه وېرېږئ او یوازې له ماڅخه ووېرېږئ ﴾. آل عمران ۳: ۱۷۵

قدرت او درنښت یواځې له الله تعالٰی سره دی، عزت د الله (ﷻ) دهغه د پیغمبر او مؤمنانو له پاره دی، مرسته او زورله همدغه الله (ﷻ) سره شته اوبس.

﴿ بېشکه چې زموږ لښکرې هرومرو برلاسې دي﴾. الصّآفات ۳۷:۱۷۳

﴿ بېشکه موږ به هرومر له خپلواستازو او مؤمنانوسره د دنیا په ژوند اوهغه ورځ کې هم مرسته کوو، په کومه ورځ چې ګواهان ودریږي ﴾. الغافر۴۰:۵۱

ابن کثیر(رحمه الله) په تفسیرکې یوقدسي حدیث رانقل کړی چې الله(ﷻ) وايي : (( زما دې پر خپل عزت او جلال قسم وي، که هربنده پرما باندې ځان وسپاره، نوکه ځمکه اواسمانونه ورته چل هم جوړکړي، نو زه به ورته د ځمکې او اسمان ترمنځ د وتلولاره اوخلاصون پیداکړم او زمادې پرخپل عزت او جلال قسم وي، چې کوم بنده په بل چا باندې ځان وسپاری، نو هرومرو به د هغه د پښنولاندې ځمکه وښویوم )).

ابن تیمیه (رحمه الله) وايي چې د (لاحول ولا قـوّة الاّ بالله) په واسطه درانه پیټي وړل کیږي، سترې غمیزې پرې ګالل کیږي اوښه حالت پرې ترلاسه کیږي، نو ای انسانه !! دغه کلمه کلکه کړه، ځکه دا د جنت له خزانو څخه یوه خزانه او د نېکمرغۍ یوه روښانه نښه ده، د هوسایني ښه تړون، د سینې د پراختیا او خوښۍ ښه لاره ده .

***

## استغفرالله ، بند قولفونه پرانيزي

ابن تيميه (رحمه الله) وايي : کله ناکله ماته يوه مسئله پېچلې شي، نو زر ځله زيات او کم استغفر الله ووايم، نو الله تعالٰی پرهغه ستونزمنه مسئله باندې ماته پوهېدل اسان کړي . ﴿ نوح (عليه السلام) وايي، قوم ته مې وويل، له خپل رب څخه بخښنه وغواړئ بېشکه چې هغه ډېرزيات بخښوونکی دی﴾. نوح ٧١ :١٠

د فکر د ارامولو يوه لار هم له ذوالجلال رب څخه د ګناهونو د بخښنې دعاء ده . ډېرځله يو زيانمن شی ګټور شي او هره الـٰهي پرېکړه ان که د ګناه په اړه هم وي د شرط د پوره کېدو په حالت کې د انسان په ګټه وي .

امام احمد(رحمه الله) په خپل مسند کې دا حديث رانقل کړی : (( الله تعالٰیٰ د بنده په اړه هېڅ داسې پرېکړه نه کوي، چې په هغه کې د بنده خير نه وي )).

له ابن تيميه (رحمه الله) څخه په دې اړه پوښتنه وشوه چې ان په ګناه کې هم ؟ په ځواب کې يې وويل هو! خوپه دې شرط چې توبه وباسي، پښيماني ښکاره کړي، له الله تعالٰی څخه بخښنه وغواړي اوعاجزي څرګنده کړي .

﴿ هغه وخت چې هغوی پرخپلوځانونوظلم کړی و تا ته راغلي وای، له الله نه يې بخښنه غوښتې وای او پيغمبر هم ورته بخښنه غوښتې وای، نوهرومرو به يې الله ښه توبه قبلوونکی اومهربان موندلی وی ﴾. النّسآء ٤:٦٤

"ابوتمام" د پراخۍ او تنګلاسی د ورځو په اړه په شعر کې وايي: څو کلونه په پراخۍ او پرېمانۍ کې تېر شول، خو دومره لنډ وو، لکه يو څو ورځې، له هغه څخه وروسته بيا د بېلتون ورځې راغلې، هغه بيا دومره اوږدې وې، لکه څو کلونه چې تېرشوي وي، بيا هغه کلونه اوخلك داسې تېرشول، لکه د خوب ليدل .

﴿ دا ورځې موږ د خلکوپه منځ کې اړوو را اړوو ﴾. آل عمران٣:١٤٠

﴿ په کومه ورځ چې قيامت ووينې داسې به وي، لکه په دنيا کې يې چې يومابښام ياسهارتېرکړی وي﴾. النّازعات ٧٩:٤٦

تاریخ داسې ستر خلك پېژني او په خپلو پاڼو کې يې ځای پرځای کړي، چې زه ورته ګوته په غاښ يم، هغوی به ستونزو او غميزو ته داسې هرکلی وايه لکه د باران ځاځکي يا د باد پستې څپې . د دغو ټولو خلکو په سرکې د ټول عالم سردار محمد (ﷺ) شمېرل کيږي، کله يې چې ابوبکر صديق ته په غار کې وويل : (( مه خفه کېږه الله موږ سره مل دی )) .

کله چې هغه (ﷺ) مدينې منورې ته د هجرت په هوډ روان و، له خپل ټاټوبي څخه وتلو ته اړشوی و، مشرکين ورپسې وو، نو په دغسې حال کې هم"سراقه" ته د روم د امپراطور "کسری" د طلايي بنګړو زېری ورکوي !

يوغيبي زېری و چې د غارخولې ته يې الٰـهي وحې راوړ، همدا غيبي زېری و چې دنيا ته يې ځانګړي رازونه راوړل، اود بدرپه غزا کې محمد (ﷺ) په خپله زغره کې ميدان ته راوځي او وايي : ﴿ ډېر ژر به دا ډله - کافران- ماتې خوري اوشا ته به تښتي ﴾ .القمر ۵۴:۴۵

شاعر وايی : ته چې کله د دښمن له ټولي سره مخامخيږې، نو ته ډېر زړور يې او تاپه سختو جګړوکې د جګړې اتلان روزلي دي .

د اُحد په غزا کې مسلمانانوته له مرګ ژوبلې پېښېدو وروسته رسول الله (ﷺ) خپلواصحابو ته وويل : زما شا ته ليکه ودرېږې، چې زه د خپل رب ثنا ووايم، يعنې لمونځ وکړم، دا وو نبوي همتونه چې د ستورو له غنچې سره ډغرې وهي او دا و نبوي هوډ چې غرونه لړزوي .

" قيس بن عاصم المنقري" چې په عربو کې مشهورحليم انسان شمېرل کيږي، يوه ورځ په داسې حال کې چې ځان يې په څادر کې رانغاړلی و له خپل قوم سره ناست او هغوی ته قېصه کوي، چې يوشخص ورته راغی او خبر يې ورکړ، چې زوی دې همدا اوس د فلانی ښځې د زوی له خوا ووژل شو، خوهغه له دې سره هم هېڅ ونه خوځېده او نه يې خپله قېصه ودروله، بلکې خپله خبره يې پای ته ورسوله، بيا يې وويل زما زوی ته غُسل او کفن ورکړئ او بيا يې ماته د جنازې د لمانځه خبر راکړئ ! ﴿ پرهېزګاران په سختيو، ناروغيو او جګړې کې صبر کوونکي وي ﴾. البقره ۲:۱۷۷

"عکرمه بن ابی جهل "(رضي الله عنه) ته د زنکدن پرمهال له خپلو ملګروسره چې زخميان وو د څښلو اوبه ورکړل شوې، نوهغه وويل، دا اوبه فلاني ته ورکړئ، ملګري يې وويل، حارث بن هشام ته يې ورکړئ، دوی ټول په

یوه غزا کې زخمیان شوي وو،په خپلوکې یې همدا اوبه یو بل ته استولې تردې پورې چې ټول شهیدان شول او اوبه پاتې شوې .

شاعر وايي : کله چې هغوی شهیدان کیږي، نو د شرافت د ترلاسه کولو له پاره یې وینه په جوش راځي او له پخوا څخه لا دهغوی له هیلوڅخه یوه هیله شهادت وه .

بل شاعر وايي : د دنیا مېړنی او یواځینی کس هغه دی، چې په دنیا کې پربل سړي اعتماد نه کوي .

***

## داسې فکر کوه چې خلك ستا په زیان دي، نه په ګټه

د ټینګ او پوخ عقل څښتن داسې وي چې له خلکو څخه زیان انګېري او د ګټې طمعه ورڅخه نه کوي، د خپل دریځ په ټاکلو کې په نورو خلکو تکیه نه کوي، ځکه چې خلك په ټولنیزډول له نورو سره په راشه درشه کې خپلې ځانګړې پولې لري، د قربانۍ او ونډې اخیستوپه اړه هغوی یوڅرګند واټن لري چې له هغه څخه تېری نه کوي .

" حسین بن علي " (رضی الله عنه) چې د رسول الله (ﷺ) د لور له خوا لمسی دی وژل کیږي، خوخلك پرې خوله هم نه خوځوي او نه دا پېښه غندي، بلکې چاچې شهید کړی و د خوښۍ له امله یې تکبیرونه - الله اکبر- او لا اله الا الله کلمه زمزمه کوله او دهغه (رضي الله عنه) سرغوڅونه یې لوی بریالیتوب بللو!! شاعرپه دې اړه وايي : ای د رسول الله (ﷺ) د لور زویه ! دوی ستا (مبارك) سرپه داسې حال کې راوړ، چې په خپلو وینوککړ و او دوی له دې امله چې ته یې شهید کړی وې د الله اکبرنعرې وهلې، هغوی په حقیقت کې ته نه یې وژلی، بلکې ستا په وژلو سره یې تکبیراوتهلیل - دتوحید کلمه - وژلې ده .

احمدبن حنبل (رحمه الله) د وخت ستر امام زندان ته راکش کیږي، سخت په دورو وهل کیږي، تردې چې مرګ ته نژدې و، خو چاهم ځان ونه خوځاوه .

ابن تیمیه (رحمه الله) د بندي په توګه په قچره سپور مصر ته وړل کیږي، خوهغه ستر ټولي چې بیا یې وروسته د هغه په جنازه کې ګډون وکړ په دغه وخت کې هېڅ غبرګون ونه ښود، ځکه چې خلك خپل ځانګړي اوڅرګند حدود